د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست

پښتو

نهم ټولگی

پښتو

نهم ټولگی

ل اخیستنه
ن کیږي.

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ. ش.

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست

پښــــتو

نهم ټولگی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ.ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مؤلفین:

څېړنپوه نعمت الله اندړ، څېړنوال سید محی الدین هاشمي
او د مؤلف مرستیال محمد سهراب دیدار

ایډیټران:

محمد زرین انځور، پوهنمل بریالی باجوړی

دیني، سیاسي او فرهنگي کمېټه:

- مولوي عبدالصبور عربي
- دکتور محمد یوسف نیازی
- حبیب الله راحل د پوهنې وزارت سلاکار د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې.

د څارنې کمېټه:

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین.
- دکتور شېرعلي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسوول.
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر گلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.

کمپوز او ډیزاین: صفت الله مومند

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هېواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه اسمان
په سینه کې د اسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې د وزیر پیغام

ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤولیت په ریښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، دوطن دوستۍ د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو مؤسسو او نورو دوستو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکلړ

شمېره	سرلیکونه	مخ
لومړی لوست	د لوی ښبنتن(ج) په نامه	۱
دویم لوست	د اسلام د ستر پیغمبر(ص) ستاینه	۴
دریم لوست	د ملي یووالي ارزښت او اړتیا	۹
څلورم لوست	ولسي نرخونه	۱۳
پنځم لوست	فعل : د جملې مهمه برخه	۱۷
شپږم لوست	کار او زیار	۲۵

اووم لوست	د اوبنکو ارزاني	۲۹
اتم لوست	ملي ارشيف	۳۳
نهم لوست	عادل واکمن	۳۷
لسم لوست	عبدالرؤف بېنوا	۴۱
يوولسم لوست	د ځنګلونو ارزښت	۴۷
دولسم لوست	لوبې او روغتيا	۵۱
ديارلسم لوست	ويکتور هوګو	۵۷
څوارلسم لوست	د بشر حقونه	۶۱
پنځلسم لوست	بلخي ابن سينا	۶۷
شپاړسم لوست	د کابل بالا حصار	۷۳
اوولسم لوست	بي بي زينب	۷۹
اتلسم لوست	کتاب او کتابتون	۸۵
نولسم لوست	د سولې نړۍ	۹۱
شلم لوست	قيدونه	۹۵
يوويشتم لوست	نشه ـ ستره بدمرغي	۱۰۱
دوه ويشتم لوست	پټه خزانه	۱۰۵
درويشتم لوست	مېرمن مستوره شال	۱۱۱
څلورويشتم لوست	د ماينونو شکمني سيمې	۱۱۷
پنځه ويشتم لوست	باميان يوه لرغوني تاريخي سيمه	۱۲۳
شپږويشتم لوست	سره مياشت	۱۲۷
اوويشتم لوست	صدرخان ختيک	۱۳۳
اته ويشتم لوست	د ولسي ادب ډولونه او ځانګړتياوې	۱۳۹
	وييپانګه	۱۴۵
	اخځليکونه	۱۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی لوست

د لوی څښتن ﷻ په نامه

■ څوک د ډېرو سترو صفتونو وړ او لایق دی؟

■ د تیرو ټولګیو د پښتو لوستونو په کتابونو کې مو د حمد تر سرلیک لاندې د چا ستاینې او صفتونه لوستلي دي؟

حمد په لغت کې ثنا او صفت ته وايي او په اصطلاح کې هغه منظومه وینا یا کلام دی چې د الله ﷻ ستاینه پکې شوي وي. اوس له تاسو څخه څوک کولای شي لاندې پوښتنو ته ځواب ووايي؟

موږ او تاسو د دې ټولګي د لوست پیل د((یونس خیبري)) په حمدیه شعر کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه ذات دی له آفته په امان ستا
هسې نښته دی صفات لره نقصان ستا
که په سل ژبې یې وایي تر قیامته
یو صفت به تمام نه کا واصفان ستا
له ازله قدیم ته یې بې زواله
ابدا سره هستي ده جاویدان ستا
د قیامت په سخت منزل به یې شفیع وي
چا چې لاس دی لګولی په قرآن ستا
فرښتې دې مقبدې پر خدمت شوې
د فرمان رسی په غاړه انس وجان ستا
چې په احسن تقویم باندې پیدا شو
دا عجب فضل عظیم دی په انسان ستا
له عدمه دې وجود د هستۍ ورکړ
په دا فضل دې شاکر دي بندګان ستا
چې دې خلاص کړ د زنار له سخته بنده
دم په دم دې شکر کاندې مسلمان ستا
امید وار د خدای ﷻ له فضله شه ((یونسه))!
ترکرمه پورې هیڅ دي ګناهان ستا

(یونس خیبری) زموږ د پښتو شاعرانو له ډلې څخه د دولسمې هـ . ق. پېړۍ نومیالی شاعر دی. د رحمان بابا د ادبي مکتب پیرو او د شعرونو دیوان یې چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډیز:

د الله جل جلاله ذات بې زواله او صفتونه يې ډېر زيات دي. صفتونه او ستاينې يې دومره ډېرې دي چې هيڅوک يې پای ته نشي رسولی. فرښتې او ملايکې، انس و جن د هغه ذات فرمان منونکي دي. انسان يې په ډېرې ښکلې ښېرې پيدا کړی چې دا يې پرې لوی فضل او احسان کړی دی. هيڅوک بايد د خدای جل جلاله له فضل او کرم څخه ناهيلي نشي. که هر څومره ګناه يې هم کړې وي، د خدای جل جلاله په فضل او کرم ښبل کېدای شي.

فعاليتونه

۱ـ د ښوونکي له لوستلو وروسته دې زده کوونکي متن په چوپتيا ولولي، بيا دې څو تنه د نورو په استازيتوب متن په لوړ غږ ولولي او نور زده کوونکي دې ورته غوږ ونيسي چې د کلمو سم تلفظ او د جملو د جوړولو ترکيب او ترتيب زده کړي.

۲ـ زده کوونکي دې په خپلو کتابچوکې له متن څخه د خپلې خوښې يو بيت له معنا سره وليکي.

۳ـ ښوونکی دې لاندې پوښتنه وکړي چې د زده کوونکو نظرونه د ځوابونو په ترڅ کې واوري:

- د الله تعالیٰ له بې شمېرو صفتونو څخه څوک د يو څو صفتونو په هکله خبرې کولای شي؟
- د لاندې بيت په هکله خپل نظر وړاندې کړئ:

د قيامت په سخت منزل به يې شفيع وي
چا چې لاس دی لګولی په قـرآن ستا

- زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي او هغوی ته دې دنده ورکړل شي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې ډلې زده کوونکي له متن څخه يو بيت ووايي او د بلې ډلې په استازيتوب دې يو زده کوونکی د هغه بيت معنا او مفهوم ووايي.

۴_ زده کوونکي دې د لاندنيو کلمو ضد کلمې په خپلو کتابچو کې وليکي او بيا دې هغه ضد کلمې په جملو کې هم وکاروي:

نقصان عظيم سخت اميدوار خلاص صفت

۵_ زده کوونکي دې پخپلو کتابچو کې د متن تش ځايونه ډک کړي:

- يونس خيبري زموږ د پخوانيو........................ له ډلې څخه دی.
- يونس د .... ادبي مکتب پيرو و.
- .... په لغت کې صفت ته وايي.

۶_ زده کوونکي دې لاندې بيت په نثر واړوي:

د قيامت په سخت منزل به يې شفيع وي
چا چې لاس دی لګولی په قرآن ستا

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه د ځينو هغو نعمتونو په هکله چې الله ﷻ خپلو بندګانو ته ورکړي دي، څو کرښې وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلام د ستر پيغمبر ﷺ ستاينه

■ تاسې د مخه کله نعت لوستلی یا اورېدلی دی؟

• نعت په لغت کې غوره او نيکې ستاينې ته وايي او په اصطلاح کې هغه منظومه او منثوره وينا ده چې د اسلام د ستر پيغمبر حضرت محمد ﷺ ستاينه او صفت پکې شوی وي.

• له تاسو څخه ځوک لاندې پوښتنو ته ځوابونه ويلای شي:

■ د نعت ويلو اصلي موخه او هدف څه وي؟

■ الله ﷻ پيغمبران د څه لپاره رالېږلي دي؟

■ موږ او تاسې د دې ټولګي په دويم لوست کې د ((ګوهر کاکاخيل)) ليکلی نعت لولو:



په دنیا د جهالت پردې خورې وې
په هر لورې د ګناه تورې تیارې وې
ضلالت او ګمراهۍ کې انسان غرق و
په حلال او په حرام کې نه څه فرق و
د چا و معبود آتش، د چا شجر و
د چا ستوری د چا سیند د چا حجر و
لوی آفت کې مبتلا ټوله دنیا وه
قام په قام اوکور په کور یوه بلا وه
خدای ﷻ راولیږه رحمت و خپل جهان ته
د رڼا لاره یې وښوده انسان ته
د باطل او د حق فرق یې ورعیان کړ
ټول عالم یې له باطل نه روګردان کړ
السلام والصلوة وایي ((ګوهر))
ته شفیع دده په ورځ شه د محشر

((خیرالحق ګوهر کاکاخیل)) د پښتو ژبې معاصر شاعر او د پښتونخوا اوسیدونکی دی. د نعتونو ډېرې غوره بېلګې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډیز:

هغه مهال چې پر ټوله نړۍ د جهالت او ناپوهۍ تپه تیاره خپره وه. بشریت په بې لاریو او خپل سریو سر و، د حق او باطل ترمنځ یې توپیر نشو کولای. د خدایﷻ نمانځنې ځای اور نمانځنې، بت نمانځنې او ډول ډول خرافاتو نیولی و. انسانیت له لویې تباهۍ سره مخامخ و، لوی خدایﷻ پر بشریت رحم وکړ. د هغوی د لارښوونې او رښتینې لارې ته د رابللو لپاره یې حضرت محمدﷺ د خپل استازي په توګه وګوماره. قرآن یې پرې نازل کړ. د ټول بشریت لپاره یې د دنیوي او اخروي نیکمرغۍ زیرې له ځان سره راوړ او بشریت یې له ګمراهۍ او تباهۍ څخه وژغوره.

فعالیتونه

۱ـ د ښوونکي له لوستلو او لازمو څرګندونو وروسته دې زده کوونکي متن په چوپتیا سره ولولي. بیا دې ښوونکی له څو تنو زده کوونکو څخه وغواړي چې متن د ټولګي پر وړاندې په لوړ غږ ولولي. نور زده کوونکي دې غوږ ونیسي.

۲ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي: یوه ډله دې د متن ((دري)) کلمې او بله دې د ((پښتو)) کلمې په خپلو کتابچو کې جلا جلا لست کړي. بیا دې له هرې ډلې څخه یو تن د نورو په استازیتوب د خپلې ډلې لست کړې کلمې د ټولګي په مخکې ولولي.

۳ـ ښوونکی دې له زده کوونکو وپوښتي چې:

- حضرت محمدﷺ په څه ډول حالاتو کې په پیغمبرۍ مبعوث شو؟
- حضرت محمدﷺ وګړي په څه ډول د اسلام سپېڅلي دین ته رابلل؟

۴ـ زده کوونکي دې متن په غور ولولي او په هغه کې دې ((متضادې کلمې)) په نښه کړي او بیا دې یې په جملو کې وکاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵_ ښوونکی دې په وار سره له زده کوونکو وغواړي چې د ټولګيوالو په مخکې د نعت مفهوم په خپله ژبه و وايي.

۶_ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته سم ځواب په پنسل په ☐ نښه کړي.

د اسلام ستر پیغمبر په داسې وخت کې په پیغمبرۍ مبعوث شو چې:

الف: په ټوله نړۍ کې امن و.

ب: په ټوله نړۍ کې د جهالت او ناپوهۍ تیاره خپره وه.

ج: بت نمانځنه او اور نمانځنه نه وه.

۷_ زده کوونکي دې د لاندې کلمو ((جمع کلمې)) په خپلو کتابچو کې ولیکي او بیا دې هغه په جملو کې وکاروي:

کور   لار   قام   انسان   ستوری

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې بلې ورځې ته د کورنۍ دندې په توګه څو داسې جملې راوړي چې پنځه واړه (ی) ګانې پکې کارول شوې وي.

هر څوک چې له نورو ښه ژباته پوهه لري، ارزښت یې هم له نورو ښه زیات دی.

(حدیث شریف)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم لوست

د ملي یووالي ارزښت او اړتیا

افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی. ګډ کلتور او فرهنګ لري او ټولو له خپل هېواد او ټاټوبي څخه په ګډه دفاع کړې او کوي یې . له ګډو ویاړلو کارنامو څخه برخمن او خپل ملي یو والی یې په هر حالت کې ساتلی دی.

دلته د ملي یو والي په ارزښت خبرې کو و. د مخه تر دې چې د ملي یو والي ارزښت دروپیژنو، دې لاندې پوښتنې ته ځواب ووایئ:

- که د یوې سیمې یا هېواد وګړي په خپلو کې ملي تړون او یو والی و نه لري له کومو ستونزو سره به مخامخ شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وګړي چې په يوې ټاکلې جغرافيوي سيمه کې اوسي، ګډ تاريخ، شريک فرهنګ، عنعنات او ملي وياړونه لري، ملت بلل کېږي. هر ملت له بېلا بېلو ميشتو قومونو او ولسونو جوړ دی چې ګډ برخليک لري او په يوه نامه يادېږي.

افغانستان د يو واحد ملت په توګه د ټولو افغانانو ګډ کور دی. ټول په دې سترکور کې زېږېدلي او رالوی شوي دي، نو بايد له يو بل سره مينه، په خپلو کې ژور تړون او ملي يو والی ولري او تر يوه بيرغ لاندې ژوند وکړي.

زموږ د هېواد ټولو اوسيدونکو د تاريخ په اوږدو کې ګډ ژوند لرلی، د خپلې خاورې او هېواد له ملي نواميسو او ځمکنۍ بشپړتيا څخه يې په ګډه ساتنه او دفاع کړې ده.

افغانستان پر هر افغان حق لري چې د ودانۍ، سوکالۍ، سراسري سولې، امن او ملي وحدت د ساتلو په لاره کې هر ډول سربښندنې ته چمتو وي.

د ملي يو والي د ټينګښت او تامين لپاره اړينه ده چې هر ډول توپيرونه له منځه يوسو او يو بل ته د ورورۍ غېږه پرانيزو او په ټولو ملي چارو کې د يو واحد ملت په توګه دريغ ولرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د نړۍ لوی او پرمختللي هېوادونه وګورو، نو وینو ټول هغه توپیرونه چې د دوی ملي یو والي ته زیان رسوي، له منځه یې وړي او پرځای یې په پوره یو والي، د پوهې او ټکنالوژۍ خواته مخه کړې ده . بشري او انساني کرامت ته یې په درناوي د ملي یو والي روحیه رامنځته کړې او د ((زه)) یا ((زه یم)) پرځای یې د ((موږ)) یا ((موږ یو)) مفکوره او روحیه روزلې او پاللې ده.

په یوه ټولنه یا هېواد کې د ملي یو والي په له منځه تللو سره هغه هېواد اوټولنه له سترې ګډوډۍ سره مخامخ کېږي چې د حق او رښتینولۍ خوا یې کمزورې، زور زیاتی او نابرابري پکې له یوې ورځې بلې ته زیاتیږي. د خوابدیو، خپل منځي شخړو او دښمنیو لمنه پراخیږي او په دې ترتیب بهرني دښمن ته د هر ډول لاس وهنې لارې چارې برابریږي.

موږ باید د خپل ملي یو والي په ارزښت او اهمیت پوه شو او په دې وپوهیږو چې زموږ د هېواد د ودانۍ، نیکمرغۍ او سوکالۍ راز په همدې کې نغښتی دی، نو د ټینګښت او ساتنې لپاره یې باید هر اړخیزې هلې ځلې وکړو. د ځاني ګټو او غوښتنو پر ځای ملي ګټې مقدمې او محترمې وګڼو. هغه عوامل باید له منځه یو سو چې زموږ د ملي یو والي بنسټونه کمزوري کوي او له منځه یې وړي.

د متن لنډیز:

ملي یو والی د هر هېواد د پرمختګ اوسوکالۍ لپاره ډېر ضروري دی، نو د ساتلو او ټینګښت لپاره یې باید هر اړخیزې هلې ځلې وشي. که په هېواد کې د ملي یو والي مزي سست او یا وشلیږي، نو هغه له سترو ګډوډیو او بدمرغیو سره مخامخ او بهرني دښمن ته د هر ډول لاس وهنې لارې چارې برابریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ د ښوونکي تر متن لوستنې او لا زمو څرګندونو وروسته دې زده کوونکي متن په چوپتیا سره ولولي. بیا دې څو تنه زده کوونکي د ټولګي په مخکې د متن هغه برخه ولولي چې د دوی ډېره خوښېږي.

- څو زده کوونکي دې دګډو دودونو په هکله ټولګیوالو ته خبرې وکړي.

۲ـ زده کوونکي دې د دې لاندې کلمو مترادفې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي:

ګډ　　　ستر　　　یووالی　　　ودانی

۳ـ یو زده کوونکی دې دا لاندې پوښتنې پر تخته ولیکي، نور دې دهغو ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکي:

- ملي یووالی څه ګټې لري؟
- بې اتفاقي څه زیانونه لري؟
- د ملي یووالي د ټینګښت لپاره څه شي ته ډېره اړتیا ده؟
- تاسو به له دې وروسته د ملي یووالي د ټینګولو لپاره څه کارونه سرته ورسوئ؟
- د ګرامر له مخې د سمې جملې له شمېرې څخه په پنسل کرښه چاپېره کړئ:

الف: افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی.

ب: افغانستان د ټول افغانانو ګډ کور دی.

ج: افغان د ټولو افغانانو ګډ کور و.

کورنۍ دنده

که تاسې د خپلې کوڅې، کلي او یا سیمې مشران او یا لوړ پوړي دولتي چارواکي شئ د ملي یووالي لپاره به څه وکړئ؟ په دې اړه یو څو کرښې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسي نرخونه

- ستاسي په کور، کلي او ولس کې چې د خلکو ترمنځ کومه ستونزه یا شخړه پیښه شي څنګه یې حل کوي؟
- په ولس، کور او کلي کې ځینې داسې وګړي پیژنئ چې خلکو ته د ورپیښو ستونزو په هکله پرېکړې او فیصلې کوي؟

زموږ په کلیوالو سیمو او ولس کې یو لړ داسې قوانین او اصول شته چې وګړي خپلې ستونزې او شخړې په هغو حل کوي. دا قوانین په کلیو او ولس کې د ټولنیزنظم د سمون لپاره له ډېرې لرغونې زمانې څخه دود دي. موږ دلته پر هغو باندې د پوهېدو په هیله تاسې ته دغه ولسي قوانین یا نرخونه په لنډ ډول درپېژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغان ولس بډای کلتور لري چې له ډېرو غوره دودونو او عنعنو څخه برخمن دی . دغه دودونه له پیړیو پیړیو را هیسې د خلکو د ټولنیز ژوند له بهیر سره مله راغلي دي. که د وخت او حالا تو په اوښتون سره پکې لږ و ډېر بدلون هم رامنځته شوی، بیا یې هم خپلې لرغونې ځانګړنې تر ډېره ساتلې دي . دوی د تاریخ په اوږدو کې د خپل قبیلوي او ټولنیز ژوند د سمبالښت او اداري لپاره یو لړ ټاکلي قوانین لرلي دي چې د پښتنو په کلتور او عرف کې هغو ته ((ولسي نرخونه)) وايي.

ولسي نرخونه په واقعیت کې یو لړ ولسي قوانین دي چې معمولاً زموږ کلیوال خلک د خپل ټولنیز ولسي ژوند په اړوند زیاتره حقوقي، جزایي او نور مسایل د هغو پر بنسټ حل و فصل کوي. دغه ولسي قوانین که څه هم په بېلا بېلو ټبرونو کې لږ و ډېر خپل منځي توپیرونه هم لري، خو په کُل کې بیا ټول ډېرې ګډې ځانګړنې لري چې هغه زموږ له لرغوني بډای کلتور څخه سرچینه اخلي او د ګډ کلتور استازیتوب کوي.

سره له دې چې له نرخونو سره د ولس هر وګړی لږ و ډېره اشنایي لري، خو په ټبر کې پر هغو د پوره پوهیدو او په ټولنه کې د پلې کولو لپاره یې ځانګړي کسان معلوم وي چې هغوی ته په ولس کې خلک ((مرکچیان)) یا ((نرخیان)) وايي.

کله چې په کلیوالي او ولسي ژوند کې چا ته کومه ستونزه او لانجه وریپښه شي، نو د حل لپاره یې دغو معلومو نرخیانو یا مرکچیانو ته مراجعه کوي او هغوی د یوې جرګې په بڼه رابولي. کله چې هغوی سره جرګه شي، نو پر اړونده موضوع له هر اړخیز بحث او غور وروسته له دغو ټاکلو نرخونو یا ولسي قوانینو څخه په کار اخیستنې یوه پرېکړه او حکم کوي. مقابل لوری اړوي چې هغې پرېکړې ته غاړه کېږدي. له پرېکړې څخه د سرغړونې په صورت کې د نغدي یا نورې جریمې په ورکړه اړګنل کېږي چې نوموړې جریمې ته (مچلغه) وايي.

له دغو نرخونو څخه د زور زیا تي د پیښو د مخنیوي او له زیانمن شوي لوري سره د ملا تړ او مرستې په برخه کې ډېر کار اخیستل کېږي. زموږ په هېواد کې د احمدزیو، وزیرو، مومندو او نورو نرخونه خورا مشهور دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرنګه چې ولسي نرخونه د کليوال ولسي او ټولنيز ژوند د سمبالښت او سمون لپاره اغيزناک نقش تر سره کولی شي، نو پر هغو د پوهيدنې او د يوې غوره عنعنې په توګه د ځينو ولسي نرخونو د ساتنې او پالنې لپاره بايد لازمې هڅې وشي.

د متن لنډيز:

پښتانه په کور، کلي او ولس کې د شخړو د هواري لپاره يو لړ ټاکلي قوانين لري چې ((ولسي نرخونه)) يې بولي. دغه نرخونه که څه هم په قبيلوي کچه لږ و ډېر توپير هم سره لري، خو بيا هم په عامه توګه ډېرې ګډې ځانګړنې لري چې دا زموږ د ګډ کلتور او ملي عنعنو استازيتوب کوي. ولسي نرخونه چې د ولسي شخړو او لانجو په حل و فصل کې ډېر مهم او بنسټيز رول لري، په ولس کې د معلومو کسانو له خوا معمولاً د جرګو په ترڅ کې په عمل کې پلي کېږي، دغو کسانو ته ((نرخيان)) وايي.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په چوپتيا سره ولولي. وروسته دې د متن يوه يوه برخه يو يو زده کوونکی په خپله خوښه د نورو په استازيتوب د ټولګي په مخکې په لوړ غږ ولولي.

۲ـ زده کوونکي دې په متن کې هغه کلمې په نښه کړي چې په ((ټ)) توري پيل شوي وي او هغه دې په مناسبو جملو کې وکاروي.

۳ـ زده کوونکي دې په دريو ډلو وويشل شي: يوه ډله دې په متن کې ((صفتونه))، بله ((نومونه)) او بله دې ((ضميرونه)) پيدا کړي اود هرې ډلې يو تن دې د نورو په استازيتوب هغه پرتخته وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴_ ځينې زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راوبلل شي چې د ولسي نرخونو پر ارزښت او اهميت خبرې وکړي.

- له ځينو زده کوونکو څخه دې وغوښتل شي چې د جرګې د عنعنې په اړه خپل نظرونه څرګند کړي.

۵_ د دې لاندې پوښتنو په لړ کې دې د درس د موضوع په اړه د زده کوونکو د پوهيدنې دکچې ارزونه وشي:

- ولسي نرخونه څه ته وايي؟
- څوک په ولس کې د پرېکړو واک او صلاحيت لري؟
- هغه څوک چې د نرخونو په وسيله په کور، کلي او ولس کې ستونزې او شخړې هواروي، خلک يې په کوم نوم پيژني؟

۶_ د سمو ځوابونو له شمېرې څخه په پنسل کرښه چاپېره کړئ:

الف: په ولس کې ستونزې او شخړې هر څوک هوارولی شي.

ب: په ولس کې ستونزې او شخړې يوازې ((نرخيان)) او ((مرکچيان)) حل کوي.

ج: هيڅوک يې نشي هوارولی.

کورنۍ دنده

که چېرې د زده کوونکو په سيمه کې کومه شخړه د جرګې په واسطه حل شوي وي د هغې په اړه دې معلومات تر لاسه کړي او د بلې ورځې په درسي ساعت کې دې خپلو ټولګيوالو ته پرې خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعل: د جملې مهمه برخه



ژبه انسان ته یوه الهي پیرزوینه ده چې په ټولنه کې د وګړو ترمنځ د پوهونې او راپوهونې لپاره ډېره مهمه وسیله ګڼل کېږي.

له ژبې پرته زده کړه په اغېزناکه توګه تر سره کېدای نشي.

ژبه له بېلابېلو غږونو څخه جوړه ده چې له همدغو غږونو څخه د کلمې بېلابېل ډولونه (لکه: نومونه، صفتونه، ضمیرونه، ادات، فعلونه او نور) جوړېږي. تاسې د هغو زیاتره ډولونه په تېرو ټولګیو کې لوستي دي. د کلمو له دغو بېلابېلو ډولونو څخه جمله جوړېږي.

فعل د جملې ډېره مهمه برخه ده چې له هغې پرته جمله نه جوړېږي، دلته یې درپېژنو:

فعل هغې کلمې ته وايي چې په يوه زمانه يا ټاکلي وخت کې د يوه کار يا يوې پېښې په کېدو يا د يوه حالت په راڅرګندېدو دلالت کوي.

يا فعل د وينا هغه مهمه برخه ده چې له هغې پرته جمله نيمګړې بلل کېږي.

د فعل ډولونه:

په پښتو کې فعلونه ډېر ډولونه لري او له ځو پلوه په بېلا بېلو ډولونو وېشل کېږي چې دلته يې ځينې ډولونه درپېژنو:

د معنا له مخې د فعل ډولونه:

فعل د معنا له مخې په دوو سترو ډولونو وېشل کېږي :

لازمي فعل او متعدي فعل

۱_ لازمي فعل:

هغه دی چې يوازې په فاعل پای ته رسيږي او مفعول نه لري.

لازمي فعل په تېره او نا تېره زمانه کې د جملې د فاعل لپاره ګردانيږي يا فعل له فاعل سره سمون او مطابقت لري، لکه:

پلوشه لاړه.

زيرک راغی.

زه ځم.

موږ ځو.

۲_ متعدي فعل:

هغه دی چې په جمله کې پر فاعل سربېره مفعول هم لري.

يا فعل په تېره زمانه کې د مفعول لپاره اوړون مومي (ګردانېږي).

دغه اوړون يې د شخص، عدد او جنس له پلوه ترسره کېږي، لکه په دې بېلګو کې:

بريالي خط وليکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد زه ولیدلم.

احمد موږ ولیدلو.

د زمانې له پلوه د فعل ډولونه:

فعل د زمانې له پلوه په درې ډوله دی:

یا په بله وینا: د فعل پېښېدل او د یو کار یا یو حالت واقع کېدل په درېو زمانو پورې اړه لري:

تېر مهال چې (ماضي) هم ورته وايي، اوس مهال چې (حال) يې بولي او راتلونکی مهال چې (مستقبل) يې نوموي.

دلته دا هر ډول په لنډه توګه درپېژنو:

۱ـ تېر مهال (ماضي) فعل:

هغه دی چې د یو کار ترسره کېدو یا د یوې پېښې له پېښېدو څخه په تېر مهال یا زمانه کې بیان کوي، دا لاندې ډولونه لري:

ـ مطلقه ماضي: ما خط ولیکه.

ما ډوډۍ وخوړه.

ـ استمراري ماضي: ما خټکی خوړ.

تا خط لیکه.

ـ نژدې ماضي: زه ورغلی یم.

دا راغلې ده.

ما لیک لیکلی دی.

ـ لیرې ماضي: ما لیدلې وه.

تا لیک لیکلی و.

دی ورغلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ احتمالي ماضي: مابه ليکلي وي.

تا به خوړلي وي.

ښايي ما به ليکلي وي.

ګوندې ده به ليدلي وي.

۲ـ د حال فعل:

هغه فعل دی چې په اوسنۍ زمانه کې د يو کار يا يو حالت په ترسره کيدو دلالت کوي.

دا فعل د فعل په ريښې پورې د فاعل د روستاړو (م، ې، و، ئ، ي) په نښلولو سره جوړيږي، لکه:

زه ليکم.

زه ځم.

ته ليکې.

ته ځې.

ته راځې.

موږ ځو.

موږ راځو.

تاسې ليکئ.

تاسو ځئ.

تاسو راځئ.

دی ليکي.

دی ځي.

دی راځي.

دوی ليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی ځي.

دوی راځي.

د حال فعلونه دا لاندې ډولونه لري:

مطلق حال:

هغه فعل دی چې په اوسنۍ زمانه کې د یو کار سرته رسېدل په عادي او مطلق ډول بیانوي او دکار دوام ونه لري، لکه:

ډوډۍ مې وخوړه.

خط مې ولیکه.

استمراري حال فعل:

د یو کار سرته رسیدل په اوس مهال کې د دوام په حال کې بیانوي، لکه:

باران وریږي.

لیک لیکم (یعنې د لیکلو په حال کې یم.)

التزامي (احتمالي) حال:

په اوسنۍ زمانه کې د یو کار پېښېدل د تمنا، شرط او شک په ډول بیانېږي، لکه:

ښایي لاړ شم.، کاشکې راشي.

امر فعل:

هغه دی چې د یو کار د سرته رسولو غوښتنه کوي، لکه: لاړ شه!، لاړشئ، راشه!، راشئ،کښېنه.

کښېنئ.

وخوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخورئ او نور.

نهی فعل:

د يو کار نه کولو هيله او غوښتنه کوي، لکه: مه ځه، مه ځئ، مه راځه، مه راځئ.

۳_ مستقبل فعل:

هغه فعل دی چې په راتلونکې زمانه کې د يو کار د سرته رسولو يا د يو حالت په بيانولو دلالت کوي.

په بله وينا: په راتلونکي زمانه کې د يو کار کېدل څرګندوي.

مستقبل فعل له اوس مهال (حال) فعل څخه د (به) ادات په زيا تولو جوړېږي، لکه:

زه به وليکم.

ته به وليکې.

زه به وښنم.

ته به وښنې.

دوی به وخوري.

تاسې به وخورئ.

مستقبل فعل دوه بنې لري:

بشپړ، لکه:

و به ليکم، و به ليکې.

مجهوله بڼه، لکه: و به ليکل شي، و به کښل شي.

نابشپړ، لکه:

ليکم به ، ليکو به، .

مجهوله بڼه، لکه: خوړل کېږم به، غورځېږم به.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډیز:

فعل هغه کلمه ده چې په یوه زمانه یا ټاکلي وخت کې د یو کار یا یوې پېښې په کیدو دلالت کوي. له فعل پرته جمله نه جوړېږي او نیمگړې گڼل کېږي. فعل ډېر ډولونه لري. د معنا له مخې یې مهم ډولونه لازمي او متعدي دي.

د زمانې له مخې په تېر مهال یا ماضي فعل، اوسمهال یا حال فعل او مستقبل یا راتلونکی فعل باندې وېشل کېږي چې دا هر یو ځانته نور بېل بېل ډولونه هم لري.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په چوپتیا سره ولولي، بیا دې څو تنه د نورو په استازیتوب د ټولگي په وړاندې متن په لوړ غږ ولولي. نور زده کوونکي دې په ځیر سره غوږ ونیسي.

۲ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي، هره ډله دې څو فعلونه په نښه کړي. بیا دې د یوې ډلې استازی په نښه کړي فعلونه پر تخته ولیکي، د بلې ډلې استازی دې هغه د اشخاصو له مخې په جملو کې وکاروي.

- په لاندې جملو کې د زمانې په لحاظ کوم فعلونه راغلي دي، په مقابل کې یې نوم په پنسل ولیکئ.
- زه پرون ښار ته تللی وم.
- زلمی لیک لیکي.
- زلمی به ډوډۍ وخوري.
- ما ډوډۍ خوړلې ده.
- ته به ښوونځي ته لاړ شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايئ:

۳ـ که چېرې په ويناکې فعل ونه کارول شي، څه ستونزه به پېښه شي؟

- د فعل له لوست څخه مو څه ګټه تر لاسه کړه؟
- لازمي او متعدي فعلونه څه توپير لري؟

۴ـ د دې لوست کومه برخه مو خوښه شوه؟ خبرې پرې وکړئ.

۵ـ په لاندې جملو کې لا زمي او متعدي فعلونه په پنسل په نښه کړئ:

- محمود احمد ته وويل:

زه کور ته نه شم تللی، پلار ته مې ووايه چې مور ته مې درمل راوړي.

- زه چې کور ته تلم په لاره کې يوې ماشومې په چېغو چېغو ژړل. ما پوښتنه ترې وکړه چې ولې؟ هغې را ته وويل: پر لاره وغورځېدم.

۶ـ دا لاندې جملې د فعلونو په مخکې او وروسته کولو سره سمې کړئ او سمه بڼه يې په خپلو کتابچو کې وليکئ:

- زه تللی وم ښوونځي ته.
- ما ليکلی و ليک په ښوونځي کې.
- ما خوړلی وه په کور کې ډوډۍ.

۷ـ دې لاندې پوښتنو ته ځواب ووايئ:

- فعل د زماني په لحاظ په څو ډوله دی؟ نمونه يې واخلئ.
- که چېرې په يوه جمله کې زمانه بدلون ومومي، په فعل کې څه بدلون راځي؟
- له متن څخه پنځه فعلونه وټاکئ او د هغو لپاره نوې جملې جوړې کړئ.

کورنۍ دنده

څو داسې جملې دې وليکي چې د اشخاصو او زمانې له مخې پکې فعل کارول شوی وي. په راتلونکي درسي ساعت کې دې د ټولګيوالو په وړاندې ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار او زیار

دا نړۍ پر کار ودانه ده او د انسان دکار، زیار او عمل یو پراخ ډګر دی. هغه خوک پکې په نیکمرغۍ او بریالیتوب ژوندکولی شي چې دکار د پیاوړی ځواک لري او په اغېزناکه توګه ترې ګټه اخلي.

■ که د یوې ټولنې وګړي کار ونه کړي او زیار ونه باسي، پخپله او ټولنه به له کومو ستونزو سره مخامخ شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دانساني ژوند ارزښت په کار او زيار کې نغښتی دی . په دې خاورينه نړۍ کې چې وګړي د ژوندانه د وسيلو د تر لاسه کولو او برياليتوب لپاره هلې ځلې کوي، هغه څوك ښه پرمختيا کولی او درنښت موندلی شي چې دکار اوزيار په ځواك خپل شته والی وساتي اوپه دې وسيله ځان دزمانې له زيانونو څخه وژغوري . که څوك دخپل کار دسرته رسولو لپاره متې راونه نغاړي، کار او هڅه ونه کړي، ډير ژر به يې بدن بې ځواکه، اوکمزوری شي.

کار دبدن توان او ځواك زياتوي، روح پاك او پياوړی کوي.

په ژوندانه کې هغه څوك بريالی دی چې ځواکمن بدن لري. بې کاري تر ټولو ستره بلا ده. که يو څوك هر څومره بډای هم وي ، بايد له کار اوزيار څخه لاس وانه خلي، ځکه چې کار دژوندانه د هلو ځلو کارنده وسله ده اوبيکاري بدن بې ځواکه کوي . وګورئ که اوسپنيز ماشين هم دڅه مودې لپاره بيکاره پاتې شي، اوسپنې يې زنګ خوري اوکه هغه هرڅومره کلکې هم وي، دوخت په تېرېدو سره ماتيږي. که انسان هم خپل ژوند بيکاره تېروي، د وجود ماشين يې سست او ورو ورو له کاره لويږي. دغسې وګړي هيڅکله هم له ژوندانه څخه خوند نه شي اخيستلای.

دامو بايد په ياد وي چې يوازې په يو کار پسې مخه کول او هغه ترلاسه کول کافي نه دي، بلکې هر څوك چې کوم کار تر لاسه کوي، په دې هڅه کې دې وي چې په هغه کې ورځ په ورځ ځواکمن او ښه پرمخ لاړشي او نوې تجربې پکې تر لاسه کړي .

هغه څوك چې دپانګې اوپيسو دنشتوالي په پلمه په کار پسې نه ګرځي، ډ يره لويه غلطي کوي. ځکه چې دهر چا رښتينې پانګه دهغه دبدن جوړښت، يعنې لاسونه، پښې، غوږونه، سترګې، عقلي، فکري او بدني ځواك دی چې ددغې خدایﷻ ورکړې پانګې په سمې کار اچونې سره انسان هر څه کولی شي.

وايي چې يو غريب ديو هوښيار سړي په وړاندې له خپلې غريبي او بې وزلۍ څخه شکايت وکړ. هوښيار ورته وويل: غواړې چې سترګې ونه لرې اودلس لکو افغانيو خاوند اوسې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریب وویل: نه!

هوښیار سړي ورته وویل: ښه چې داسې ده، نو ته پخپله ډېره لویه پانګه لرې، دې ته نه يې چمتو چې له هغو څخه يوه د لس لکو افغانيو په بدل کې وپلورې، نوله غريبۍ او بېوزلۍ څخه ولې ګيله اوفرياد کوې؟ خپله همدغه پانګه دې په کار واچوه، باور لرو چې له دې بې وزلۍ او غريبۍ څخه به ډېر ژر خلاص شې.

کله چې له کاره ستړي شئ، دمه وکړئ، خو بيکاره مه ګرځئ. له کار نه مخ مه اړوئ، په زړه کې به مو خامخا د کار او ژوند مينه راپورته شي.

کوم هوښيار سړي څه ښه ويلي دي: ((سهار دوخته چې چرګان نارې وهي، خلکو ته وايي چې: له خوبه پاڅيږئ، د کار پر لور وخوځيږئ.))

خو هغه کار چې کوو يې، بايد يوازې خپله ګټه په پام کې ونه نيسو، بلکې بايد داسې کار وکړو چې هم موږ او هم نورو خلکو ته ګټه ولري.

د متن لنډيز:

کار او زيار ستر ټولنيز ارزښت او اهميت لري. که کار او زيار نه وای، د نړۍ دا دومره ودانۍ او پر مختګونه به هيڅکله نه وای تر سره شوي . هغو ټولنو او هېوادونو چې اغيزناک کار ونه کړي، پر مختللي دي او هغوی چې کار يې نه دی کړی، وروسته پاتې شوي دي . ويلای شو چې نيکمرغي او برياليتوب په کار او زيار کې دي.

فعاليتونه

۱_ له څو زده کوونکو څخه دې وغوښتل شي چې د خپلې خوښې يو پاراګراف د ټولګيوالو په وړاندې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ زده کوونکي دې له متن څخه څو فعلونه په خپلو کتابچو کې ولیکي او هغه دې په بېلا بېلو زمانو کې په جملو کې وکاروي.

۳ـ داسې سیالي دې رامنځته شي چې یو زده کوونکی یو فعل پرتخته ولیکي او له بل څخه دې وغوښتل شي چې هغه په یوه مناسبه جمله کې وکاروي.

۴ـ د لاندې جملو تش ځایونه دې په پنسل په مناسبو کلمو سره بشپړ کړي :

- زه هره .... ښوونځي ته ځم.
- زما ورور په لسم ....کې دی.

۵ـ لاندې جملې له مخامخ لیکل شو و کلمو او عبارتونو څخه په پنسل بشپړې کړئ:

زموږ هېواد ډېرې	کې یم
زه په نهم ټولګي	کوي
کار او زيار انسان نیکمرغه	تاریخي ودانۍ لري

۶ـ په دغه لوست کې مو د کار د اهمیت او ارزښت په هکله څه ولوستل؟ لنډې خبرې پرې وکړئ.

- ستاسې کوم کار او کسب خوښیږي او ولې؟
- د کار او کسب خاوندان ولې په ټولنه کې د درناوي وړ وي؟

۷ـ د مفهوم له مخې د سم ځواب له شمېرې څخه په پنسل کرښه چاپېره کړئ :

الف: څوک چې ډېر کار کوي، اقتصادي یې کمزوری وي.

ب: څوک چې کار نه کوي، د ټولنې پر اوږو بار نه وي.

ج: څوک چې کار کوي، ژوند یې ښه او سوکاله وي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د مشهورو کارونو او کسبونو یو لست په خپلو کتابچو کې ولیکي او د بلې ورځې په درسي ساعت کې دې یې ټولګیوالو ته ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوښکو ارزاني

قیام الدین خادم د ملا حسام الدین زوی، په ۱۳۲۵ هـ . ق. کال د ننګرهار ولایت په کامه کې زیږېدلی و. پیاوړی عالم، کره کتونکی، لیکوال او شاعر و. تر پنځوسو زیات ځانګړي چاپ او ناچاپ اثار لري او په سلګونو مقالې یې د هېواد په مطبوعاتو کې خپرې شوې دي. د ۱۳۵۸ هـ .ش. د سنبلې پر شپږمه نېټه مړ دی.

■ اوښکې له سترګو ولې او په کوم حالت کې بهېږي؟

اوښکې د انسان عاطفي حالت څرګندوي. په عمومي ډول د یو سخت درد او زور خپګان په نتیجه کې تر سترګو رابهېږي چې د مقابل لوري له خوایې باید په همدردۍ او خواخوږۍ سره ځواب ووېل شي. په دې لوست کې د اوښکو د ارزښت او اهمیت په اړه د قیام الدین خادم لیکلی ادبي نثر لولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که غله او ارتزاقیات قیمته شي، نو د فصل په راوتلو رفع کېږي. که کالي او لباس قیمته شي، نو بیا هم څه نا څه گوزاره کېږي.

خلک وایي: ((بربنډ له لارې اوړي، وږی نه اوړي.))

که فېشني شیان قیمته شي، نو قیمته دې شي کنه ((تجمل بېل شی دی او زنده گي بېل شی دی)) که اسعار قیمته شي، نو د یو دولت په تصمیم یې علاج ممکن دی چې غیر ضروري او دویمه او درېمه درجه شیونه له استعماله وغورځوي.

که دا ټول شیونه په یوه سویه ارزانه شي، د یو مملکت لپاره د رفاه او اسایش وسایل لاس ته راځي، اما اجتماعي سعادت او خوشبختي دغه وخت هم نه حاصلېږي. د ژوند سعادت او خوښي د ماد یاتو په زیا توالي او ډېروالي دومره اړه نه لري، لکه د ضمیر په ازادۍ او د روح په خوشحالۍ پورې . په ژوندکې خطرناک او مدهش حال دادی چې اوښکې ارزانه شي، وېره، دهشت او درد موجود وي او دوا نه وي.

په طب کې د هر درد، خوږ، پرهار او ټپ علاج شته، مگر نه د زړه د درد او زخم . د زړه د درد علاج په خپله د زړه درد دی او بس. د اوښکو د ارزانۍ علاج د پیسو د ارزانۍ غوندې نه دی چې د اقتصادکوم ماهر یې علاج وکولای شي او نه د کر نې متخصصان په دې کار پوهېږي.

بې دردي په یو قوم او جامعه کې داسې یو مرض دی چې په علاج یې فقط پیغمبران پوه شوي دي.

ای خدایه! موږ نه هغه زړونه واخله چې د مظلوم او بې وزلي له سترگو څخه په عبث تویېدونکو مرغلرو نه خوږېږي او هغه لاس، پښې او ژبه مه راکوه چې بې لاسو او بې پښو ته صدمه رسوي او خلک ژړوي.

((خیالي دنیا))

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډیز:

په لوست کې په دې خبرې شوي چې اوښکې ځانګړی معنوي ارزښت او اهمیت لري، هسې نه چې هغه بې قدره او بې ارزښته وګڼل شي او پاملرنه ورته ونشي. ټولنه باید دومره بې رحمه او بې عاطفې نه وي چې د خلکو اوښکې چې د درد او خواشینۍ استازیتوب کوي، بې قدره وګڼي. خلک خواخوږۍ او همدردۍ ته ډېره اړتیا لري. موږ باید بې درده او بې تفاوته نه یو، باید یو د بل په درد دردمند شو او د غمجنو او ویرجنو د اوښکو د وچولو په فکر کې شو.

فعالیتونه

۱ـ د ښوونکي له خوا د متن تر لوستلو او لازمو څرګندونو وروسته دې څو زده کوونکي متن په لوړ مناسب غږ د ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

- خوتنه زده کوونکي دې د خپلې خوښې یو یو پراګراف له متن څخه ولولي.
- زده کوونکي په دوو ډلو وویشئ یوه ډله دې په متن کې مفردې کلمې پیدا کړي او بله ډله دې په متن کې جمع کلمې پیدا کړي، بیا دې له هرې ډلې څخه یو یو استازی لیکل شوې کلمې د خپلې ډلې په استازیتوب د ټولګي په مخ کې ټولګیوالو ته ووایي.

۲ـ په متن کې څو صفتونه پیدا او په مناسبو جملو کې یې وکاروئ.

- د متن دویم پراګراف په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

۳ـ ددې پوښتنو ځواب ووایئ:

- ولې له سترګو څخه اوښکې بهیږي؟
- اوښکې د څه شي استازیتوب کوي؟
- له بې وزلو او دردیدلو سره څه ډول مرسته کولی شو؟
- زده کوونکي په دوو ډلو وویشئ له هرې ډلې څخه دې یو استازی له مظلومو خلکو سره د مرستې په هکله خپلو ټولګیوالو ته خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴_ زده کوونکي دې دوه دوه سره جوړه شي، یو دې د کتاب یو پراګراف ووایي، بل دې هغه د املاء په توګه ولیکي. بیا دې هغه دواړه نوموړی پراګراف د کتاب له مخې سم کړي. بیا دې بل زده کوونکی هماغه شان یو بل پراګراف د املاء په توګه ووایي او د هغه جوړه ملګری دې یې ولیکي او په پای کې دې دواړه هماغه لیکل شوی پراګراف د کتاب له مخې سم کړي.

۵_ یو یا دوه زده کوونکي دې پخپله خوښه د یتیم یا بل درد یدلي انسان حالت تمثیل کړي. بل زده کوونکی دې له هغه سره دخواخوږی او د مرستې دلارو چارو په برخه کې خبرې وکړي. یا دې د خواخوږی نقش ترسره کړي.

۶_ زده کوونکي دې یو یو پورته شي او د درس په مفهوم دې خبرې وکړي .

◆ څو زده کوونکي دې د ټولګیوالو په وړاندې د هغې مرستې په هکله خبرې وکړي چې کله یې له چا سره کړې وي.

۷_ لاندې جملې په خپله خوښه په پنسل بشپړې کړئ :

◆ ما پرون د یو یتیم ماشوم .... پاکې ....

◆ له بیوزلو او ځوریدلو وګړو سره .... پکار ده .

۸_ زده کوونکي په دوو ډلو وویشئ، د "الف" ډله دې لاندې جملې ته انکشاف ورکړي: موږ باید د یو درد ېدلي انسان اوښکې وچې کړو.........

د ب ډله دې لاندې جملې ته انکشاف ورکړي:

شتمنو ته لازمه ده چې له بې وزلو سره مادي او معنوي مرستې وکړي.......

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې له دردمنو او ځوریدلو وګړو سره د مرستې او خواخوږی په اړه یوه کیسه ډوله لیکنه وکړي. بله ورځ دې هغه په درسي ساعت کې د ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم لوست

ملي ارشیف

- تاسې د دې پورته ودانۍ په هکله څه معلومات لرئ؟
- لرغوني لیکلي او چاپي اثار ولې، چېرې او د څه لپاره ساتل کېږي؟

د لرغونو په لاس کښلو او چاپي کتابونو، د واکمنانو د فرمانونو، لیکونو او تاریخي سندونو د ساتنې لپاره باید داسې یو ځانګړی ځای وي چې هغه پکې د یو ارزښتمن فرهنګي میراث په توګه خوندي وساتل شي. دغه د خوندي ساتنې ځای ته ارشیف وايي. موږ هم په خپل هېواد کې دغسې یوه ځانګړې اداره لرو چې ((ملي ارشیف)) نومېږي، دلته یې درپېژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نړۍ په هر هېواد کې داسې ودانۍ ځانګړې شوي وي چې په هغو کې د واکمنانو فرمانونه، لاس کښلي (خطي) او چاپي کتابونه، تاريخي رسمي او ځانګړي سندونه، ليکونه، د انځورګرۍ پاڼې او نور خوندي ساتل کېږي. دغې ودانۍ يا ادارې ته ارشيف ويل کېږي.

زموږ په هېواد کې له ښو لسيزو راهيسې دغه ډول يوه ودانۍ شته چې ملي ارشيف يې بولي.

د ملي ارشيف اوسنۍ ودانۍ چې د کابل ښار په سالنګ واټ کې واقع ده، د امير عبدالرحمٰن خان د واکمنۍ د زمانې ده. نوموړي امير هغه د خپل زوی شهزاده حبيب الله خان د کار لپاره جوړه کړې وه. دا ودانۍ چې دوه پوړه ده، لومړی پوړ يې تر ځمکې لاندې دوه سالونونه او لس خونې لري، د محمد داؤد خان د جمهوريت په لومړيو (۱۳۵۲ هـ.ش.) کې د ملي ارشيف لپاره ځانګړې شوه او د عامه کتابتون تر ادارې لاندې يې فعاليت پيل کړ، خو ملي ارشيف په رسمي توګه د اطلاعاتو او فرهنګ د وزارت د يوې ځانګړې فرهنګي ادارې په توګه په ۱۳۵۹ هـ . ش. کال پرانيستل شو.

د دغې ادارې د فعاليت له هماغه لومړيو څخه د تاريخي سندونو، ليکونو، د کتابونو د خطي او چاپي نسخو او نورو هنري انځوريزو اثارو پېرودل او راټولول پيل شول. په لومړي ګام کې هغه ليکلي او چاپي تاريخي او هنري اثار چې د کابل په عامه کتابتون او نورو دولتي ادارو کې موجود وو، په ملي ارشيف کې ځای پر ځای شول او بيا د هغې لپاره د هېواد له ګوټ ګوټ څخه ارزښتناک اثار راوړل شول چې دا لړۍ تر ننه هم روانه ده او له يوې ورځې څخه يې بلې ته د اثارو شمېره زياتېږي.

اوس زموږ په ملي ارشيف کې ډېر ارزښتناک اثار خوندي دي. ټول هغه اثار چې اوس زموږ په ملي ارشيف کې خوندي دي، د اسلامي دورې له پيلامې څخه په راوروسته پېړيو پورې اړه لري. تر ټولو لرغونې لاس کښلې (خطي) نسخه چې په ملي ارشيف کې خوندي ده، هغه د قرآن کريم پنځه پارې دي چې د هوسۍ پر پوستکي ليکل شوي او ليک يې د حضرت عثمان وخت ته منسوب ګڼل شوی دی. بل لرغونی سند د تيموري

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوري د نوميالي واكمن سلطان حسين بايقرا فرمان دی چې په (۹۰۱ هـ . ق .) کال په نستعليق ليک ليکل شوی، اوس په ملي ارشيف کې خوندي دی.

زموږ په ملي ارشيف کې اوس د کتابونو په زرګونو خطي او چاپي نسخې، تاريخي سندونه او انځوريز لاس کښلي کتابونه او پاڼې خوندي دي. په دغو لاس کښلو نسخو کې يوه هم د پښتو ډېر ارزښتناک ادبي کتاب ((پټه خزانه)) نوميږي چې د هغې په تر لاسه کېدو سره پښتو ليکلی ادب د دويمې هجري پيړۍ نيمايي ته رسيږي.

دافغانستان ملي ارشيف له ډېرو زياتو لرغونو او تاريخي چاپي او لاس کښلو سندونو او اثارو سره له ستر ملي او نړيوال ارزښت څخه برخمن دی او د ((سواربيکا))(*) يا د ارشيفونو د نړيوالې مؤسسې د غړيتوب وياړ يې هم تر لاسه کړی دی.

د تاريخي، علمي، ادبي او نورو اثارو د خوندي ساتنې اداري (ملي ارشيف) دبداى کولو لپاره بايد هر اړخيزې هلې ځلې وکړو او يوه ملي دنده يې وبولو.

د متن لنډيز:

ملي ارشيف زموږ په هېواد کې د لرغونو لاس کښلو او چاپي اثارو، تاريخي سندونو او ليکونو د خوندي ساتنې ځانګړې اداره ده چې له تاسيس کيدو يې څو لسيزې تيرېږي او اوس د زرګونو خطي او چاپي کتابونو، سندونو او نورو اثارو په لرلو سره له ملي او نړيوال اعتبار څخه برخمنه ده.

څرګندونه

• سواربيکا: د ارشيفونو يو نړيوال تنظيم يا مؤسسه ده چې د ډېرو هېوادونو ملي ارشيفونه يې غړيتوب لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ څو زده کوونکي دې دا لاندې معلوماتي جملې د خپل ټولګي په وړاندې په لوړ غږ ولولي:

- په ملي ارشیف کې تاریخي لیکلي اثار له خرابېدو او ورکېدو څخه خوندي ساتل کېږي.
- د ملي ارشیف اوسنۍ ودانۍ د امیر عبدالرحمٰن خان د واکمنۍ په کلونو کې نوموړي امیر د خپل زوی حبیب الله خان د کار لپاره جوړه کړې وه.
- ملي ارشیف د داود خان د جمهوریت په لومړیو (۱۳۵۲ هـ. ش.) کال کې د عامه کتابتون تر اداري لاندې رامنځته شو.

۲ـ زده کوونکي دې په کتارونو وویشل شي. یو کتار دې په متن کې د پښتو (ی) ګانې په نښه کړي، دویم کتار دې ضمیرونه او دریم کتار دې فعلونه په نښه او پخپلو کتابچو کې ولیکي. له هر کتار څخه دې یو تن هغه د نورو په استازیتوب پر تخته ولیکي.

۳ـ دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه وواياست:

- ملي ارشیف څه ارزښت او اهمیت لري؟
- په متن کې د کومو شخصیتونو نومونه یاد شوي دي؟
- د ملي ارشیف د لا ښېګڼې لپاره څه کولی شو؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پخپل کور و کلي کې د پخوانیو قلمي (لاس کښلو) کتابونو او نورو پخوانیو سندونو د شته والي او د هغو د ساتنې د څرنګوالي په اړه معلومات راغونډ او هغه دې په بل پښتو درسي ساعت کې د خپلو ټولګیوالو په وړاندې ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم لوست

عادل واکمن

■ تاسو د عدالت په باب کومه کیسه اورېدلې ده؟

عدل او انصاف له ډېرو سترو او غوره اسلامي، ټولنیزو او بشري ځانګړنو څخه ګڼل کېږي، موږ ته پکار دي چې په هېڅ حالت کې د عدالت تله له لاسه ونه غورځوو.

دلته مو په دې لوست کې د نوشیروان عادل د عدالت یوه بېلګه د کیسې په بڼه تاسې ته ښوونه کړې ده. دا کیسه مولوي احمد لیکلې او په (ګنج پښتو) کتاب کې خوندي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زورور ته نه ښايي چې په کمزوري باندې خپل زور وازمايي، که څه هم کار يې خرابيږي. وايي چې د روم پاچا، نوشېروان پاچا ته استازی ليږلی و، کله چې هغه دربار ته ورسېد، گوري چې يوه لويه ماڼۍ ده، پاچا پکې په تخت ناست دی او نور اميران او وزيران په څوکېو ناست دي. استازي چې شاو خوا وکتل، په دغې ماڼۍ کې يو ځای ورته کوږ ښکاره شو. له يو سړي څخه يې پوښتنه وکړه چې دا ځای ولې کوږ دی؟ هغه ورته وويل چې دا د يوې بوډۍ کور و. په هغه وخت کې چې پاچا دا ماڼۍ جوړوله، نو هغې بوډۍ ته يې وويل چې دا کور په ما خرڅ کړه، مگر د هغې رضا اوخوښه نه وه، پاچا په زور سره داکارونه کړ، نو ځکه دا ځای په دې ماڼۍ کې کوږ پاتې شوی دی. استازي وويل چې رښتيا خبره دا ده چې داکوږوالی ډېر ښه دی، له هغه سموالي نه چې په ظلم تر سره شوی وي، حق او انصاف دا دی چې داکار نه په پخوا زمانه کې چا ويلی دی او نه مې وروسته گومان کېږي چې کوم پاچا به داکار وکړي.

پاچا چې د قاصد دا خبرې واورېدلې، ډېر خوشحاله شو، انعام او ډالۍ يې ورته ورکړه او په ډېر عزت سره يې رخصت کړ.

د متن لنډيز:

په کيسه کې د نوميالي عادل واکمن نوشيروان د عدالت يوه پيښه بيان شوې چې نوموړي څنگه د خپلې ماڼۍ د جوړولو پر مهال د زور زياتي پر ځای له عدالت او انصاف څخه کار اخيستی دی. د خپلې ماڼۍ يوه برخه يې کږه پرېښې، خو ديوې خوارې او بېوزلې ښځې حق يې په زور نه دی لاندې کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولوي احمد د پښتونخوا د هشتنغر د تنگي اوسيدونکی، د پښتو د معاصر، ساده او روان نثر له بنسټ ايښودونکو څخه گڼل کېږي . ځيني ليکلي کتابونه ترې راپاتې دي . په هغو کې يو ډېر مشهور اثر يې ((گنج پښتو)) دی چې لومړی ځل په ۱۸۷۲ م. کال کې چاپ شوی دی. مولوي احمد په ۱۳۰۰ هـ . ق . کال مړ دی.

فعاليتونه

۱ـ خو تنه زده کوونکي دې دغه کيسه د ټولگي په وړاندې په لوړ غږ ولولي.

۲ـ که د زده کوونکو له ډلې څخه د عدالت په اړه د چاکومه بله کيسه زده وي، پخپله خوښه دې هغه د ټولگي په وړاندې ووايي.

۳ـ دا لاندې لغتونه د خپلمنځي نږدېوالي له مخې په بېل بېل کتار کې په پنسل وليکئ:

احمد، توتکی، کتاب، زلمی، کوتره، قلم، نوشيروان، کتابچه، توتي.

احمد ....

....

....

- لاندې جملې په پنسل په مناسبو کلمو بشپړې کړئ:
- نوشيروان يو ډېر .... و.
- د روم د پاچا استازي له .... څخه د ماڼۍ د کوږوالي په اړه پوښتنه وکړه.
- پاچا چې د قاصد خبرې واورېدې ....شو او .... يې ورته ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴_ لاندې پوښتنې ځواب کړئ :

- د نوشیروان د ودانۍ یوه برخه ولې کږه جوړه شوې وه؟
- د روم د پاچا استازی چې د مانۍ د کوږوالي په علت پوه شو، څه یې وویل؟

۵- لاندې مفردې کلمې په خپلو کتابچو کې په جمع او جمع په مفرد واړوئ او په مناسبو جملو کې یې استعمال کړئ :

مفرد	جمع
سړی	هلکان
گل	قلمونه
لوست	میزونه
کور	نجونې

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کیسو ځینې کتابونه مطالعه کړي او له هغو څخه دې د عدالت او انصاف په باب یوه یوه کیسه په خپلو الفاظو په لنډون سره ولیکي. که یې پخوا هم داسې کومه کیسه مطالعه کړې یا اورېدلې وي هغه دې په څو جملو کې ولیکي. په بل پښتو درسي ساعت کې دې یې ټولگیوالو ته ووايي.

> په خلکو کې ډېر عادل هغه څوک دی چې هغه څه چې ځانته خوښوي، بل ته یې هم خوښوي.
>
> (حدیث شریف)

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالرؤف بېنوا

- تاسې د هېواد له اوسنيو نوميالیو لیکوالو او شاعرانو څخه د چا نومونه اورېدلي او د هغو کتابونه مو لوستي دي؟

د پښتو ادب په معاصره دوره کې څو ډېرې نوميالۍ او مخکښې ادبي څېرې لرو چې هغوی د پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختيا په لاره کې د ستاينې وړ خدمتونه او نه هېرېدونکې هلې ځلې کړې دي. له دغو نوميالیو ادبي څېرو څخه يو يې عبدالرؤف بېنوا دی چې په دې لوست کې يې درپېژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالرؤف بېنوا د مفتي عبدالله زوی، په ۱۲۹۳ هـ . ش . کال په کندهار کې زېږېدلی و. لومړنۍ زده کړې یې د کورنۍ او سیمې له دیني عالمانو څخه وکړې او بیا یې د خپل ځانګړي ذوق او علاقې له مخې د دیني او ادبي علومو او فنونو مطالعې ته دوام ورکړ. د ځوانۍ په لومړیو کې یې په شعر ویلو او لیکوالۍ پیل وکړ، ډېر ژر یې د خپل پیاوړي استعداد له مخې په دغه ډګر کې د پرمختګ پړاوونه ووهل او د شاعر او لیکوال په توګه وپېژندل شو.

په ۱۳۱۷ هـ . ش . کال د هېواد پلازمینې (کابل) ته راغی او د وخت د ډېرې مشهورې علمي او فرهنګي ادارې ((پښتو ټولنې)) غړی شو. بیا وروسته د کابل مجلې مدیر شو. څو کاله یې دغه دنده په ډېر بریالیتوب سره تر سره کړه، بیا د پښتو ټولنې مرستیال او څه موده وروسته د پښتو ټولنې لوی مدیر شو. په همدغو وختونو کې څه وخت د هېواد ورځپاڼې مسؤول چلوونکی هم و. په ۱۳۳۵ هـ . ش . کال د کابل راډیو د ریاست چارې وروسپارل شوې. څو کاله وروسته په مصر کې د افغانستان د سفارت مطبوعاتي استازی او بیا د دویم ځل لپاره د کابل راډیو رئیس شو. وروسته د ولسي جرګې وکیل او په ۱۳۴۶ هـ . ش . د اطلاعاتو او کلتور وزیر شو.

وروستۍ رسمي دنده یې په لیبیا کې د افغانستان د سفیر په توګه وه چې له هغه ځایه امریکا ته جلا وطن شو. د سرطان د وړیښې ناروغۍ له امله په ۱۳۶۳ هـ . ش . کال په نیویارک کې مړ او هلته خاورو ته وسپارل شو.

د قبر پر شناخته یې خپل دا شعر د وصیت په توګه لیکل شوی دی:

زما هډونه به در وړئ وخپل وطن ته
مړ بلبل به رسوئ و خپل ګلشن ته
ښخوئ به ما په پاک افغانستان کې
د پردیسو ننګیالیو په جهان کې
زما پر شناخته به لیکئ زلمیو دا:
((دلته ښخ دی پردیس شوی بینوا))

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالرؤف بېنوا پیاوړی لیکوال، شاعر، مؤرخ او هېوادپال سیاستوال و. د شعر او ادب، سیاست او تاریخ په بېلا بېلو برخو کې یې لیکل کړي دي. په سلگونو مقالې او شعرونه یې د هېواد په مطبوعاتو کې خپاره شوي او په لس گونو علمي، ادبي، تاریخي او سیاسي اثار یې د ځانگړو کتابونو په بڼه چاپ شوي دي. په خپلې مورنۍ ژبې پښتو سربېره په عربي، اردو او انگلیسي ژبو ښه پوهېده او په دغو ژبو کې یې لیکنې او ژباړې هم کړې دي.

د چاپ او ناچاپ کتابونو شمېر یې له ۵۰ څخه زیات دی. دلته یې د ځینو اثارو نومونه اخلو : اوسنی لیکوال (۱_ ۲_ ۳ ټوکه)، د افغانستان نومیالي (۱_ ۲_ ۳_ ۴_ ټوکه) میرویس نیکه، پریشانه افکار (د شعرونو ټولگه)، د شعرونو کلیات، زوړ گناهکار (د ډرامو ټولگه) د افغانستان تاریخي پېښې، د زړه خواله (ادبي لیکونه) او نور.

یو شعر یې د بېلگې په توگه راوړو:

د غریب پالنه

چې وړوکي سره مور که
یاله وروره سره ورور که
داسې کړه له غریبانو
هر غریب پر اوږه سورکه
هوښیاري شرافت نه دی
چې له وړکو سره زور که
له انصاف له عدله لیرې
چې د کونډو سر سر تور که
د هغو زړگی به خور شي
د یتیم زړگی چې خور که
د خپل قام رنځور په شاکه
تاته کوم هوښیار پیغور که

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دانه کوي بې نومه
پرې گومان دغله او چور که

د عبدالرؤف بېنوا لنډه ادبي ټوټه:

گرانه ملگرېه!

یو گل چې څومره ډېر رنگونه ولري ښکلا یې هم هومره زیاته وي او چې څومره مخونه ولري هغومره د ستاینې وړ وي، خو یو انسان که دوه رنگه شو یا یې ځان دوه مخی وښوده نو نور یې مخ دکتو نه وي.

پوهان وایي: ((ښنگه چې یې، هغسې ځان ښیه او ښنگه چې ځان ښیې هغسې اوسه.))

خو ځینې انسانان شته چې نه یوازې څو رنگه، څو بڼې او څو مخه لري، بلکې ورسره څو ژبې یې هم په خوله کې وي. او د ماهرو ایکټرانو په څېر د خپل هر رنگ او هر مخ د ښودلو لپاره مخصوصې صحنې لټوي او د خپلې هرې ژبې لپاره ځانته موقع گوري.

داسې انسانان د نورو په رنگ رنگېدل نه غواړي، خو د ځان د رنگ په بدلولو کې دومره ماهر وي چې نور په خپل رنگ ژر غولولی شي. د مخونو په پېژندلو کې لاس لري، خو د دوی د مخ ښه پېژندل د مصنوعي سپوږمۍ په اصلي ماهیت پوهېدلو غوندې وي. دوی په خپله ژبه پسې نه گرځي، خو خپله ژبه د هر چا او هر ځای د اقتضا سره سمه گرځوي. دوی د هر مجلس د رنگ سره خپل رنگ بدلولی شي او د هر چا د خوب رگ یې ځانته معلوم کړی وي. دوی په همدغه یوه ژبه غله ته وایي غلا کوه او دکور خاوند ته وایي: کور ساته.

ظالم ته د ظلم لاره ښیي او مظلوم ته د انتقام اخیستلو سترگکونه وهي.

حاکم ته محکومین وي او محکومینو ته د حاکمانو په رنگ کې وړاندې کېږي. او که ورته ځیر شو همدا دوه مخي، دوه رنگي کسان دي چې د ټولنې د طبقاتو ترمنځ د دې پر عوض چې وحدت، یو والی او ښه نیت پیدا کړي، د هغوی په منځ کې د بدبینۍ، بدگمانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بدنیتی تورې پردې اچوي، که د حاکمې او محکومې طبقې ترمنځ واقع شي، دواړو خواوو ته داسې څرګندوي چې همدا دوی دي چې ددې دوو طبقو ترمنځ یې ارامي ساتلې ده، که دوی نه وي د هغوی ارامي به هم ویجاړه شي. حال دا چې که دا دوه مخي او دوه رنګي له منځه لاړې شي، د طبقاتو ترمنځ مستقیمه رابطه او مفاهمه ډېر ژر د دوی منځ ته صمیمیت او یو رنګي راوستلای شي.

نو ګرانه ملګریه!

که غواړو چې د ښه او نیکمرغه ژوند سره مخامخ شو، لازمه ده چې د دې دوه رنګی، دوه مخۍ او دوه ژبۍ څخه لومړی ځانونه وژغورو او بیا یې په ټینګه د مخنیوي لپاره زیار وباسو.

هر چا ته او په هر مجلس کې چې ښه ګڼه یو، هغسې ځانونه وښیو او چې ښه ګڼه ځانونه ښیو هغسې واوسو او دا مو ډاډ وي چې یوه ورځ نه یوه ورځ به ضرور د دوه مخو مخونه تور او د دوه رنګو رنګونه ورک او د دوه ژبو ژبې وچې شي، ځکه چې ((کوږ بار تر منزله نه رسیږي.)) او ((دوې هندوانې په یوه لاس کې اخیستی کېدای نه شي.))

د متن لنډیز:

عبدالرؤف بېنوا د پښتو ژبې پیاوړی لیکوال ، شاعر ، مؤرخ او هېواد پال سیاستوال و. د خپل ژوند ځو لسیزې یې د هېواد په علمي او فرهنګي ادارو کې خدمت کړی ، په لس ګونو ځانګړي کتابونه او په سلګونو مقالې یې چاپ او خپرې شوي دي.

عبدالرؤف بېنوا د پښتو په معاصرو شاعرانو او لیکوالو کې د لوړ ادبي مقام او دریځ څښتن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱_ څو زده کوونکي دې په خپله خوښه د متن یو یو پارګراف په وار سره ولولي.

۲_ د متن په پای کې مو د بینوا له شعر څخه څه مفهوم واخیست؟ په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ او هغه د ټولګي په وړاندې ولولئ.

۳_ زده کوونکي دې متن په غور ولولي او په هغو کې دې صفتونه پیدا او په مناسبو جملو کې وکاروي.

۴_ په متن کې مو ولوستل چې عبدالرؤف بېنوا نومیالی لیکوال، شاعر، مؤرخ او هېواد پال سیاستوال و. ستاسې د نوموړي کوم اړخ ډېر خوښېږي خبرې پرې وکړئ؟

◆ لیکوال په ټولنه کې څه ارزښت لري؟

۵_ دا لاندې نیمګړې جملې په پنسل په مناسبو کلمو سره بشپړې کړئ :

◆ عبدالرؤف بېنوا د پښتو ژبې یو نومیالی .... و.

◆ عبدالرؤف بېنوا په .... کې مړ.

◆ عبدالرؤف بېنوا له .... زیات چاپ او ناچاپ کتابونه لري.

۶_ ځینې زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راوبلل شي چې د بېنوا د نثر (ګرانه ملګربه!) مفهوم په خپلو الفاظو کې ټولګیوالو ته بیان کړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپل کور و کلي یا سیمې او ښار د کوم شاعر لنډ ژوند لیک او د شعر یوه بېلګه ولیکي. په راتلونکي پښتو درسي ساعت کې دې یې ټولګیوالو ته ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځنګلونو ارزښت



- تاسې له ځنګلونو سره اشنا یاست ؟
- ځنګلونه څه ګټې لري ؟

ځنګلونه سربېره پر دې چې دسون، دکورونو د پوښلو او دکړکیو او دروازو د جوړولو لپاره د اړتیا وړ لرګي برابروي او همداراز د هوا په پاکوالي، د ښکلي چاپیریال او طبیعي منظرو په رامنځته کولو کې هم ستر ارزښت او اهمیت لري.

دلته په دې لوست کې د ځنګلونو په ګټو او ارزښتونو خبرې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان یو غرنی هېواد دی چې زیاته برخه یې غرونو نیولې ده. له دغو غرونو څخه ځینې یې په ګڼو ونو او بوټو پوښلي دي چې هغو ته طبیعي ځنګلونه وایي.

له دغو ځنګلونو څخه که له یوې خوا د ودانیو د پوښلو، کړکیو، دروازو او نورو ضروري شیانو د جوړولو لرګي برابروي، له بلې خوا یې له لرګیو څخه د سون د توکو په توګه هم کار اخلي.

د ډول ډول مېوو او کورنیو ښارویو د روزنې لپاره ځنګلونه ور چاپېریال جوړوي. د وحشي حیواناتو او ډول ډول الوتونکو د استوګنې لپاره یو ډېر مناسب ځای ګڼل کېږي. ځنګلونو ډېرې ښکلې او په زړه پورې طبیعي منظرې هم جوړې کړې دي. باید ووایو چې د ډېرو لوړو او ټیټو غرونو دشته والي په اندول زموږ د هېواد د ځنګلونو شمېره او سیمې ډېرې نه دي. د هېواد په مرکزي او شمالي برخو کې د هندوکش د لوړو غرونو لړۍ دي چې تل په واورو پټې وي او د ځنګلونو د رامنځته کېدو لپاره وړتیا نه لري. بیا هم کوم ځنګلونه چې همدا اوس زموږ په هېواد کې شته، که یې په سمه توګه سا تنه، ښارنه او پالنه وشي او د یوې ملي شتمنۍ په توګه ورڅخه مناسبه ګټه واخیستل شي، تر ډېره زموږ د خلکو اړتیاوې پوره کولای شي او د ملي اقتصاد په پیاوړتیا کې ډېره ارزښتنا که ونډه ترسره کولای شي.

زموږ د هېواد د ځمکې ټوله دوه میلیونه هکتاره شاوخوا ساحه ځنګلونو پوښلې ده. دغه ځنګلونه په ټول هېواد کې یو شان نه دي. د بېلګې په توګه د پکتیا، کونړ او بادغیس په ولایتونو کې دغه کچه لوړه ده، خو په مرکزي او جنوب لویدیځو سیمو کې بیا هیڅ ځنګل نشته.

د کونړ او پکتیا په ځنګلونو کې د نښتر، څېړۍ او ښوون ډېرې ونې شته چې ډېر اقتصادي ارزښت لري. د بادغیس په ځنګلونو کې د پستې ځنګلونه شته دي چې د پستې خوندوره مېوه ترې لاس ته راځي. په ننګرهار، لغمان، نورستان او نورو سیمو کې هم ځنګلونه شته دي.

که ځنګلونه له یوې خوا ستر اقتصادي ارزښت لري، نو له بلې خوا د چاپېریال او هوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پاک ساتلو او د سیلابونو په وسیله د پېښېدونکو زیانونو د مخنیوي لپاره هم ډېر مهم دي. موږ ته لا زمه ده چې د یوې ارزښتناکې ملي شتنمی په توګه یې د سا تنې او ځارنې لپاره هلې ځلې وکړو. پر طبیعي ځنګلونو سربېره د هېواد په زیاترو سیمو کې مصنوعي ځنګلونه وکرو او ویې روزو چې د استوګنې چاپېریال مو ښکلی، هوا یې تازه او په زړه پورې شي .

د متن لنډیز:

زموږ هېواد غرنی دی، له همدې امله په ځینو سیمو کې ډېر ګڼ او پراخ ځنګلونه لري. دغه ځنګلونه په اقتصادي او سوداګریز ارزښت سربېره د هوا په پاکوالي او د ښکلو طبیعي منظرو په رامنځته کولو کې د ستاینې وړ ونډه لري. ځنګلونه د سیلابونو مخنیوی کوي او موږ له طبیعي مصیبتونو څخه هم تر یوه حده سا تي. د ملي شتمنی په توګه یې باید ساتنه او ځارنه وشي.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په چوپتیا سره ولولي، بیا دې نور زده کوونکي د متن یو یو پاراګراف په لوړ غږ د نورو ټولګیوالو په وړاندې ولولي .

۲ـ زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د کتاب له متن څخه د ځنګلونو ګټې ولیکي او بیا دې په وار سره د ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

۳ـ یو یو زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته را وغوښتل شي چې په لنډه توګه د هېواد د بېلا بېلو ځنګلونو سیمې وښیي او د ځنګلونو د اهمیت په هکله خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- پورته عکسونو ته وگورئ او د ځانګړنو په هکله يې څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

۴ـ دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايئ :

- ځنګلونه څه ته وايي ؟
- ځنګلونه د چا مال بلل کېږي ؟
- تاسې د هېواد د ځوانانو په توګه د ځنګلو د ساتنې او ځارنې لپاره څه وړانديزونه لرئ.

۵ـ دا لاندې جملې ولولئ چې په کومې زمانې (اوس مهال ـ تېر مهال او راتلونکې مهال) پورې اړه لري، په چوکاټ کې يې په پنسل وليکئ :

۱ـ زه پروسږکال د کونړ ځنګلونو ته تللی وم .

۲ـ زه ځنګل ته ځم .

۳ـ زه به له خپل ورور سره د پکتيا د ځنګلونو ليدلو ته لاړ شم.

کورنۍ دنده

زده کوونکې دې د ځنګلي ونو او د دوی په سيمو کې د موجودو ونو نومونه ليست کړي د پښتو ژبې په بل درسي ساعت کې دې هغه ټولګيوالو ته ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم لوست

لوبې او روغتیا

- تاسې له کوم ډول لوبو سره مینه لرئ ؟
- لوبې څه گټه لري؟

موږ په ټولنه او هیوادکې په سیمه ییزه، ملي او نړیواله کچه یو شمېر لوبې او ورزشونه لرو چې ډېر مینه وال لري. دغه لوبې نه یوازې دا چې غوره بوختیاوې دي، ډېرې روغتیایي گټې هم لري. دلته په دې لوست کې پر هغو خبرې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوبې يوازې بوختيا او وخت تيرول نه دي، بلکې د ځوانانو لپاره ډېرې نورې ګټې هم لري. د ځوانانو پټ استعدادونه راڅرګندوي او هغوی ځيرک، کوښښي، کارکوونکي، وخت پيژندونکي، زغموونکي او ژمن روزي.

لوبې سربېره پر يوې غوره بوختيا او پورته يادو شوو ښيګڼو، د بدن د روغتيا او سلامتيا لپاره هم ډېرې ګټې لري. د هغو په ارزښت او اهميت بايد موږ پوه شو. پخوا به زيا تره چارې او کسبونه، لکه : ترکاڼي، اهنګري، يوې کول، لو کول او د کرنې نورې چارې د انسان د بدن او متو په زور او ځواک سرته رسيدلې.

تر ډېرو ليرې ليرې وا ټنونو به خلک پلي تلل، که څه هم دغه کارونه به د اړتيا له مخې تر سره کېدل، خو هغه په حقيقت کې يو ډول سپورت هم و.

اوس د عصري پرمختګونو له امله د ژوندپه ټولو چارو کې ډېرې اسانتياوې رامنځته شوي دي. دکارونو لپاره لوی او واړه ماشينونه او د تګ را تګ لپاره ډول ډول وسيلې جوړې شوي دي، ځکه د انسان د بدني کار ډګر لږ او ډېر تنګ شوی دی. داچې د انسان د بدن غړي داسې ځانګړتيا لري چې که کار ترې وانه خيستل شي، سستيږي او که کار ترې واخيستل شي، ډېره ښه وده کوي او پياوړي کېږي.

هغه بېلا بېلې سيمه ييزې، ملي او نړيوالې لوبې، لکه: واليبال، فوټبال، ټينيس، باسکتبال، کرکټ، هاکي، ځغاسته يا منډې وهل، لامبو وهل، وزن پورته کول، غېږه نيول (پهلواني) وزلوبه، جمناستيک او همدارنګه د ماشومانو ځينې سيمه ييزې لوبې، لکه: پټ پټونی، رسۍ لوبه، پنډوس، چندرۍ، د واورو جنګ او داسې نور چې په ځانګړې يا ډله ييزه بڼه ترسره کېږي، لوبې ورته وايي.

لوبې ډېرې جسمي او روحي روغتيايي ګټې لري . د لوبو کولو پر وخت د بدن غړي په حرکت راځي. بدن خوله کېږي او له هغو سره ډېر زهرجن مواد بهر ته وځي. د لوبو په بهير کې ساه ايستل ګړندۍ کېږي، بدن نوې او تازه هوا اخلي. روحي ستړيا له منځه ځي، زړه او بدن غښتلی کېږي. لوبې او ورزشونه د ځوانانو ترمنځ صميميت زياتوي او ان تردې چې د ملتونو ترمنځ سيالۍ په لوبو کې د دوستۍ او سولې فضا رامنځته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوبو او ورزش یوه بله ډېره مهمه ګټه دا ده چې د انسان بدني استعدادونه او مهارتونه وده کوي، ذهني، اخلاقي او ټولنيزې ځانګړنې يې پالنه او روزنه مومي.

د ډله ييزو لوبو له امله د لوبغاړو په خپلو کې د همکارۍ او يو پر بل د باور او ملګرتيا روحيه پياوړې کېږي.

تاسې بايد د زده کړې د چارو ترڅنګ لوبو او ورزش ته هم مناسب وخت ورکړئ، په ځانګړو ډله ييزو لوبو او ورزشونو کې برخه واخلئ چې بدن مو روغ رمټ او د هر ډول جسمي او روحي کارونو سرته رسولو ته چمتو شي.

د متن لنډيز:

لوبې بوختيا او وخت تيرول نه دي، بلکې ډېرې نورې روغتيايي او ټولنيزې ګټې هم لري. اوس د فزيکي کار او فعاليت ډګر لږ او ډېر تنګ شوی او ډېر کارونه د ماشين په وسيله تر سره کېږي. د انسان بدن داسې ځانګړنه لري چې که کار ترې وانه خيستل شي، سستيږي. که کار ترې واخيستل شي، نو ډېره پياوړتيا مومي. ددې لپاره د بېلا بېلو لوبو تر سره کول ډېر ضروري دي.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې لومړی متن په چوپتيا سر ولولي، بيا دې ځينې زده کوونکي متن په لوړ غږ د ټولګيوالو په وړاندې ولولي.

۲ـ زده کوونکي دې په دريو برابرو ډلو وويشل شي: يوه ډله دې د لوبانو سيمه ييزې لوبې، دويمه ډله دې په ملي کچه منل شوې نړيوالې لوبې او دريمه ډله دې د ماشومانو بېلا بېلې لوبې لست کړي او بيا دې د هرې ډلې استازی هغه د ټولګي په وړاندې ووايي،

نور زده کوونکي دې هغه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

۳_ لاندې پوښتنو ته دې مناسب ځوابونه ووایي.

- لوبې او ورزش څه شی دی؟
- لوبې او ورزش روغتیا ته څه ګټه لري؟
- لوبې او ورزش په ټولنیز لحاظ څه ګټې لري؟
- که زموږ د هېواد لوبغاړي په نړیواله کچه په سیالیو کې بریالیتوب تر لاسه کړي، تاسې ته څه احساس پیدا کېږي؟ څو تنه دې د ټولګي په مخ کې پرې خبرې وکړي.

۴_ په متن کې فعلونه په نښه او هغه په مناسبو جملو کې وکاروئ.

۵_ زده کوونکي دې د عکس له مخې د لوبو په اړه خبرې وکړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶_ د لاندې جملو خالي ځايونه په پنسل په مناسبو کلمو ډک کړئ :

- لوبې او ورزش ډېرې .... ګټې لري.
- د واليبال لوبه د .... ترمنځ کېږي.
- وز لوبه زموږ د هېواد يوه .... ده.
- د لوبو او ورزش په ترسره کولو د انسان د بدن غړي .... کېږي.
- لوبې د لوبغاړو ترمنځ د .... او .... د رامنځته کېدو سبب ګرځي.

کورنۍ دنده

هرزده کوونکی دې د خپلې خوښې يوې لوبې په اړه معلومات وليکي او هغه دې د پښتو ژبې په بل درسي ساعت کې ټولګيوالو ته ووايي.

هغه څوک چې بدني تمرينونه کوي، هيڅ ډول درملو ته اړتيا نه لري، د هغه درمل او دوا په بدني حرکتونو کې ده.

(ابو علي سينا بلخي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویکتور هوګو



- تاسو په نړیوالو ادبي شخصیتونو کې د چا نومونه پیژنئ؟
- مورږ ته د نړۍ د ادبي نامتو څېرو پېژندل څه ګټه لري؟

د نړۍ د ادبیا تو په تاریخ کې ډېرې ستړې ادبي څېرې شته چې د خپلو ارزښتناکو ادبي اثارو له امله يې نړیوال نوم او شهرت تر لاسه کړی دی. له دغو ادبي څېرو څخه د فرانسې نامتو لیکوال، ویکتور هوګو هم و چې د لوړو ادبي ارزښتمنو اثارو د لیکلو له امله يې زیات نړیوال شهرت په برخه شوی دی. دلته يې په دې لوست کې درپیژنو.

پیاوړی لیکوال او شاعر ویکتور هوګو په ۱۸۰۲ م. کال د فرانسې په بیزانسون ښار کې زیږېدلی دی. پلار یې د پوځ لوړ پوړی دولتي چارواکی او جنرال و.

د هوګو کورنۍ د ده تر زیږېدلو څه موده وروسته د بیزان سون له ښار څخه د پاریس ښار ته ولېږدول شوه. هوګو د ځوانۍ پر مهال په شعر ویلو پیل وکړ. له ادبیاتو او مطبوعاتو سره د زیاتې مینې له کبله یې یوه مجله هم خپره کړه چې تر ۱۸۲۱ م. پورې یې خپرونو دوام وکړ.

د شعرونو لومړنۍ ټولګه یې تر خپرېدو وروسته د لوستونکو له ډېر تاوده هرکلي سره مخامخ شوه او ستره ادبي جایزه یې هم تر لاسه کړه. په ۱۸۴۳ م. کال د هوګو په ژوندکې هغه مهال بدلون رامنځته شو چې ځوانه لور یې مړه شوه. تر دې وروسته هوګو له ادبیاتو څخه سیاست ته مخه وکړه.

کله چې ناپلیون واکمن شو، ویکتور هوګو له هغه سره مخالفت پیل کړ. په پایله کې هغه اړ شو چې فرانسه پرېږدي. هغه لومړی بلژیک او بیا انګلستان ته لاړ.

ویکتور هوګو د انګلستان د جرسي په جزیره کې د استوګنې پر مهال د ((مجازات)) په نامه اثر ولیکه او په همدغه کال یې د خپلو شعرونو ټولګه د ((ننداز چیان)) تر سرلیک لاندې هم خپره کړه. نوموړی تر ۱۸۷۰ م. کال پورې هلته پاتې شو او خپل نور مشهور اثار د ((پېرېو حکایتونه)) او ((بینوایان)) یې ولیکل.

په ۱۸۷۰ م. کال هغه مهال چې په فرانسه کې جمهوري حکومت رامنځته شو، هوګو بیرته پاریس ته ستون شو. د فرانسې خلک تر ننه هغه ته د یو ستر ملي او ولسي لیکوال په سترګه ګوري. مشهورو اثارو یې نوم د نړۍ د ادبیاتو په تاریخ کې د تل لپاره خوندي کړی دی. د هوګو اثار د نړۍ په ډېرو ژبو ژباړل شوي دي.

ویکتور هوګو په ۱۸۸۵ م. کال د ۸۳ کالو په عمر له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

ويکتور هوگو د فرانسي نامتو ليکوال و چې د خپل ادبي شهکار ((بينوايان)) په ليکلو يې ستر نړيوال نوم او شهرت تر لاسه کړی دی. په نړيوالو ادبيا تو کې به ډېر لږ ليکوال په خپل وخت کې د ويکتور هوگو په څېر هر اړخيز نړيوال شهرت ته رسيدلي وي. د هوگو اثار په نړيوالو ژبو ژباړل شوي دي.

فعاليتونه

۱ـ ځو زده کوونکي دې دنورو ټولگيوالو په استازيتوب متن په لوړ غږ ولولي.

- ځيني زده کوونکي دې د متن يو يو پاراگراف ولولي.

۲ـ زده کوونکي دې هغه لغتونه چې ښوونکي پر تخته ليکلي او معنا کړي دي، پخپلو کتابچو کې وليکي.

- ځو زده کوونکي دې په تخته ليکل شوي لغتونه په مناسبو جملو کې وکاروي.

۳ـ زده کوونکي دې د خپل هيواد د ځو مشهورو ادبي شخصيتونو نومونه وليکي، ځيني دې هغه د ټولگيوالو په وړاندې ووايي.

۴ـ لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړئ:

- ويکتور هوگو څنگه نړيوال ادبي شهرت ترلاسه کړ؟
- ويکتور هوگو ولې او څه ډول له ستونزو سره مخامخ شو؟
- کومې پيښې د ويکتور هوگو په ژوندکې بدلون راوست؟

۵ـ د لاندې جمع نومونو مفرده بڼه په خپلو کتابچو کې وليکئ، په مناسبو جملو کې يې وکاروئ:

نومونه زده کوونکي شخصيتونه شاعران اديبوهان

- د لاندې جملو سمه معنوي او املايي بڼه د هغو په وړاندې په پنسل سره وليکئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوگو د انگلستان اوسیدونکی و. (   )

هوگو یو مشهور سوداګر و.   (   )

هوگو زوی و د یو جنرال.   (   )

۶ـ هرزده کوونکی دې د خپل څنګ ټولګیوال ته له متن څخه یوه برخه د املاء په توګه و وایي او بیا دې هغه د کتاب له مخې سمه کړي.

۷ـ په لاندې کلمو کې نومونه، صفتونه او فعلونه جلا کړئ:

ښکلی	هوگو	لاړ	پیاوړی	محمود
خوړل	نومیالی	ابن سینا	لیکل	ژړل

کورنی دنده

داسې یو متن په کور کې ولیکئ چې د پښتو پنځه واړه ((ی ګانې)) پکې مراعات شوې وي، په بل پښتو درسي ساعت کې یې خپلو ټولګیوالو ته د تختې پرمخ ولیکئ او راغلې ((ی ګانې)) پکې په نښه کړئ.

ازادي

د اسمانونو، د چمنونو او د سیندونو بې ازاره لارویانو ته زیان مه رسوئ او ازادي ته یې په احترام وګورئ. د دغو بېوزلو او بې ګناهو ازادي مه ایساروئ چې د تقدیر او سرنوشت قاضي او حاکم ستاسو ازادي سلب نه کړي.

(ویکتور هوگو)

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوارلسم لوست

د بشر حقونه

- تاسې بشري حقونه پېژنئ؟
- د نورو حق ته باید څرنګه درناوی ولرو ؟

انسانان په ټولنه کې یو لړ حقونه لري چې دا د دوی ځانګړي حقونه دي. دغه راز په ټولنه کې د نورو حقونو په وړاندې مکلفیتونه هم لري چې هغو ته باید درناوی وکړي.

په دې لوست کې په ټولنه کې د بشري حقونو په هکله خبرې کوو او لولو چې انسانان په ټولنه کې د کومو حقونو لرونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله ﷻ چې په دې نړۍ کې انسان پیداکړی، له هماغه پیله یې پرې د زیات شمېر بشري حقونو لو رینه هم کړې ده. بشر ته د خدایﷻ د ورکړو حقونو شمېره ډېره زیا ته ده، لکه د ژوند کولو حق، د ملکیت لرلو حق، د زده کړې حق، د روغتیا حق، د تابعیت حق، د فکر او بیان د څرګندولو حق، د انساني کرامت او شخصیت د خوندیتوب حق او نور. د ټولنیز ژوند په بهیر کې وخت په وخت د زوروا کو له خوا د کمزورو حقونه په زورزیاتي تر پښو لاندې او له هغو څخه بې برخې کېږي. که وګورو، له خپلو حقونو څخه دفاع او د ترلاسه کولو لپاره یې هلې ځلې ډېر اوږد تاریخ لري. ډېرې بېلګې یې په بشري تاریخ کې خوندي دي.

د اسلام د سپیڅلي دین په راتګ سره د بشر حقونو ته پوره درناوی وشو او په بېلابېلو بڼو موجود ټول توپیرونه یې له منځه یوړل. په الهي احکامو او نبوي ارشادا تو کې د دغو بشري حقونو د تثبیت په هکله ډېرې زیا تې لارښوونې شته. د بېلګې په توګه کله چې حضرت ابوذر غفاري حضرت بلال ته وویل: ای حبشي غلامه! حضرت محمد ﷺ ورته وفرمایل : تور حبشي او سید قریشي دواړه برابر او د خدایﷻ بنده ګان دي.

نو ویلای شو چې ټول انسانان برابر حقونه لري او په ځانګړي او ټولنیز ژوند کې باید له هغو څخه برخمن شي.

د بشري تاریخ په اوږدو کې، که څه هم د نړۍ په ګوټ ګوټ کې وګړو د خپلو بشري حقونو د ترلاسه کولو لپاره ځانګړې او ډله ییزې هلې ځلې کړې او غږونه یې پورته کړې دي، خو په نړیواله کچه داسې کومه اداره نه وه چې له هغوی څخه چې حقونه یې سلب شوي، ملا تړ وکړي. د دویمې نړیوالې جګړې په بهیر کې چې زیات شمېر انسانان ووژل شول او په نړیواله کچه په بشري حقونو سخت تیری وشو، د جګړې له پای ته رسېدو وروسته د دې اړتیا پیښه شوه چې په نړیواله کچه داسې یوه لایحه او قانون رامنځته کړي چې د بشر له حقونو څخه دفاع وکړي. په دې لړ کې په ۱۹۴۷ م. کال د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې له خوا د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه تصویب شوه. دا اعلامیه یوه سریزه او (۳۰) مادې لري. وروسته بیا په بېلا بېلو وختونو کې د بشري حقونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړوند بېلا بېل کنوانسیونونه تصویب شوي دي چې هر یو په خپل ځای ځانګړې ارزښت او اهمیت لري.

د بشر د حقونو د نړیوالې اعلامیې له مخې انسان تر هر څه لومړی د ژوند کولو، ازادۍ او د شخصي امنیت لرلو حق لري . همدارنګه هیڅوک باید شکنجه یا ونه ربړول شي او نه دې هغه له زور زیاتي، ناوړه سلوک او سپکاوي سره مخامخ کړای شي.

هر څوک حق لري چې حقوقي شخصیت یې په رسمیت وپېژندل شي. ټول د قانون په وړاندې برابر دي. هیڅوک دې په خپل سر بندي یا له خپل ټاټوبي تبعید نه کړای شي. د چا په شرافت او ابرو دې تیری نه کېږي. هر څوک حق لري چې ازاد فکر وکړي، خپل فکر او نظر په ازادانه ډول څرګند کړي.

د بیان ازادي چې د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې په نولسمه ماده کې راغلې، د بشر له ډېرو مهمو او بنسټیزو حقونو څخه ګڼل شوې ده. په دې برخه کې یادونه شوې ده چې هر څوک د بیان د ازادۍ حق لري او د خپل نظر په څرګندولو کې باید ویره او ډار ونه لري.

د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې دغه ماده خلکو ته دا حق ورکوي چې له هرې وسیلې څخه چې کېدای شي اطلاعات او معلومات ترلاسه کړي او یا یې نورو ته ورسوي، خو د یادونې وړ ده چې د بیان ازادي هم خپلې پولې او حدونه لري تر هغه چې په کې بشري کرامت ته سپکاوی نه وي رامنځته شوی او د هغه په وسیله د چا بشري حقوق تر پښو لاندې نه شي، د چا له دیني او مذهبي عقیدو، قومي، نژادي او توکمیز حیثیت او له خپلو ملي هېوادنیو ګټو سره په ټکر کې نه وي. د بیان ازادي جایز ده.

ـ زده کړه یا ښوونه او روزنه چې هم د انسان له ډېرو مهمو او لومړنیو حقونو څخه ده، د بشر د نړیوالې اعلامې په شپږویشتمه ماده کې د هغې په اړه داسې راغلې دي:

ـ هر څوک حق لري چې زده کړه وکړي. زده کړه به لږ تر لږه په لومړنیو دورو کې وړیا وي. لومړنۍ زده کړه به اجباري وي، فني او حرفوي زده کړې به د ټولو په واک کې وي.

ـ د زده کړو موخه به د انساني شخصیت وده، د بشر حقونو ته درناوی او بنسټیزه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازادي وي.

ـ مور او پلار به د خپل ماشوم په اړه د زده کړې د ډول په ټاکنه کې لومړیتوب ولري.

ـ دولت مکلف دی چې د وګړو لپاره بې له کوم توپیره د زده کړې لارې چارې برابرې کړي، چې په دې توګه د خلکو د ذهني روزنې شرایط برابر شي.

د بشر د حقونو په نړیواله اعلامیه کې د داسې نورو ډېرو حقونو یادونه هم شوې ده چې هغه ټول د انسان طبیعي او ټولنیز حقونه ګڼل کېږي.

په نړیواله کچه ټول هغه هېوادونه چې د بشر د حقونو اعلامیه یې لاسلیک کړې ده، په ملي کچه دغه دولتونه مکلف ګڼل کېږي چې د هغو رعایت وکړي. د ملګرو ملتونو د بشري حقونو اداره او د بشر د حقونو بېلا بېلې نړیوالې ټولنې په نړۍ کې د بشري حقونو حالت ته پاملرنه کوي او هغه څاري.

اوس چې زموږ په هېواد کې د سولې، سوکالۍ، ټولنیزو او اقتصادي پرمختګونو لپاره لارې چارې برابرې شوې دي، دولت د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې د لاسلیک کوونکي او ژمن غړي په توګه د بشر حقونو ته پاملرنه کوي. په هېواد کې د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون رامنځته شوی چې د بشر له حقونو څخه دسر غړونې او نورو اړوندو مسایلو د څارنې چارې سمبالوي.

دمتن لنډیز:

هر انسان که ښځه وي او که نر، په ټولنه کې د ژوندکولو، د فکر او بیان د ازادۍ حق، دانساني کرامت او شخصیت د خوندیتوب حق لري. په اسلام کې هم د بشر د حقونو پوره درناوی شوی دی او په نړیواله کچه هم د بشر د حقونو د ورکولو او درناوي په هکله ځانګړي قوانین رامنځته شوي او هېوادونه یې په رعایت کولو اړ او مکلف ګڼل کېږي. اوس داسې ادارې او سازمانونه شته چې په ټوله نړۍ کې د بشر د حقونو حالت له نژدې څخه څاري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ څو زده کوونکي دې په اسلام کې د بشر حقونه د متن له مخې ووايي او څو تنه دې د بشر د حقونو په نړيوالې اعلاميې کې راغلي حقونه د متن له مخې ووايي.

ـ څو زده کوونکي دې په خپله خوښه د متن بېلا بېل پراګرافونه ولولي.

۲ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي : يوه ډله دې په متن کې ((مفردې کلمې)) وليکي او بله دې ((مرکبې کلمې)) او بيا دې د هرې ډلې استازي هغه د ټولګي په مخ کې ووايي.

۳ـ لاندې پوښتنو ته ځواب ووايئ:

- د اسلام دين انسان ته کوم حقونه ورکړي دي؟
- د بشر د حقونو په نړيوالې اعلاميې کې د کومو بشري حقونو يادونه شوې ده؟
- دولتونه د بشري حقونو په هکله په څه مکلف شوي دي؟
- تاسو له دې لوست څخه څه مفهوم ترلاسه کړ؟
- د بشر د حقونو د ورکړې په برخه کې ستاسو نظر څه دی؟
- که په ټولنه کې بشري حقونه ورنه کړل شي، ستاسو په نظر به څه زيانونه رامنځته شي؟

۴ـ په لاندې جدول کې تش ځايونه په مناسبو جملو په پنسل ډک کړئ:

ماضي (تېره زمانه)	حال (اوس مهال)	مستقبل (راتلونکې زمانه)
ما ليک وليکه.		
		احمد به راشي.
	زه لوست وايم.	
		څوک به درس ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵_ لاندې جملې ولولئ او د سمې جملې په مخامخ چوکاټ کې په پنسل نښه وکړئ :

- بشر ته په ټولنه کې حقونه ورکړل شوي دي. ☐
- بشر ته ځيني حقونه ورکړل شوي دي. ☐
- د بشر د حقونو فکر له دويمې نړيوالې جګړې وروسته رامنځته شوی دی. ☐
- له لومړۍ نړيوالې جګړې وروسته رامنځته شو. ☐

کورنۍ دنده

ستاسو په شاوخوا کې د بشر د حقونو حالت څنګه دی؟ په دې اړه له خپل مور او پلار او نورو مشرانو څخه هم وپوښتئ، که مو په زړه پورې څه پيدا کړل، له ځانه سره يې يادداشت کړئ، د بلې ورځې پښتو درسي ساعت کې پرې خبرې وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلسم لوست

بلخي ابن سينا

■ زموږ د هېواد د لرغونو نومياليو پوهانو په ډله کې چې په ملي او نړيواله کچه له لوړ نوم او شهرت څخه برخمن دي، د چا له نامه سره اشنا ياست؟ کومې داسې نامتو څېرې پېژنئ؟

موږ دخپل هېواد په تاريخ کې ډېر نومیالي علمي او فرهنګي شخصيتونه لرو چې وياړلي علمي او فرهنګي کارنامې لري . هغوی نه يوازې زموږ د هېوادوالو، بلکې په نړيواله کچه د ټول بشريت لپاره د وياړ سبب دي . له دغو نومياليو علمي او فرهنګي شخصيتونو څخه يو هم ابن سينا بلخي دی چې په دې لوست کې يې درپيژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابن سینا بلخي زموږ د هېواد او په نړیواله کچه له سترو عالمانو، پوهانو او طبیبانو څخه ګڼل کېږي . اصلي نوم یې حسین دی، په شیخ الرئیس او ابن سینا مشهور دی . په یو روایت په ۳۶۳ هـ . ق . او د یو بل روایت له مخې په ۳۷۰ هـ . ق. کال د بخارا په ((افشنه)) نومي کلي کې زېږېدلی و.

پلار یې عبدالله، د بلخ له نومیالیو څخه و او په سکندریه نومي سیمه کې یې استوګنه لرله.

د منصور بن عبدالمالک ساماني د واکمنۍ په وخت کې بخارا ته چې د سامانیانو پایتخت و، لاړ. څرنګه چې عبدالله ډېر با تد بیره شخصیت و، دربار ته یې لاره پیدا کړه او ډېر ژر د دربار په مخورو کې وګڼل شو، هلته یې د افشنه په کلي کې ((ستاره)) نومې ښځه په نکاح کړه، خدایﷻ زوی ورکړ، نوم یې پرې ((حسین)) کېښود چې وروسته یې د ابن سینا په نوم نړیوال شهرت پیدا کړ. اوس نه یوازې زموږ هېواد پرې ویاړي، بلکې ټوله نړۍ او انسانیت پر هغه ویاړ او فخر کوي.

ابن سینا دومره لوړ استعداد او پیاوړی ذهن درلود چې په لس کلنۍ کې یې قرآن عظیم الشان او نور مروجه دیني علوم، د دین اصول، د ادب د علم اصول، صرف، نحو، لغت، معاني، بیان او نور زده کړل او بیا یې له محمود مساح څخه چې په هغه وخت کې د ریاضي او نورو طبیعي علومو لوی عالم و، ریاضي او نور علوم هم زده کړل.

نوموړی وروسته د طبابت په زده کړه بوخت شو. شپاړس کلن و چې د خپلې سیمې په نومیالیو دیني عالمانو او طبیبانو کې وشمېرل شو، د نوم او شهرت اوازې یې هر لورته خپرې شوې. وایي چې یو ځل نوح بن منصور ساماني پاچا ډېر ناروغه شو، نو ابن سینا د هغه دارو درمل وکړل . هغه ژر جوړ شو، کله چې منصور د ابن سینا دا بې سارې پوهه او استعداد ولید، سمدستي یې هغه ته اجازه ورکړه چې د پاچا له ځانګړي شاهي کتابتون څخه ګټه واخلي .

ابن سینا چې د ډېر تیز ذهن او قوي حافظې خاوند و، په ډېره لږه موده کې یې د هغه کتابتون ډېر مهم کتابونه ولوستل او د هغو زیا تې برخې یې خپلې حافظې ته وسپارلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۲۱ کلنۍ کې يې د کتابونو په تاليف پيل وکړ او د ژوند ډېره برخه يې په ليکلو او لوستلو تېره کړه. هغه هېڅکله په ليکلو او لوستلو نه ستړی کېده. که د ورځې به يې حکومتي او دفتري کارونه کول، نو د شپې به يې تر ډېره وخته مطالعه کوله او يا به يې کتابونه ليکل. هغه په ليکلو کې دومره چټک و چې د خپل مشهور اثر (شفاء) اتلس ټوکه يې په شلو مياشتو کې ليکلي دي.

ابن سينا د پلار تر مړينې وروسته هم په بخارا کې و او د نوح بن منصور ساماني په دربار کې يې ښه درناوی کېده. خو کله چې د سامانيانو واکمني ګډه وډه شوه او د غزنويانو تر سلطې لاندې راغلل، نو ابن سينا ګرګانج ته لاړ.

کله چې سلطان محمود غزنوي ټوله بخارا ونيوله، څرنګه چې هغه د ابن سينا له علمي مقام، نوم او شهرت څخه خبر و، غوښتل يې چې له ځان سره يې غزني ته راولي، په هغه پسې يې خپل استازی ورولېږه، خو را نغی او له هغه ځايه نشاپور ته او بيا جرجان ته ولاړ. هلته د قابوس واکمني وه چې ډېر علم پالونکی واکمن و. د ابن سينا يې ډېر درناوی وکړ. ابن سينا هلته په طبابت لاس پورې کړ او ډېر ژر د لوړ نوم او شهرت خاوند شو. کله چې هلته اړ و دوړ پيښ شو، ابن سينا (ری) او بيا همدان ته لاړ. هلته شمس الدوله امير و. کله چې ابن سينا د هغه د ناروغۍ درملنه وکړه، د وزارت چارې يې وروسپارلې. ابن سينا په همدغه وخت کې د خپل شاګرد ابو عبيدالله په غوښتنه د (الشفاء) او (القانون) مشهور کتابونه وليکل چې نړيوال شهرت لري او په ډېرو ژبو ژباړل شوي دي. ابن سينا د خپل وخت ډېر لوی ديني عالم و. د ديني علومو په بېلا بېلو برخو، لکه تفسير، حديث، فقه، صرف، نحو او نورو په هکله يې زيات شمېر اثار ليکلي دي.

نوموړی يو لوی فيلسوف و. د منطق، فلسفې، روحياتو او اخلاقو په هکله هم ډېر تاليفات لري. لوی طبيب او حکيم و. د طبابت په هکله يې داسې کتابونه ليکلي دي چې اوس هم د اروپا او نورې نړۍ په پوهنتونونو او طبي تعليمي مرکزونو کې لوستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابن سینا په دري، عربي، او ترکي ژبو ښه پوهېده او لیکنې یې پرې کولی شوې او شعرونه یې هم پرې ویلی شول. لنډه دا چې ابن سینا د ژوند او پوهې په هره برخه کې خپل فکر او قلم ازمویلی دی او ډېر ارزښتناک اثار یې رامنځته کړي دي، ((د افغانستان نومیالي)) دکتاب مؤلف د ابن سینا دکتابونو یو اوږد لست راخیستی چې د هغه له مخې یې د ټولو تالیف کړو او ژباړلو کتابونو شمېره ۴۵۴ ته رسیدلې ده.

دغه نومیالی عالم لومړی د قولنج او بیا د میرګیو (صرع) په ناروغی اخته او د ۴۲۸ هـ . ق . کال د روژې په لومړۍ نیټه د جمعې په ورځ په همدان کې وفات او هلته خاورو ته وسپارل شو.

د متن لنډیز:

ابن سینا زموږ د هېواد د نومیالیو علمي فرهنګي شخصیتونو له ډلې څخه دی چې نه یوازې د هېواد او سیمې، بلکې په نړیواله کچه له ستر نوم او شهرت څخه برخمن دی . نوموړی نه یوازې ستر عالم او فیلسوف و، بلکې د خپل وخت له پیاوړو حکیمانو او طبیبانو څخه هم ګڼل شوی دی او داسې علمي اثار یې لیکلي چې اوس د اروپا په پوهنتونونو کې لوستل کېږي او په عامه کچه ترې ګټه اخیستل کېږي.

فعالیتونه

۱ـ هر زده کوونکی دې په خپل وار له متن څخه د خپلې خوښې یو پراګراف ولولي. نور زده کوونکي دې ورته په ځیرتیا سره غوږ ونیسي.

۲ـ هر زده کوونکی دې د خپل څنګ ملګري ته د متن یوه برخه د املاء په توګه ووایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته دې بيا دواړه خپل ليکلي متنونه د کتاب له مخې اصلاح کړي.

۳ـ دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ :

- ابن سينا د عمر په کوم پړاو کې د ديني علومو زده کړه پای ته ورسوله؟
- ابن سينا ته چا اجازه ورکړه چې له شاهي کتابتون څخه ګټه واخلي؟
- د ابن سينا مشهور کتاب څه نوميږي او د څه په هکله دی؟
- د ابن سينا کتابونه چېرې او په کومو طبي ښوونيزو او روزنيزو مرکزونو کې لوستل کېږي؟

۴ـ په متن کې راغلي خاص نومونه او صفتونه په نښه او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.

- دالاندې فعلونه د زمانې له مخې معلوم او په خالي ځايونو کې يې په پنسل وليکئ :
- زه کار کوم ( )
- ته به درس ولولې ( )
- تا ليک ليکلی دی ( )

۵ـ له دې لاندې کلمو څخه په خپلو کتابچو کې جملې جوړې کړئ :

زه	ابن سينا	ښوونکی	لوبې	درس	پلرنی	
درناوی	ګټه	ورځ	تاتوبی	کوم	ته	
وايم	اصلي	ډېر	روغتيا	هره	دی	
بلخ	د خپل	لرې				

۶ـ زده کوونکي دې په دريو ډلو وويشل شي : يوه ډله دې په دې متن کې څو مشکل لغتونه را واخلي، يو تن دې د نورو په استازيتوب هغه پرتخته وليکي. د بلې ډلې څو زده کوونکي دې هغه معنا کړي. د دريمې ډلې څو تنه دې هغه په خپل وار سره په مناسبو جملو کې استعمال کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنۍ دنده

د افغانستان د مشهورو او علمي څېرو په اړه له خپلو مشرانو وپوښتئ او یا که خپله معلومات لرئ په څو کرښو کې یې ولیکئ. په راتلونکي پښتو درسي ساعت کې یې ټولګیوالو ته ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل بالاحصار

■ تاسي کله پخپلو سیمو یا نورو سیمو او ولایتونو کې لرغوني کلاګاني لیدلي دي؟

هغه لوړې کلاګاني چې په لرغونو زمانو کې د پوځي او سیاسي موخو لپاره پر غونډیو او لوړو ځایونو جوړې شوي دي، بالاحصارونه یې بولي. زموږ د هېواد په ځینو ولایتونو کې هم دغه ډول کلاګاني شته چې زیاتره اوس د کنډوالو په توګه پاتې دي، یوه هم د هېواد په پلازمېنه (کابل) کې ده چې د کابل بالاحصار یې بولي. په دې لوست کې یې درپېژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ د هېواد په ځینو ولایتونو کې د پوځي او دفاعي موخو لپاره په لوړو ځایونو کې کلاگانې او بالاحصارونه جوړ شوي دي چې هر یو یې په خپل ځای د تاریخي لرغونتوب له کبله ارزښت لري. هغه کلا گانې چې پر لوړو ځایونو او غونډیو جوړې شوې، د بالاحصارونو په نامه یادېږي. د کندوز، غزني، زابل، پکتیا او کابل بالاحصارونه یې ډېرې ښې بېلگې دي.

د غزني بالا حصار

د کابل د اوسني ښار په سهیل ختیځه برخه کې یوه جنگي کلا ده چې د یوې غونډۍ پر لوړه هواره سطحه له ډېربنو پلنو دیوالونو څخه جوړه شوې او د کابل د بالاحصار په نامه یادېږي.

دا کلا چې له سویل لویدیځې خوانه د شېر دروازې د غره د سر په دیوال پورې نښتې، تر اوسه یې ډېربن برجونه پر ځای ولاړ او د لیدونکو د پاملرنې وړ دي. د بالاحصار په شمالي لمنه کې یو لرغونی کوچنی ښار ودان و. له دې څخه څرگندېږي چې د بالاحصار ارگ د سلطنتي حاکمانو او چارواکو د ناستې، د نغدي پانگو (خزانو) او ارزښتمنو څیزونو د ایښودلو او ساتلو ځای و.

داسې ښکاري چې یو وخت به همدلته د هېواد او سیمې د واکمنانو برخلیک ټاکل کېده، د پاچاهانو پر سر تاجونه ایښودل کېدل او له دغه ځایه د ملي پت او د هېواد د ساتنې، د واکمنۍ د پراختیا او اداره کولو لپاره کارونه سمبالېدل. د کابل لرغوني ښار له بالاحصار پرته د پاچهۍ بل مقر نه درلود.

دې غونډۍ ته په کتنه ویلای شو چې بالاحصار د لوگر د درې په خوله کې پروت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. د ښهر دروازې جوړښت او موقعیت د بالاحصار دفاعي ارزښت نور هم زیات کړی دی چې تر اوسه پورې د کابل بالاحصار، د کابل ښار پر گرد چاپېره د یوې حاکمې نقطې حیثیت لري.دغه ودانۍ چې زموږ د لرغوني تاریخ یوه روښانه ننښه گڼل کېږي، د جوړولو د وخت او نېټې په هکله یې د تاریخ پوهانو بېلا بېلې نظریې موجودې دي.

د تاریخي څېړنو له مخې د دغې تاریخي کلا لرغونتوب د اسلام له راتګ څخه د مخه زماني د یفتلیانو دورې ته رسیږي. دغې تاریخي کلا د وخت په اوږدو کې ډېر زیانونه هم لېدلي دي. د احمد شاه بابا او تیمور شاه د واکمنیو پر مهال بیا رغول شوې ده.

له انګلیسي چارواکي کیوناری سره د افغانانو جګړې او دهغه د وژل کېدو د غچ په موخه د کابل بالا حصار یو ځل د اور په لمبو کې سوځېدلی دی. د نادر خان د واکمنۍ پر مهال بیا ورغول شو او حربي لېسه په کې جوړه شوه. وروسته بیا دا ځای په ۱۳۴۵ هـ .ش. کال کې د حربي پوهنتون لپاره ځانګړی شو.

زموږ د هېواد تاریخي ځایونه او جنګي کلاګانې د دې ښکارندويي کوي چې زموږ نیکونو او پلرونو د خپل هېواد دساتنې لپاره د خپل توان په اندازه زیار ایستلی او زموږ گران هېواد یې د خپلې وینې په بیه د پردیو له ولکې څخه په میړانه ساتلی او موږ ته یې په خپلواکه توګه په میراث پرېښی دی، پر موږ هم لازمه ده چې د خپلو پلرونو او نیکونو په څېر د خپل هېواد د ساتنې او ودانۍ لپاره هلې ځلې وکړو.

سربېره پر دې د یو ارزښتناک فرهنګي میراث په توګه باید د دغې لرغونې ودانۍ بیا رغونې او ساتنې ته ځانګړې پاملرنه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

دکابل بالا حصار د يو لرغوني فرهنګي ميراث په توګه له ستر ارزښت او اهميت څخه برخمن دی. دغه تاريخي کلا چې اوس د يوې کنډوالې په بڼه پاتې ده، د تاريخ په اوږدو کې يې ډيرې لوړې ژورې ليدلې او په هره پيرۍ او پوړۍ کې د واکمنانو د ناستې ځای او پلازمېنه وه. دغه ودانۍ اوس بيا رغونې او د ساتنې لپاره ځانګړې پاملرنې ته اړتيا لري. د کابل بالاحصار د افغانستان د تاريخ يوه نه هيريدونکې او د ارزښت وړ برخه ده.

فعاليتونه

۱_ زده کوونکي دې په خپل خپل وار د لوست يو يو پاراګراف په لوړ اواز ولولي.

۲_ په خپلو کتابچو کې پنځه داسې جملې وليکئ چې له متن سره نږدې تړاو ولري.

◆ له متن څخه پنځه داسې کلمې راخوښې کړئ چې د ((پ)) په توري پيل شوې وي په خپلو کتابچو کې يې وليکئ او په مناسبو جملو کې يې وکاروئ.

۳_ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي: د يوې ډلې يو تن دې د نورو په استازيتوب د متن يو پراګراف ولولي. ښوونکی دې د هغه په اړه ځينې پوښتنې پر توره تخته وليکي او د هغې بلې ډلې له ځينو زده کوونکو څخه دې يې ځواب وغواړي. بيا دا بله ډله هم په همدغه ډول له متن څخه بل پراګراف لولي، ښوونکی يې پوښتنې پر تخته ليکي او د بلې ډلې له څو زده کوونکو څخه يې ځوابونه غواړي. دا لړۍ د وخت په پام کې نيولو سره دوام مومي.

۴_ دې لاندې جملې ته دې هر زده کوونکی د خپل ذوق له مخې په مناسبه توګه پراختيا ورکړي او په پنسل دې څو پرله پسې معنا لرونکې جملې وليکي:

مورښو ونځي ته د زده کړې لپاره راځو او غواړو چې ....

....

....

....

۵_ دغو لاندې پوښتنو ته ځواب ووايئ:

- بالاحصارونه د کومو موخو او هدفونو لپاره جوړ شوي دي؟
- بالا حصارونه اوس موږ ته څه ارزښت او اهميت لري؟
- که د بالاحصارونو بيا رغونه او ساتنه ونشي، څه به پيښ شي؟
- که چېرې د هېواد په يو بل ولايت کې کوم بالاحصار پېژنئ د هغه په هکله د ټولګيوالو په مخکې څه ووايئ.

۶_ دوې داسې جملې وليکئ چې دوه صفتونه پکې راغلي وي.

_ درې داسې جملې وليکئ چې د درې واړو زمانو (اوس مهال _ تير مهال _ راتلونکی مهال) فعلونه پکې راغلي وي.

۷_ ځينې زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راوبلل شي چې د بالاحصار د ارزښت او اهميت په اړه خبرې وکړي.

کورنۍ دنده

که په سيمه کې مو کومه پخوانۍ کلا يا ودانۍ وي، په اړه يې معلومات وليکئ د پښتو په بل درسي ساعت کې يې د ټولګي په وړاندې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سبا فکر

هر څوک د خپلې راتلونکې په فکر کې وي. زيار ګالي، کړاوونه زغمي، هڅه کوي او په دې هيله وي چې سبا يې تر نن ښه شي. خواران په دې هيله وي چې بډايان شي. زده کوونکي په دې هيله وي چې زده کړه يې سرته ورسيږي. د هېواد او ټولني خدمت ته اماده شي. مساپر په دې تکل کې وي چې خپل کور، کلي او ټاټوبي ته ورسيږي. رنځوران په دې ارمان وي چې له رنځ او ربړې څخه خلاص شي.

همدغه د سبا د ښه والي هيلې او هڅې دي چې د نړۍ په هر څه کې پرله پسې بدلون، پرمختګ او سمون راولي. له چا سره چې د خپلې سبا ورځې فکر نه وي، خپلې ښې ايندې ته اميدوار نه وي او د خپلو ښو هيلو د پوره کېدو له پاره زيار و نه باسي، هغه په ژوند کې نېکمرغه کېدلی نه شي. انسان د اميد او عمل په رڼا کې پرمختګ کوي.

موږ چې نن په ښوونځي کې سبق وايو، بايد خپلې سبا ته اميدواره واوسو. دا په دې کېږي چې غير حاضري ونه کړو، خپل درسونه ښه ياد کړو، کورنۍ دندې ترسره کړو. د خپلو ښوونکو په لارښوونو عمل وکړو او له همدغې شيبې څخه د کار او زيار لپاره تکل وکړو او ورته ملا وتړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوولسم لوست

ادیبه او باتدبیره مېرمن

بي بي زينب



▪ تاسې د هېواد په پخوانيو نوميالیو مېرمنو کې د چا له نامه سره اشنايي لرئ؟

زموږ لرغوني هېواد د تاريخ په اوږدو کې له ښځو او نارينه وو څخه ډېر نوميالي علمي، فرهنگي او سياسي شخصيتونه په خپله غېږه کې روزلي او پاللي دي. د دوی وياړلي کارنامې د تاريخ په پاڼو کې په زرينو کرښو ليکلې شوي دي.

يوه له دغو نوميالیو څخه مېرمن زينب ده چې د فرهنگ او سياست په دواړو ډگرونو کې تلپاتې کارنامې لري، په دې لوست کې يې درپېژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بي بي زينب چې زموږ د هېواد د نومياليو فرهنګي او سياسي شخصيتونو له ډلې څخه ده، د ملي مشر ميرويس خان نيکه لور وه.

نوموړې د خپل وخت د دوديزو ديني او ادبي علومو زده کړې په هغه وخت کې د کندهار له نوميالي ديني عالم ملا نور محمد غلجي څخه چې د ميرويس نيکه د کورنۍ ځانګړی ښوونکی و، ترسره کړې وې.

زينب چې له غوره اخلاقو، لوړې پوهې او فضيلت څخه برخمنه مېرمن وه، سربېره پردې چې د خپلې کورنۍ د ښځو د ښوونې او روزنې او ليک لوست د زده کړې چارې يې په پوره اهتمام سرته رسولې، له خپل ورور شاه حسين هوتک سره يې هم د حکومت د چارو په سمبالښت کې مرسته کوله.

د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک چې د دغې نوميالۍ مېرمنې هم مهال ليکوال او د شاه حسين هوتک د دربار له علمي، ادبي شخصيتونو او مخورينو څخه و، په ((پټه خزانه)) کې يې د دې نوميالۍ مېرمنې د پيژندګلوۍ په اړه ليکلي دي:

((بي بي زينب ډېره هوښياره، عالمه او په چارو پوهه ښځه ده، د پاچا (شاه حسين هوتک) په چارو کې تدبيرونه کوي. په خپله رايه او مشوره د چارو ستونزې حل کوي. د وخت پاچا د هغې په مشورو عمل کوي او نصيحتونه يې په غور اوري.))

د پټې خزانې د مؤلف د څرګندونو له مخې بي بي زينب د ديني علومو او د حکومت په کارونو کې پر پوهې سربېره اديبه او شاعره هم وه. د پښتو او دري شاعرانو د اشعارو ژوره مطالعه يې درلوده. پخپله يې هم پښتو شعر وايه او د اديبانو او شاعرانو ډېر درناوی يې کاوه. د ژوند ډېره برخه يې په عبادت، مطالعه او د پاچا د حرم مېرمنو ته د علومو په تدريس او دليک لوست د ښودنې په چارو تېراوه.

د ((تاريخ افاغنه)) د ليکوال سيد ظهورالحسن موسوي د وينا له مخې هغه مهال چې نادر افشار پر کندهار بريد وکړ او ښار يې کلا بند کړ، بي بي زينب په دغه يو کال او څو مياشتنۍ دفاع کې د يادونې او ستاينې وړ نقش درلود او د هغو افغاني مشرانو په ډله کې هم شامله وه چې د متارکې د شرطونو په باب يې په ۱۱۴۹ هـ . ق. کال له نادر افشار

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره خبرې کولې.

د دغې نومیالۍ مېرمنې ژوند تر همدغه پورتني کال پورې يقيني دی. کله چې نادر افشار کندهار ونيو، شاه حسين هوتک يې له خپلې کورنۍ سره د فارس مازندران ته جلا وطنی کړ، مېرمن زينب هم له خپل ورور سره په دغه سفر کې ملګرې وه. تر دې وروسته يې بيا د ژوند د پېښو په هکله تاريخي سند او معلومات په لاس کې نشته.

د مېرمن زينب د شعرونو ديوان تر اوسه نه دی ترلاسه شوی. د شعر يوه بېلګه يې چې په ۱۱۳۷ هـ . ق . کال يې د خپل ورور شاه محمود هوتک د مړينې په ويرنه کې ويلې، د پټې خزانې په وسيله خوندي شوې او تر موږ رارسيدلې ده. د دغه شعر په لوستلو سره موږ ته د نوموړې مېرمنې علمي او ادبي ځېره ښه راڅرګند يدای شي. په پای کې يې د شعر څو کرۍ لولو:

غږ سو چې ورور تېر له دنيا سو، نا
کندهار واړه په ژړا سو، نا
زړه مې په وير کې مبتلا سو، نا
چې شاه محمود له ما جلا سو، نا
دا روڼ جهان راته تور تم دی، نا
زړه د بيلتون په تيغ کړم دی، نا
هوتک غمجن په دې ماتم دی، نا
د پاچهۍ تاج مو برهم دی، نا
چې شاه محمود تېر له دنيا سو، نا
کندهار واړه په ژړا سو، نا

×××

ځوان و، مېړه د توري جنګ و، نا
ولاړ د کام په نام او ننګ و، نا

شاه محمود هوتک

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښمن له ده په وینو رنگ و، نا
پر میدان شېر و یا پلنگ و، نا
افسوس چې مرگ د ده په خوا سو، نا
کندهار واړه په ژړا سو، نا

×××

محموده نه یوازې خور ژاړي
پر مرگ دې ټوله کلی کور ژاړي
خپلوان لا څه پاچا دې ورور ژاړي
پښتون دې ټول په واویلا سو، نا
کندهار واړه په ژړا سو، نا

×××

اصفهان پاته تاج نسکور عالمه
چې شاه محمود سو نن په گور عالمه
د پښتون لمر سو، تیاره تور عالمه
راته دښمن به کا پیغور عالمه
چې پاچا ولاړ پښتون گدا سو نا
کندهار واړه په ژړا سو نا

×××

لښکر سو خپور پښتون ولاړ دی اریان
په خاورو ځای کا شاه محمود عالیشان
پاته سو تخت و تاج د ټول اصفهان
زړه یې راسوړ سو، کا خوښي دښمنان
وایي پښتون اوس بې پاچا سو، نا
کندهار واړه په ژړا سو، نا

(c) ketabton.com: The Digital Library

اورم ناري د غم چې کړینه فریاد
پښتون په مرګ د شاه محمود سو برباد
زړونه چې تل به و، ښادمن سوه ناښاد
د ساندو رږغ دی چې راوړینه یې باد
ماتم زده پیر و برنا سو، نا
کندهار واړه په ژړا سو، نا

×××

وروره! مقر دې ستا مولا کي جنت
در دې کي تاته پسله مرګه راحت
روح دې وه ښاد په لویه ورځ د قیامت
مخ دې وه روڼ د خدای په مهرو رحمت
د خالق رحم تل پر تا سو، نا
کندهار واړه په ژړا سو، نا

د متن لنډیز:

بي بي زینب د میرویس خان نیکه لور، عالمه، ادیبه، فاضله مېرمن وه. د خپلې کورنۍ ښځو ته د لیک لوست او دیني علومو پر زده کړه سربیره یې له خپل ورور شاه حسین هوتک سره د سلطنت او واکمنۍ د چارو په سمبالښت کې هم مرسته کوله. شاعره هم وه او په ادبیاتو کې یې ژوره مطالعه درلوده. د شعر دیوان یې تر اوسه نه دی ترلاسه شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱_ د دغه متن یو یو پراگراف دې زده کوونکي په خپل خپل نوبت په لوړ غږ ولولي.

۲_ ځینې زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راوبلل شي چې د شعر مفهوم په خپلو الفاظو کې ووايي.

۳_ دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایئ:

- مېرمن زینب څوک وه؟
- مېرمن زینب د خپلې کورنۍ ښځو ته د علومو او د لیک لوست په زده کړې سربېره نورې څه چارې پر مخ بیولې؟
- د مېرمن زینب په اړه کره معلومات موږ ته له کومو کتابونو څخه ترلاسه شوي دي؟

۴_ متن دې په غور ولوستل شي او په هغه کې دې راغلي خاص نومونه په کتابچو کې ولیکل شي.

۵_ پنځه داسې جملې ولیکئ چې د پښتو ښځینه «ی» ګانې پکې راغلي وي.

۶_ په دې لاندې جملو کې خالي ځایونه په مناسبو کلمو په پنسل سره ډک کړئ:

- مېرمن زینب زموږ د ملي مشر .... لور وه.
- زینب یوه عالمه، فاضله او .... مېرمن ....
- مېرمن زینب له خپل ورور .... سره د پاچاهۍ د چارو په سمبالښت کې .... کوله.

کورنۍ دنده

که مېرمن زینبې ته ورته کومه شاعره پېژنئ په اړه يې معلومات ولیکئ. په دې اړه له کتاب، مور او پلار نه هم مرسته غوښتې شئ. بله ورځ يې په ټولګي کې واوروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب او کتابتون

■ تاسې د ښوونځي له کتابونو پرته کله نور کتابونه مطالعه کړي دي؟
که مو مطالعه کړي وي چېرې، کوم او د چا کتابونه وو؟
د پوهې او معلوماتو د ترلاسه کولو او د ذهني ودې لپاره کتاب تر ټولو غوره او اغېزناکه وسیله ده. د کتابونو تر لاسه کولو او مطالعې لپاره بیا تر ټولو ښه ځای کتابتون دی. په دې لوست کې د کتاب، کتابتون او مطالعې په اړه معلومات درکوو.

مونږ په داسې زمانه کې ژوند کوو چې کتابونه ډېر او ترلاسه کول یې اسانه دي. اوس هم ډېر وګړي د کتاب په قدر او ارزښت نه پوهېږي او له ګټو یې ناخبره دي. دوی په دې نه دي پوه چې کتاب هغه ښوونکی دی چې مونږ ته وړیا او بې له کوم بدله زده کړه او معلومات را کوي. هیڅکله نه ستړی کېږي، تل مونږ ته سترګې پر لار دی. هر وخت مو چې ورته مراجعه وکړه، په ورین تندي مو مني او هر کلی راته وایي. هر څه چې ترې وپوښتو په نرمۍ او سړه سینه ځواب راکوي او په هغه څه چې نه پوهېږو، په ډېره مهربانۍ یې را زده کوي.

که په غور وګورو له کتاب څخه غوره شی او له کتابتون څخه غوره ځای په نړۍ کې نشته. که څوک غواړي چې د سوکاله او نیکمرغه ژوند خاوند شي، خپله موخه دې د کتابتون په ګوښه او د کتابونو په پاڼو کې ولټوي او پردې دې ډاډه اوسي چې ((پلټونکی موندونکی دی.))

کتاب د انسان لپاره ډېر ښه دوست او ملګری دی. له کتاب سره ملتیا او ملګرتیا، مونږ د عادي وګړو له چاپېریال څخه د ډېرو لوړو افکارو او تصوراتو نړۍ ته بیا یي، له لوړو او سترو انسانانو سره مو ملګري کوي او د هغو له فکر او نظر څخه مو خبروي.

کله چې مونږ کتابتون ته ننوځو، هلته په ښکاره یو څو الماری وینو چې کتابونه او پاڼې پکې ځای پر ځای شوي دي، نوره چوپه چوپتیا خپره وي او هېڅ غږ پکې نه اورېدل کېږي. کله چې کتاب را واخلئ او پاڼې یې واړوئ، هماغه غلی کتاب په خبرو پیل وکړي، په حیرانوونکې چټکتیا سره مو تر لیرې لیرې واټن پورې بیایي. یو نومیالي ایټالوي پوه ((پترارک)) د خپلو کتابونو او کتابتون په ستاینه کې له پند او خوند نه ډکې ډېرې خبرې لري. نوموړی وایي:

((زه یوه ډله ملګري او دوستان لرم چې شپې او ورځې له هغو سره تېروم. زما ټول دوستان د نړۍ نومیالي دي چې پېړۍ او زمان پکې خوندي دی. دغو دوستانو ډېر لېرې واټنونه وهلي او زما تر کوره رارسیدلي دي. دوی زما په زړه او سترګو کې ځای نیولی دی. هر وخت چې وغواړم، د هغو لیدو ته ورځم او چې هر چېرې ځم له ځان

سره یې بیایم. دومره خوږ ژبې دي چې څوک یې په خبرو نه مړېږي. د ژوند پټ رازونه راته څرګندوي. د تېرې زمانې د پند او خوندکیسې راته کوي او د انسانانو برخلیکونه راښيي. په دې مې پوهوي چې څرنګه ژوند وکړم. چې خواشینی شم په خوږو او مالګینو خبرو مې د غم اور وژني او خوښوي مې. د نیکمرغۍ لارې راښيي او هغو ته د رسېدو لپاره خپلې غوره لارښوونې له ما څخه نه سپموي.

دا چې زما دا ملګري او دوستان ما ته څومره ګټې را رسوي، زما ژبه یې د ستایلو او شمېرلو وس او توان نه لري.))

کتاب هغه خواخوږی او مهربان ملګری دی چې خیانت، دوه مخې توب، کینه نه پېژني او په زړه کې یې رښتینوالي، وفا او لورینه په څپو ده. له خپل ملګري او مینه وال سره یې هیڅ کله هم خیانت نه دی کړی او نه یې کوي. کټ مټ د یوې هندارې په څېر، ښه او بد پکې بې له تېروتنې پخپل رنګ بریښي او خپل هر څه زموږ مخې ته ږدي. رښتیا رښتیا وایي، عمر یې تېر کړی، تجربې یې ترلاسه کړې، له هر بڼ نه یې رنګا رنګ ګلونه راټول او ښکلې غونچې یې ترې جوړې او زموږ مخې ته یې ایښې دي.

په یوازېتوب کې له موږ څخه نه غافله کېږي او نه پرېږدي چې زموږ یوه شیبه عمر هم بې ځایه تېر شي.

که زموږ د تېر ژوند تیاره ګوټونه روښانه کوي او د تېرو خلکو کړه وړه، ټولنیزې اړیکې، تدبیر او برخلیک راته بیانوي، د هغوی سربښندنې، علمي او ادبي غورځنګونه، بېلا بېلې موندنې، موجودې ستونزې او هلې ځلې زموږ د سترګو په وړاندې انځوروي چې موږ یې د خپل ژوند سرمشق وګرځوو او د عبرت درس ترېنه واخلو. کله بیا زموږ غوږونو ته د خوږ ژبو ویناوالو خوږې، له ساز او سوزه ډکې ویناوې زمزمه کوي او کله بیا د یو خوږ ژبې واعظ په توګه موږ ته د ژوند، پند او خوند خبرې کوي اوپه غوره افکارو مو د زړه او ذهن روزنه او پالنه کوي. دیني، اخلاقي او ټولنیزګټور معلومات او پوهه راته وړیا ډالۍ کوي.

خو په یاد ولرئ چې له ښو کتابونو سره مینه لرل د انسان لپاره د ډېرې ښې ملګرتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیری دی. پام کوئ چې بې ځایه هوسونه مو د نفس د بې لارې کولو په لټه او تکل کې دي، یوازې او یوازې همدا ملګری مو له دغې تېروتنې، ښوییدنې او ناورین څخه ژغورلی شي. هره ورځ مو په بره بیایي، فکر او خیال ته مو د الوتولو او لوړ تللو واک او ځواک ورکوي، پوهه مو بشپړ وي، اخلاق مو غوره کوي او روح مو خوځنده او پیاوړی کوي.

د هر چا لپاره، خو په ځانګړې توګه د ځوانانو لپاره کتاب ډېر او تر هر څه غوره ملګری دی، نو له لوستلو یې ډډه مه کوئ. له ښه کتاب سره د ژورې مینې په پایله کې به پوه شئ چې دغه ملګری تاسو ته څومره ګټور دی.

د کتاب، مطالعې او کتابتون له دې دومره ښیګڼو او ګټو سره سره باید دې ته مو پام وي چې د کتابونو په مطالعه او ساتنه کې له ډېر غور او احتیاط څخه کار واخلو. کله چې غواړو د مطالعې په وسیله خپله معلوماتي پانګه زیاته او ذهني ځواک پیاوړی کړو، لومړی باید د لوستلو لپاره غوره، ګټور او باوري کتابونه وټاکو. په دویم ګام کې باید د مطالعې او لوستلو پر مهال خپل جسمي ځواک ته هم پوره پاملرنه وکړو. هسې نه چې په دې برخه کې په افراطي کړنې سره خپل جسم او ذهن له اندازې زیات ستړی او زیانمن کړو.

د متن لنډیز:

سره له دې چې اوس مهال کتابونه او کتابتونونه ډېر دي، او ورته لاس رسی اسانه دی، خو بیا هم ډېر داسې وګړي شته چې د کتابتون په ګټه او ارزښت نه پوهیږي. حال دا چې له کتاب څخه بل غوره او وفادار ملګری نشته.

کتاب هر وخت ستاسو د خدمت او استفادې لپاره چمتو دی. کتاب او مطالعه ډېرې ګټې لري، خو باید چې د مطالعې له پاره غوره او ګټور کتابونه انتخاب کړو او هم په مطالعه کې ډېر افراط ونه کړو چې جسم او ذهن ته مو زیان ورسیږي.

فعالیتونه

۱_ ځینې زده کوونکي دې په ترتیب سره د لوست یو یو پرګراف د ټولګي په وړاندې په لوړ غږ ولولي، نور دې غوږ ونیسي چې د کلمو سم تلفظ زده کړي.

۲_ زده کوونکي دې په خپله خوښه د دغه لوست پنځه پنځه جملې په کتابچو کې ولیکي، بیا دې هغه د خپلو ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

۳_ متن دې په غور ولولي، په هغه کې دې صفتونه پیدا او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي، بیا دې هغه د ټولګي په وړاندې په لوړ غږ ولولي. نور زده کوونکي دې هغه صفتونه چې د دوی په لست کې نشته پرې ورزیات کړي.

۴_ زده کوونکي دې د کتابتون په څېر نورې ترکیبي کلمې د ((تون)) په یو ځای کولو سره بشپړې کړي:

کتاب + تون = کتابتون

روغ + =

درمل + =

پوهنه + =

ننداره + =

زیږن + =

وړک + =

۵_ دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایئ:

- خنګه کولی شو خپله پوهه او معلومات زیات کړو ؟
- تاسې د کوم ډول کتابونو له لوستلو سره مینه لرئ او ولې ؟
- د کتابونو د ښه او خوندي ساتلو لپاره کومې لارې چارې غوره ګڼئ؟
- د کتاب لوستل او مطالعه څه ګټه لري ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶_ د لاندې جملو تش ځايونه په پنسل سره په مناسبو کلمو ډک کړئ:

- کتابتون د مطالعې .... تر ټولو غوره .... دی.
- د کتاب مطالعه زموږ .... او ....زياتوي.
- زه د ښوونځي له .... پرته نور .... هم مطالعه کوم.

کورنۍ دنده

که په خپل کور او يا د کوم نږدې خپلوان او ملګري په کور کې مو کتابونه وي، د هغو د ځينو کتابونو او د هغو د ليکوالو نومونه وليکئ. د ښونځي لوست په راتلونکي ساعت کې يې د ټولګيوالو په وړاندې ولولئ.

نېکمرغه هغه څوک دی چې له دوو شيانو څخه يو ولري:
يا ښه او غوره کتابونه يا داسې دوستان او ملګري چې کتابونه لري.
(ويکتور هوګو)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نولسم لوست

د سولې نړۍ

- سوله او امن څه ته وايي؟
- که په کومه سيمه، ټولنه يا هېواد کې سوله او امن نه وي، وګړي به له څه ډول ستونزو سره مخامخ شي؟

سوله او امن د بشري ژوند د سوکالۍ او ټولنيزې پرمختيا لپاره ډېر ضروري دي. تر هغه چې په يوه ټولنه يا هېواد کې اوان دا چې که په نړيواله کچه په سيمه او نړۍ کې سوله نه وي، بشري ژوند به له ستر خطر او ګواښ سره مخامخ وي. که په يوه هېواد کې نا امني رامنځته شي، د نړۍ نور، په ځانګړې توګه ګاونډي هېوادونه ورځخه په کلکه اغېزمن کېږي. دلته په دې لوست کې د ګل پاچا الفت يو شعر لولو چې پکې د سولې د ارزښت او اهميت په هکله ژورې خبرې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ورځ به بختوره وي هر ګوره
چې د سپینو زړونه تور نه وي له توره
کرکه نه وي یوله بله محبت وي
ورورولي سوله صفا وي ښه نیت وي
مرور خلک یو بل سره پخلا شي
نه چې غوښنه او چاره هغه اودا شي
بشري دوستي قایمه په جهان وي
خوښ په سوله هم کافر هم مسلمان وي
نژادي توپیر هیڅ نه وي په دنیا کې
نه په شرق او نه په غرب نه امریکا کې
استقلال منلی حق د هر ملت وي
خو قایم په ملتو کې اخوت وي
دا څورنګه ساز آواز د هیواد ونو
شي یوه ارکسترا د ولسونو
د ګډ ژوند اصل و اساس اصلي منظور وي
جهاني عدل و انصاف صحیح دستور وي
هر ملت په هر نظر کې وي ښاغلی
که په هر رنګ و آیین کې وي راغلی
سرېتوب وي محترم په هر لباس کې
په زري جامو کې وي که په کرباس کې
داسې وساتي هر څوک خپل مسلکونه
چې ونکړي یو له بل سره جنګونه
ټول جهان د دوستۍ کور وي سر تر سره
د جنګ وېره شي له زړونو نه بهره

(c) ketabton.com: The Digital Library

زور ترلی وي د سولې په قانون
مهار شوي مست اوښان وي د جنون
تویول د وینو شرم او پېغور وي
شرمنده ذلیل سر ټیټی ظلم زور وي
جګ شي هر چېرته د سولې بېرغونه
شي په سمه لار روان سیاستونه
د انسان زړګی له جنګ او جګړې تور شي
توره ماته شي او جوړ ورنه څه نور شي
خو له نه وي علامه د خجالت
په خدمت خولې کېدل وي شرافت
یو له بله محبت مهرباني وي
د ((الفت)) هیله او فکر جهاني وي
زه له تا څنې ځارېږم ته له مانه
که جدا هم وي زما آیین له تانه

د متن لنډیز:

شاعر په شعر کې د سولې د نړۍ په زړه پورې انځور وړاندې کړی او د داسې یو چاپېریال هیله او غوښتنه یې کړې چې په ملي او نړیواله کچه سوله ورورولي وي. وګړي په خپل هېواد او هم په نړۍ کې سره پخلا وي. د جنګ جګړې ویره د خلکو له زړونو وتلې او یو له بل سره په سوله، خواخوږۍ او همدردۍ کې ژوند وکړي. له وینې تویولو څخه ژوره کرکه او سوله بیز ژوند ته لیوالتیا موجوده وي. د شاعر هیله د ټولې نړۍ د دولتونو ترمنځ سوله، ورورۍ او برابري ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شاعر پېژند ګلوي:

ګل پاچا الفت د مير سيد پاچا زوی په ۱۲۸۸ هـ . ش . کال د لغمان په عزيز خان کڅ کې زېږېدلی و. د پښتو ټولنې علمي غړی و او څو کاله يې د دغه فرهنګي اداري د مشر په توګه هم دنده ترسره کړې وه. د پښتو ژبې پياوړی ليکوال، شاعر او کره کتونکی و. په لس ګونو علمي، ادبي ځانګړې کتابونه او په سلګونو مقالې يې په مطبوعاتو کې خپرې شوې دي.

د ۱۳۵۶ هـ . ش . د ليندۍ په ۲۶ نېټه مړ دی.

فعاليتونه

۱_ زده کوونکي دې په وار سره متن د ټولګي په وړاندې په لوړ غږ ولولي.

۲_ يو زده کوونکی دې پر تخته له متن څخه د خپلې خوښې يو بيت وليکي. بل زده کوونکی دې پخپله د هغه د معنا او تحليل لپاره پورته شي.

۳_ ځينې زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي د شعر د عمومي محتوا په اړه دې خبرې وکړي.

۴_ دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايئ:

- سوله څه ته وايي؟
- امن او امنيت کومې نېکمرغۍ رامنځ ته کوي؟
- سوله څه ګټې لري؟

کورنۍ دنده

د جګړې د زيانونو په اړه که مو کومه کيسه يا د چا په هکله کومه پېښه ليدلې او يا اورېدلې وي، د پښتو ژبې په بل درسي ساعت کې يې په ټولګي کې په وار سره خپلو ټولګيوالو ته ووايast.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قیدونه

ژبه پر انسانانو باندې دالله جل جلاله یوه ستره لورینه ده. له ژبې څخه په ټولنه کې د پوهونې راپوهونې لپاره د یوې اغېزمنې وسیلې په توګه کار اخیستل کیږي. ژبه له غږونو څخه جوړه شوې ده چې له غږونو څخه کلمې جوړېږي او کلمې بېلا بېل ډولونه لري، لکه: (نومونه، صفتونه، ضمیرونه، فعلونه، قیدونه او نور.)

تاسې د مخه په یو لوست کې فعلونه وپېژندل، قیدونه هغه کلمې دي چې د فعل د پېښېدو څرنګوالی ښيي یا د هغه د پېښېدو ځای، یا یې څرګندتیا، اړوندتیا او داسې نورې ځانګړنې جوتوي. په دې لوست کې قیدونه درپېژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قیدونه هغه کلمې یا ژبني توکي دي چې په یوه جمله کې د فعل معنا او څرنګوالی رابښيي. یا په بله وینا: قیدونه هغه ژبني عناصر دي چې د یو فعل د پېښېدلو څرنګوالی ښيي. همدا څرنګوالی د فعل د پېښېدو ځای یا مهال ټاکي او یا یې څرګندتیا، اړوندتیا، ټینګار او داسې نورې ځانګړنې څرګندوي.

د قید ډولونه:

په پښتو ژبه کې قیدونه پر دوو ډولونو وېشل شوي دي: اصلي او غیر اصلي یا نه ګردانیدونکي او ګردانیدونکي. دلته یې هر ډول په ځانګړې توګه در پېژنو:

الف، اصلي یا نه ګردانیدونکي قیدونه:

نه ګردانیدونکي قیدونه په پښتو کې دا لاندې ډولونه لري:

۱_ د زمان او مهال قید:

چې د وخت او مهال له مخې د یو فعل پېښېد نه ښيي، لکه:

اوس، دمخه، پخوا، وړاندې، سملاسي، وړمه ورځ، پرون ورځ، نن، سبا، دوخته، ناوخته، کله کله، کله نا کله، تل، هېڅکله، هره ورځ، سهار، غرمه، سرکال، پروسږکال، ورم کال، کال ته، بل کال ته، لمر خاته، لمر پرېواته او نور.

۲_ د ځای یا مکان قید:

د یو فعل پېښېد نه د ځای او چاپېرېال له مخې څرګندوي، لکه: دلته، هلته، مخکې، وروسته، شاته، مخ ته، ښکته پورته، لاندې، باندې، اخوا، دېخوا، له لېرې، له نژدې، مخ ښکته، مخ پورته، له پاسه، له لاندې او نور.

۳_ د څرګندونې او ټینګاري قیدونه:

د یو فعل د پېښېدنې د څرګندتیا حالت یا ټینګار ښيي، لکه: په ښکاره، په پټه، په ځغرده، په ډاګه، په مېړانه، په نره، په خړو سترګو، په جګو سترګو، زړه نازړه، په ناسته، په ولاړه، په منډه، هرو مرو، خوشې په خوشې، څه ناڅه، لږو ډېر، په کلکه، په ټینګه، غاړه په غاړه او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب ـ غیر اصلي یا گردانیدونکي قیدونه:

په پښتو کې ځینې داسې قیدونه شته چې کله له لازمي فعل سره راشي، هلته بیا د جملې د فاعل لپاره گردانیږي، خو که له متعدي فعل سره راشي، په دغسې حالت کې بیا د جملې د مفعول لپاره گردانیږي.

د یادونې وړ ده چې دغه گردان د جنس عدد او شخص له مخې تر سره کیږي.

۱ـ له لازمي فعل سره:

ناتېره زمانه

(مفرد) زه (نارینه) درووند درووند گرځم.

(جمع) زه (ښځینه، مؤنث) درنده درنده گرځم.

موږ (نارینه) دراونده دراونده گرځو.

موږ (ښځینه) درندې درندې گرځو.

تېره زمانه

زه (نارینه) درووند گرځیدم.

زه (ښځینه، مؤنث) درنده درنده گرځېدم.

موږ (نارینه) دراونده دراونده گرځېدو.

موږ (ښځینه) درندې درندې گرځېدو.

همداسې تر پایه (ته، تاسې، دغه ....) کې هم گردانېږي.

یادونه: په پورتنیو بېلگو کې فعل لازمي دی او قید (درووند ـ درووند) د جملې د فاعل لپاره گردان شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲_ له متعدي فعل سره:

ناتېره زمانه

(مفرد) حبيب ما (نارينه) پوخ پېژني.

حبيب ما (ښځينه) پخه پېژني.

(جمع) حبيب موږ (نارينه) پاخه پېژني.

حبيب موږ (ښځه) پخې پېژني.

تېره زمانه

حبيب زه (نارينه) پوخ پېژندلم.

حبيب زه (ښځينه) پخه پېژندلم.

حبيب موږ (نارينه) پاخه پېژندلو.

حبيب موږ (ښځينه) پخې پېژندلو.

همداسې تر پايه (تاسې، دغه ...) هم گردانېږي.

د يادونې وړ ده چې په پورتنيو بېلگو کې فعل متعدي دی او قيد (پوخ) د جملې د مفعول لپاره گردان شوی دی.

د پورتنيو دواړو بېلگو څخه څرگندېږي چې ځينې قيدونه هم گردانېږي. په دې مفهوم کله چې فعل لازمي وي، قيد د جملې د فاعل لپاره د جنس او عدد له پلوه گردانېږي، يعنې بڼه يې بدلون مومي او کله چې د جملې فعل متعدي وي، نو هلته بيا قيد د جملې د مفعول لپاره د جنس او عدد له مخې گردانېږي.

د متن لنډيز:

قيدونه هغه کلمې دي چې په جملو کې د فعل د معنا څرنگوالی جوتوي.

قيدونه په دوه ډوله دي: يو ته يې اصلي يا نه گردانيدونکي قيدونه او بل ته يې غير اصلي يا گردانيدونکي قيدونه وايي. اصلي قيدونه هم ځانگړې ډولونه لري چې په هغو کې د زمان او مهال قيد، د ځای قيد او د تاکيد يا ټينگار قيدونه شامل

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. گردانیدونکي یا غیر اصلي قیدونه له لازمي او متعدي فعلونو سره په تېره او نا تېره زمانه کې راځي. په لازمي فعل کې د جملې د فاعل او په متعدي فعل کې د مفعول لپاره گردانیږي.

فعالیتونه

۱ـ یو زده کوونکی دې د تختې پر مخ داسې یوه جمله ولیکي چې قید پکې راغلی وي. له بل زده کوونکي څخه دې وغوښتل شي چې په هغې کې قید پیدا کړي او بل زده کوونکي دې هغه قید په مناسبه جمله کې وکاروي.

۲ـ دې لاندې پوښتنو ته ځواب ووایئ:

- قیدونه څه ډول کلمې دي؟
- اصلي یا نه گردانیدونکي قیدونه کوم دي؟
- هغه کوم قیدونه دي چې له لازمي فعل سره راشي د فاعل لپاره او که له متعدي فعل سره راشي د مفعول لپاره گردانیږي؟
- ولې په جملو کې له فعل سره قیدونه راوړل کیږي؟

۳ـ هر زده کوونکی دې د خپل څنگ زده کوونکي ته د متن یوه برخه د املاء په توگه ووایي، بیا دې هغه متن دواړه د کتاب له مخې وگوري که څه غلطۍ ولري هغه دې سمې کړي.

۴ـ دا لاندې قیدونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ او په مناسبو جملو کې یې وکاروئ:

ژر ژر ورو ورو په وخت ناوخته شاته مخ ته

۵ـ له څینو زده کوونکو څخه دې وغوښتل شي چې د ټولگي په وړاندې د قیدونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پېژندنې او اهمیت په هکله خبرې وکړي.

۶_ دا لاندې نیمګړې جملې په پنسل سره د قیدونو په لیکلو بشپړې کړئ:

- احمد پرون ښوونځي ته .... روان و چې وغورځید.
- زه کوښښ کوم چې په .... درشم.
- کله چې بازار ته ولاړې .... دې څه ولیدل؟

کورنۍ دنده

له لومړۍ څخه تر لسمې نومرې پورې زده کوونکي دې داسې متن ولیکي چې د وخت (زمان) قیدونه او له یو ولسمې نومرې څخه تر شلمې پورې دې په متن کې د ځای (مکان) قیدونه او پاتې نور زده کوونکي دې داسې متن ولیکي چې د څرګندونې او ټینګار قیدونه پکې راغلي وي.

ژبه د یوه ملت ارزښتناک میراث بلل کېږي او د یوه هنري اثر په څېر ښکلې او پیچلې ده. ډېر ژر ورته زیان رسیږي، نو له دې امله همیشنۍ څارنې ته اړتیا لري.

(شوپنهاور)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشه _ ستره بدمرغي!





■ ايا تاسو کوم داسې نشه يي ليدلی دی چې دبنه او نېکمرغه ژوند ښمنتن وي؟

■ که چيرته مو په کلي او گاونډ کې کوم نشه يي وي له هغه سره د نورو خلکو چلند څه ډول دی؟

ټول نشه يي توکي حرام دي او هغه څوک چې وربانديې اخته وي، نه يوازې داچې د هوسا ژوند ښمنتن نه وي، بلکې د کورنۍ او ټولنې د اوږو بار وي او خلک ورته په سپکه سترگه گوري. نشه يي توکي ډول ډول وي چې يو له هغو څخه چرس دي. په دې لوست کې د چرسو د زيانونو په هکله ځينې څرگندونې لرو چې لولو يې.

ټول هغه شیان چې نشه راوړونکي دي، د اسلام سپیڅلی دین د هغو کارول حرام ګڼلي دي او دا حکم یې کړی دی چې باید ځانونه ورځخه په کلکه وژغورو.

پر نشې باندې په روږدي کیدنې سره د بدن د کار او فعالیت ځواک کمزوری کیږي. روږدي کسان نه د دنیا چارې په سمه توګه سمبالولی شي او نه د اخرت، نه خپل حقونه پیژندلی شي او نه هم د نورو. دغه وګړي په ټولنه کې د خپلوۍ او دوستۍ اړیکې هم په مناسبه توګه پاللی او ساتلی نشي.

نشه یي توکي ډېر ډولونه لري چې له هغو څخه یو یې چرس دي، دلته یې پر ځرنګوالي او زیانونو خبرې کوو:

چرس چې زیان رسوونکی نشه یي توکی دی، یوه تور بخونه شین رنګه ماده ده چې د بنګو بوټي د غوزې له نازکو پاڼو څخه لاس ته راځي.

له څېړنو څخه جوتیږي چې انسانان له ډېرې لرغونې زمانې څخه له دغه نشه راوړونکي توکي سره اشناوو او له هغه څخه یې د نشې او نورو موخو لپاره کار اخیستی دی. د دغې زیان رسوونکې مادې د پیدا کیدو اصلي ځایونه چین او اشور بلل شوي دي.

د چرسو د مادې ټول توکي نشه ییزه ځانګړنه لري. په ځانګړي توګه د تترا هایدرو کانا بینول کیمیاوي ماده ده چې د بنګو د بوټي یو مهم ترکیب دی او د نشې ډېر ځواک لري.

له روغتیایي څېړنو څخه جوتیږي چې دغه ماده د انسان حافظه کمزورې کوي، د بدن موازنه ګډوډوي، پر زړه او دماغ هم ډېرې ناوړې اغیزې لري او د اعصابو حجرې په کلکه ویجاړوي. همدغه ماده ډېره پیاوړې روږدي کیدونکې ځانګړنې لري چې پر نورو ډېر زیان رسوونکو نشه یي توکو، لکه هیرویین او کوکاکین باندې روږدي کیدو ته هم لارې برابروي.

موږ باید له هغو ټولو نشه ییزو توکو څخه چې د اسلام سپیڅلي د ین یې کارول په غوڅه ناروا او حرام بللي دي، په کلکه ډډه وکړو. د دغو توکو په زیانونو خلک وپوهوو چې له کښت، استعمالولو او کار وبار څخه یې ځان وژغورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی چې پرې روږدي دي، د نشې له عادت څخه د هغوی د خلاصون لپاره دې هراړخیزې ممکنې هلې ځلې وشي. د خیر په دغه کار به مو دنیوي او اخروي نیکمرغی په برخه شي او موږ به د نشې له افت او زیان څخه د ژغورلې ټولنې خاوندان شو.

د متن لنډیز:

چرس چې د بنګو له بوټي څخه لاس ته راځي، یوه توربخونه شین رنګه ماده ده، یو ډېر زیان رسوونکی نشه ییز توکی دی. په دې نشه روږدي کسان له ذهني لحاظ کمزوري، سست او تنبل وي. په ټولنه کې ورځخه وګړي ژوره کرکه لري، په سپکه سترګه ورته ګوري. په دوستۍ، خپلوۍ او ملګرتیا یې هم شرمیږي.
موږ باید له ټولو نشو څخه په کلکه ځان وژغورو.

فعالیتونه

۱ـ څو زده کوونکي دې پخپله د متن یو یو پراګراف ولولي او نور زده کوونکي دې د کلمو سم تلفظ او د جملو ترکیب ته په غور پام وکړي.

۲ـ پر تخته باندې لیکل شوي او معنا شوي لغتونه دې په کتابچو کې ولیکي.

◆ لاندې لغتونه ولولئ او د اړوندو جملو په خالي ځایونو کې یې په پنسل ولیکئ:

ـ چرس ـ چرسي ـ حافظه ـ ټولنه ـ توکی

.... ورو ورو خپله .... له لاسه ورکوي. نشه یان په .... کې ګرانښت نه لري. .... یو زیان رسوونکی .... دی.

۳ـ د متن له لوستلو څخه مو څه مفهوم واخیست، د ټولګیوالو په مخکې خبرې پرې وکړئ.

◆ د نشه یانو د ژوند په اړه څه فکر درسره پیدا شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولګیوالو په وړاندې پرې خبرې وکړئ.

۴ـ نشه یان ولې د بدن ځواک له لاسه ورکوي او د ټولنې د اوږو بار وي؟

◆ د اسلام سپېڅلي دین د څه لپاره نشه يي توکي منع کړي دي؟

◆ که ستاسو په کلي کې څوک نشه يي وي، له هغه سره به څنګه چلند وکړئ؟ خبرې پرې وکړئ.

۵ـ ټولګی دې په دريو ډلو وويشل شي: يوه ډله دې د متن څو مفرد نومونه په حال زمانه کې وکاروي، بله ډله دې جمع نومونه په راتلونکې زمانه کې وکاروي او دريمه ډله دې د اوس (حال) زماني فعلونه په جملو کې وکاروي.

◆ يو څو زده کوونکي دې تختې ته پورته شي. د ګرامر د ارزښت په هکله دې خبرې وکړي.

۶ـ څو زده کوونکي دې په خپله خوښه پورته شي، د خپل کور کلي یا نورو سیمو د نشه یانو د خراب ژوند په هکله دې خبرې وکړي.

۷ـ يو څو زده کوونکي دې په وار سره تختې ته لاړ شي، د نشه يي توکو يو يو زيان دې پر تخته وليکي.

۸ـ څو زده کوونکي دې په وارسره د تختې مخې ته راشي، د نشه یانو په واسطه د جرمونو د رامنځته کولو د علتونو په هکله دې خبرې وکړي.

◆ څو زده کوونکي دې په نشو باندې د ځوانانو د اخته کېدو په علتونو خبرې وکړي او د اړتیا په وخت کې دې ښوونکی مرسته وکړي.

کورنۍ دنده

هر زده کوونکی دې په کور کې له مشرانو څخه د نشه يي توکو د زیانونو په هکله پوښتنې وکړي او بیا دې را ټول کړې معلومات د بلې ورځې په پښتو درسي ساعت کې خپلو ټولګیوالو ته ووايي.

پټه خزانه

ایا تاسې د مخه د ((پټې خزانې)) نوم اورېدلی یا مو دا کتاب لیدلی دی؟

لکه څنګه چې پښتو ژبه ډېره لرغونتیا لري، دغسې یې ادب هم لرغونی دی، خو له بده مرغه چې زموږ د ژبې او ادب ډېر لرغوني لیکلي اثار د زماني توپانونو له ځان سره وړي دي او ډېرې بېلګې یې اوس په لاس کې نه لرو. هغه څو بېلګې چې تر موږ رارسېدلې دي، هغه په ډېر ارزښتناک ادبي کتاب کې چې ((پټه خزانه)) نومېږي، خوندي شوي دي.

تاسې د ملي ارشیف په لوست کې د پټې خزانې د لاس کښلې یا قلمي نسخې په اړه ولوستل چې دغه مهم کتاب په ملي ارشیف کې خوندي دی، په دې لوست کې دغه کتاب درپېژنو.

پټه خزانه د پښتو ادبیاتو یو لرغونی کتاب دی چې محمد هوتک لیکلی دی. دغه لیکوال د هوتکي واکمنانو په دربار کې د منشي دنده درلوده او نوموړی کتاب یې په ۱۱۴۱_۱۱۴۲ هـ. ق. کال په کندهار کې لیکلی دی.

محمد هوتک د داؤد خان هوتک زوی په ۱۰۸۴ هـ. ق. کال د کندهار په کوکران کې زیږېدلی و. د خپل وخت پیاوړی عالم، لیکوال او شاعر و. د شاه حسین هوتک په دربار کې یې د منشي دنده درلوده او د دربار په مخورو او باوري کسانو کې شمېرو. له پټې خزانې پرته یې د ((خلاصة الطب)) او ((خلاصة الفصاحت)) په نومونو نور کتابونه هم لیکلي دي. د محمد هوتک ژوند تر ۱۱۵۰ هـ. ق. پورې باوري دی.

محمد هوتک پټه خزانه د خپل وخت د فرهنګ پالونکي واکمن شاه حسین هوتک په حکم او غوښتنه تألیف او ترتیب کړې ده.

شاه حسین هوتک

په دې هکله داسې لیکي:

((زه چې محمد هوتک یم او په اصل پښتون په کندهار کې اوسم، له ډېره ده چې په ویلو د داسې ویناو بوخت یم او د شپې او ورځې مې هم دغه کار دی او دا ډېر وختونه تېر سول چې ما غوښته چې زه دې پښتنو شاعرانو ته تذکره وکاږم او د دوی احوال سره راټول کاندم، مګر زمانې ماته فراغ رانه کا او دا هیله مې په زړه کې وچه سوه، ځکه چې تر کندهار د ظلم او جفا تور تم پروت و، او هیچا ارام نه درلود او فراغ.

ګاهي به مغلو چپاو ونه کړل او ګاهي به د ګرګین د ستم سوران و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس چې حق تعالی موږ خلاص کړو له هغو ظلمو څخه او فارغ سوه زړونه زموږ او زموږ ملک حاجي میرخان علیه الرحمه، دوی له کندهاره وایسته او ښتانه یې د دوی له جوره ازاد کړل نو زما زړه فارغ سو له اندوهه، او قلم مې راواخیست، هغه وخت چې زما له ارادې خبر سو زموږ د ښتونخوا د سترګو تور، امام المسلمین، و ابن قال الرفضة والکافرین، شاه حسین، ادام الله دولته الی یوم الدین.

بیت

د ښتو پادشاه حسین هوتک
په ملکانو کې دی دی لوی ملک
د حاجي میر خان غښتلی زوی ګړندی
خالقه تل دې وي ځلان دا غمی

نو ده یې وغوښتلم دربار ته، او ماته یې تشویق وکا، او الطاف یې ښکاره کا چې دا خپله اراده پوره کاندم، او د ښتنو شاعرانو حال سره راټول کاندم".

د پټې خزانې د کتاب قلمي نسخه په ۱۳۲۲ هـ. ش. کال تر لاسه او د هغې له مخې لومړی ځل په ۱۳۲۳ هـ. ش. کال د ښتو ټولنې له خوا چاپ او خپره شوه او بیا وروسته د بېلا بېلو ادارو له خوا څو ځلې له دري ژباړې سره او هم په ځانګړې توګه چاپ شوې ده.

په دې ارزښتناک ادبي کتاب کې د (۵۰) تنو شاعرانو او لیکوالو د ژوند حالات او د شعر بېلګې خوندي دي.

د کتاب لیکوال دا کتاب په دریو برخو وېشلی او هرې برخې ته یې د ((خزانې)) نوم ورکړی دی.

په لومړۍ خزانه کې یې دښتو ژبې دا لاندې (۲۲) تنه شاعران راپېژندلي چې د لیکوال له زمانې څخه د مخه، ان په دویمې هجري پېړۍ پورې اړه لري.

بابا هوتک، شیخ ملکیار، اسماعیل، خرښبون، شیخ متي، امیر کروړ، شیخ اسعد سوري، ښکارندوی، ابو محمد هاشم سرواني، شیخ تیمن، شیخ بستان بړېڅ، شیخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

رضي لودي، نصر لودي، شیخ عیسٰی مشوانی، سلطان بهلول لودي، خلیل خان نیازی، خوشحال خان ختک، زرغون خان، دوست محمد کاکړ، عبدالرحمان بابا، شیخ محمد صالح او علي سرور لودي.

د کتاب په دویمه خزانه یا برخه کې د دې لاندې (۲۱) تنو شاعرانو او لیکوالو پېژندنه راغلې چې ټول د کتاب د لیکوال د زماني دي:

ملاباز محمد توخی، شاه حسین هوتک، ملا زعفران، محمد یونس خان (خیبری)، محمدګل مسعود، عبدالقادر خان (ختک)، بهادر خان، ملا محمد صدیق، ملا پیر محمد میاجي، اللهیار افریدی، بابوجان بابي، ریدي خان مومند، ملا محمد عـــــادل برېڅ، محمد طاهر، محمد عمر، محمد ایاز نیازی، ملا محمد حافظ بارکزی، نصرالدین خان اندړ، ملا نور محمد غلجی، حافظ عبدالطیف اڅکزی او سیدال ناصر.

د پټې خزانې په درېمه خزانه کې د (۶) تنو ښځینه شاعرانو پېژندنه راغلې ده:

نازو توخي، حلیمه حافظه، نیکبخته، بي بي زینب، زرغونه او رابعه.

د کتاب په پای کې لیکوال محمد هوتک د خپل پلار ((داؤد خان هوتک)) او خپله پېژندګلوي د شعر له یوې بېلګې سره راوړې ده.

((پټه خزانه)) د پښتو ادب یو ډېر ارزښتناک ادبي کتاب دی چې د هغه په تر لاسه کېدو د پښتو لیکلی منظوم ادب د دویمې هجري پېړۍ لومړۍ نیمايي ته رسیدلی دی، باید چې هغه تر لاسه او په ډېر غور یې ولولو چې د پښتو ژبې د پخوانیو شاعرانو له ژوند پیښو او شعرونو سره اشنا شو.

د متن لنډیز:

پټه خـــــزانه د پښتو ژبې او ادبیاتو یو ډېر ارزښتناک کتاب دی چـــې محمد هوتک په ۱۱۴۱ _ ۱۱۴۲ هـ. ق. کال د فرهنګ پالونکي واکمن شاه حسین هوتک په حکم او غوښتنه تالیف کړی دی، لومړی ځل په ۱۳۲۳ هـ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ش . کال چاپ شوی دی. په دې کتاب کې ليکوال (۵۱) تنه نارينه او ښځينه شاعران او ليکوال راپيژني چې هغوی څه د لرغونو زمانو او څه د کتاب د ليکوال معاصرين دي. په پخوانيو شاعرانو کې امير کروړ هم شامل دی چې ددويمې هجري پيړۍ په لومړيو کې يې ژوندکاوه. نوميالی واکمن او پياوړی شاعر و.

فعاليتونه

۱_ څينې زده کوونکي دې د متن له پيل څخه تر پای يو يو پراګراف د ټولګي په وړاندې په لوړ غږ ولولي.

۲_ زده کوونکي دې هغه ستونزمن لغتونه او د هغو معنا په خپلو کتابچو کې وليکي چې ښوونکي د درس د تشريح او توضيح په مهال پر تخته ليکلي دي.

- په کتابچو کې ليکلي لغتونه دې په مناسبو جملو کې وکاروي.

۳_ زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راوبلل شي چې د پټې خزانې د کتاب په اړه خبرې وکړي.

۴_ دا لاندې پوښتنې ځواب کړئ:

- پټه خزانه ولې د پښتو ادبياتو ډېر ارزښتناک کتاب ګڼل کېږي؟
- پټه خزانه چا، دکوم واکمن په غوښتنه او سپارښتنه ليکلې ده؟
- په پټه خزانه کې څو تنه نارينه او څو تنه ښځينه شاعران پيژندل شوي دي؟
- پټه خزانه په څو برخو وېشل شوې او هرې برخې ته کوم نوم ورکړل شوی دی؟

۵_ زده کوونکي دې په متن کې راغلي خاص نومونه او صفتونه په خپلو کتابچو کې وليکي.

- په دې لاندې جملو کې راغلي فعلونه په کومو زمانو پورې اړه لري:
- محمد هوتک پټه خزانه په ۱۱۴۱_ ۱۱۴۲ هـ . ق . کال ليکلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- پټه خزانه د پښتو ادبیاتو ارزښتناک اثر دی.
- موږ به د پټې خزانې کتاب پیدا او هغه به ولولو.

۶_ د لاندې جملو تش ځایونه په مناسبو کلمو په پنسل ډک کړئ:

- په پټه خزانه کې .... تنه شاعران معرفي شوي دي.
- محمد هوتک له پټې خزانې پرته د .... او .... په نومونو دوه نور کتابونه هم لیکلي دي.
- پټه خزانه په .... برخو یا .... وېشل شوې ده.

۷_ څو زده کوونکي دې د پټه خزانې د ارزښت په هکله خبرې وکړي.

- څو زده کوونکي دې د پښتو ژبې د لرغونو اثارو د کمښت اصلي لاملونه خپلو ټولګیوالو ته ووايي او که اړتیا وه ښوونکی دې مرسته وکړي.
- څو زده کوونکي دې د شاه حسین هوتک د ادبي خدمتونو په هکله رڼا واچوي، د اړتیا په وخت کې دې ښوونکی مرسته وکړي.

کورنی دنده

له لومړۍ څخه تر لسمې نومرې پورې زده کوونکي دې په کورکې د لوست له متن څخه د لومړۍ خزانې د پخوانیو شاعرانو نومونه، له یوولسمې نومرې څخه تر شلمې پورې د دویمې خزانې د شاعرانو نومونه او پاتې زده کوونکي دې د دریمې خزانې د ښځینه شاعرانو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکي. بله ورځ دې د پښتو لوست په ساعت کې هغه د ټولګیوالو په وړاندې ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرمن مستوره شال



- د اوسنيو ښځينه شاعرانو او ليکوالو له ډلې څخه څوک پېژنئ؟
- دکومو ښځينه شاعرانو او ليکوالو د نظم او نثر کوم کتاب مو لوستلی دی؟

موږ د پښتو ادب په اوسنۍ دوره کې ډېرې ښځينه نوميالۍ شاعرانې او ليکوالې لرو چې په خپلو اثارو يې د پښتو ادبي پانګه درنه او بډای کړې ده.
له دغو نوميالیو ادبي څېرو څخه يوه هم مېرمن مستوره شال ده چې دلته يې درپېژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ادبیاتو د اوسنۍ دورې په ښځینه شاعرانو او لیکوالو کې مېرمن مستوره شال د خپل پیاوړي ادبي ذوق او استعداد له امله د لوړ نامه او شهرت څخه برخمنه ده.

نوموړې د کونړ ولایت د اسمار ولسوالۍ په شال نومي کلي کې په ۱۳۰۹ هـ . ش. کال سترګې نړۍ ته وغړولې. پلار یې سید عبدالرزاق نومېده چې په شال پاچا مشهور او د کونړ د ساداتو له روحاني کورنۍ څخه و.

مستوره شال شپږ کلنه وه چې دلیک لوست زده کړه یې پخپله کورنۍ کې پیل کړه. د مروجو دیني او ادبي علومو ډېر کتابونه یې له خپل پلار څخه لوستل. د همدغو زده کړو په بهیر کې یې د ځانګړي ادبي ذوق له امله د پښتو او دري ژبو د نظم او نثر ډېر نوماند اثار مطالعه کړل. همدغې مطالعې په هغې کې لومړی د شعر ویلو احساس او جذبه راوپاروله او په شعر ویلو یې پیل وکړ. وروسته یې بیا د لنډو ادبي ټوټو او مقالو په لیکلو خپل قلمي ځواک و ازمویه.

کله چې مستوره شال د هېواد پلازمېنې (کابل) ته راغله، فرهنګي چاپېریال او د ښځو نوي رامنځته شوي غورځنګ یې پر ذهن او فکر ژوره اغیزه وکړه. د دې شعر او ادب ته یې نوی رنګ او بڼه ورکړه. شعرونه او نثرونه یې په مطبوعاتو کې خپرېدل او ورو ورو د یوې روښانفکرې شاعرې او لیکوالې په توګه را څرګندېدله او پېژندل کېدله. په شعرونو کې یې ډېر لوړ خیالونه او ژورې معناګانې رانغښتې دي، دا بیتونه یې لولو:

ستا د ښکلا مخ ته چې سپوږمۍ ورمخامخ شوله
ژر یې ښایست څکه د ذوال لمنه ونیوه
ستا د تبسم غوټۍ ته ګل سبا کې وویل:
ستا په غوړېدو ما د جمال لمنه ونیوه

مېرمن مستورې پر شاعرۍ او لیکوالۍ سربېره د هېواد په معارف کې د ښوونکې سپېڅلې دنده درلوده. له دې لارې یې څو کاله د هېواد د اولادونو، په ځانګړې توګه د نجونو، په ښوونه او روزنه کې د ستاینې وړ دنده ترسره کړې ده.

نوموړې د ښوونکې د دندې ترڅنګ په کابل راډیو کې د ویاندې په توګه هم کار کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سربېره پر دې یې په علمي، ادبي غونډو او سیمنارونو کې هم ونډه اخیستله. شعرونه او مقالې یې پکې لوستلې. دا هغه مهال و چې موږ د هېواد په کچه د فرهنګي فعالیتونو په ډګر کې ځو د ګوتو په شمېر ښځینه لیکوالې او شاعرانې درلودې چې مېرمن مستورې ته هم دغه ویاړ ور په برخه دی. هغه لومړنۍ شاعره ده چې د ((پرونی)) په نوم یې د شعر ټولګه چاپ او د ادب مینه والو ته وړاندې کړه.

مېرمن مستوره شال له ۱۳۶۰ هـ . ش . راوروسته کلونو کې د کابل راډیو د هنر او ادبیاتو په څانګه کې په دنده وګومارل شوه. د ۱۳۷۱ هـ . ش .کال تر لومړیو یې دا دنده د زړه په مینه ترسره کړه. په هېواد کې د کورني اړو دوړ او جګړو له پیل کېدو سره سم پېښور ته په کډه شوه.

هلته یې په جلاوطنۍ کې د زړبوږۍ په حالت کې د ځو کاله ستونزمن او له کړاو ډک ژوند په بهیر کې هم خپلو ادبي او فرهنګي فعالیتونو ته په ډېره مینه دوام ورکړ، په علمي او ادبي غونډو کې به یې ګډون کاوه. لیکنې او شعرونه به یې په مطبوعاتو کې خپرول او له فرهنګي ادارو سره یې ښې اړیکې درلودې.

نوموړې ډېره موده په پېښور کې د افغانانو لپاره د لومړنیو زده کړو په اداري ((بیفیر)) کې په دنده بوخته وه. د دغې ادارې د روغتیایي زده کړو په څانګه کې یې د مور او ماشوم د ساتنې، د ښوونیز او روزنیز پروګرام اساسي روغتیایي پیغامونه په پښتو ژبه منظومول. په دې لړ کې یې ډېر زیات پیغامونه د شعر په خوږه او رنګینه، خو ډېره ساده ژبه واړول. په خپل غږ یې د کلمه او ثبت کړل. له همدغو منظومو پیغامونو څخه د دغه روزنیز پروګرام په پرمختبیولو کې ډېره اغیزناکه استفاده کېدله.

مستوره شال یوه حساسه او دردمنه شاعره وه. په شعرونو کې یې که له یوې خوا ملي احساسات او جذبات په څپو دي، نو له بلې خوا پکې زموږ د هېوادوالو د ټولنیز ژوند دردونه او ناخوالې، د ناوړه دودونو غندنه او د ملي ویاړونو د ستاینې ډېرې په زړه پورې بېلګې په سترګو کېږي. زموږ دغې نومیالۍ شاعرې په خپل هېواد او ټولنه کې د ښځو په محرومیتونو او د هغو په وړاندې د ټولنیزې نابرابرۍ په شته والي ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښکې توی کړې دي. کله کله بیا د شعر په خوږه او رنګینه ژبه وګړي د غفلت له درانه خوبه راویښوي او ځوانان په ډېره مینه د وطن د ننګ ډګر او سنګر ته ورولي:

دا خو زه یم چې راویښ کړم له درانه خوبه قومونه
په سپیره دښته کې جوړ کړم د جذباتو محشرونه
ایینه د واړه قام یم ورته ښیمه عیبونه
لکه څاڅکي د باران هومره ډېر ډېر پیغورونه
ته مې وپیژنه څوک یم سرګردان د بحرو بر یم
بل څه نه یمه انسان یم سوز او ساز لرم شاعر یم

دغه نومیالۍ شاعره او لیکواله د ۱۳۷۷ هـ . ش . د سنبلې په نهمه د ورپېښې ناروغۍ له امله په پېښور کې وفات شوه. جنازه یې هېواد ته راوړل شوه او د کونړ ولایت د شینکوړک په کلي کې په خپله پلارنۍ هدېره کې خاورو ته وسپارل شوه.

د مستورې شال په چاپ شوي شعري ټولګې ((پرونی)) سربېره ډېر زیات شعرونه او نثري لیکنې په مطبوعاتو کې خپرې شوي دي. که راټول شي څو ټولګې ترې جوړېدای شي. دلته یې د شعر یوه ښېږه بېلګه را اخلو.

د وینو څاڅکي

څه ژړا فریاد دی هر خواته په جهان کې نن
پاتې طراوت نه دی یو ګل ته ګلستان کې نن
ورک اثر د اوښکو د یتیم دی وینې ژاړي تل
اخلي ظالمان خوند د مظلوم اه و فغان کې نن
وریځ د اوسیلو وینم خوره د شین اسمان په مخ
وینې د شهید دي راتوییږي په باران کې نن
سوز او عاطفه سینو کې نشته زړونه سخت شولو
ځکه اثر ورک شو د خوږو نغمو بوستان کې نن
اوښکې د بیوزلو دي الماس د ځینو غاړو کې

وينې د مظلومو دي زيور ګوهر ګرېوان کې نن
اور د تجاوز لمبې وهي د خوار غريب په سر
وينم دوزخونه د سره اور ډک په جهان کې نن
زه يم همنوا د بلبلانو د چمن ځکه
ښکاري مې د زړه وينې د شعر ګلستان کې نن

د متن لنډيز:

مېرمن مستوره شال يوه نوميالۍ پښتنه شاعره او ليکواله وه چې په کونړ کې زېږېدلې، لويه شوې او په خپلې کورنۍ کې يې د ديني او ادبي علومو زده کړې کړې دي. بيا يې د ادبي ذوق له امله شاعري او ليکوالي پيل کړې. په معارف کې د ښوونکې او کابل راډيو کې يې د وياندې او ادبي پروګرامونو د چلوونکې په توګه هم دنده ترسره کړې وه. په ۱۳۷۷ هـ . ش. کال يې له ژوند سترګې پټې کړې دي. د ((پرونې)) په نوم يې د شعرونو ټولګه چاپ او ډېرې ليکنې او شعرونه يې په مطبوعاتو کې خپاره شوي دي.

فعاليتونه

۱ـ ځينې زده کوونکي دې په متن کې د خپلې خوښې يو يو پراګراف ولولي.

۲ـ ځينې زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راوبلل شي چې د مېرمن مستورې د وروستي شعري بېلګې مفهوم پخپلو الفاظو کې نورو ټولګيوالو ته ووايي.

۳ـ دې لاندې پوښتنو ته ځواب ووايئ:

- مستورې شال خپلې زده کړې چېرې او له چانه کړې وې؟
- مېرمن مستورې کله شاعري او ليکوالي پيل کړې وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د هغې په لیکوالۍ او شاعرۍ څه شي ډېره ژوره اغېزه وکړه؟

۴_ زده کوونکي دې متن په غور ولولي په هغه کې دې خاص نومونه ، صفتونه پیدا او پخپلو کتابچو کې ولیکي.

۵_ زده کوونکي دې په لاندې جملو کې تش ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړي:

- مستوره شال .... وه چې د لیک لوست زده کړه یې په خپله .... کې پیل کړه.
- مستورې په .... کې د ویاندې په توګه هم .... کاوه.
- مستوره په .... په پېښور کې .... شوې ده.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې د هغې اوسنۍ شاعرۍ او لیکوالۍ په اړه چې دوی یې پیژني، معلومات ولیکي، د بلې ورځې په پښتو درسي ساعت کې دې یې د ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

ادیب (شاعر او لیکوال) د ټولنې عادي وګړی نه دی، هغه څه چې په ورځني ژوند کې پېښېږي، یا هغه ناخوالې، ستونزې او ربړې چې ټولنه ورسره مخامخ ده، د شاعر او لیکوال پر احساس او عاطفه ژور اغېز کوي. کله چې د خپلې پوهې او استعداد په قوت له هغې څخه کومه منطقي نتیجه اخلي او بیا یې د خپل تخیلي ځواک په ملتیا په مناسبو الفاظو د شعر یا ادبي نثر په کوم قالب کې نورو ته وړاندې کوي، همدغه ادب دی.

((ادب پوهنه))

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلرويشتم لوست

د ماينونو شکمنې سيمې



■ داسې شيان پېژنئ چې په چاودلو يې مرګ او ژوبله رامنځته کېږي؟

زموږ په هېواد کې څه د پاسه درې لسيزې جنګ جګړې د بې شمېره زيانونو او بدمرغيو سبب وګرځيدې. په بېلا بېلو وسلو او وسيلو د مرګ ژوبلې ډېرې ناوړې او زړه بوږنوونکې صحنې رامنځته شوې چې يوه له دغو وسلو او وسيلو څخه ماينونه او ناچاوديدونکې توکي دي. په دې لوست کې د هغو د پېژندنې په ترڅ کې د شته والي په احتمالي سيمو او ځايونو هم بحث کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ په هېوادکې د درې لسیزو جنګونو په بهیرکې د جګړې ښکیلو خواو و یا د خپل ځان د ساتنې او یا هم مقابل لورې ته د ځانې او مالې زیان رسونې په موخه له ماینونو څخه د یوې ډېرې اغیزناکې او کارې وسیلې په توګه کار اخیستی دی.

ماینونه په دوه ډوله دي:

د پرسونل ضد ماینونه او د وسایطو ضد ماینونه.

د پرسونل ضد ماینونه: هغه ځانګړې چاودیدونکې توکې دي چې له اوسپنې، پلاستیک او یا لرګي څخه په بېلا بېلو بڼو، لکه: د لوبو شیان، قلمونه، راډیو ګانې اونورو جوړ دي اوپه منځ کې یې نا چاودې مواد شته چې هغه د بدن د غړې د فشار په وسیله چوي او مرګ ژوبله رامنځته کوي.

د وسایطو ضد ماینونه: دا ماینونه هم په بېلو بېلو بڼو جوړ دي چې د وسایطو، لکه موټرو، لاریو، ټانکونو او نورو د فشار په نتیجه کې چوي، د ځانې اومالې زیان رسولو سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماینونو پېژندل ډېر ستونزمن کار دی، ځکه چې زیاتره په ځمکه کې ښخ او ځینې بیا د عادي استعمالوونکو شیانو په څېر دي، نو ځکه په دې اړه ډېر غور او احتیاط پکار دی.

دلته د دغه پټ خطرناک دښمن د شته والي احتمالي سیمې درپېژنو او د ناچاودو توکو په اړه هم معلومات درکوو.

ماینونه په عام ډول د ځانګړو سیمو د ساتنې، لکه پوځي پوستو او مرکزونو ته د دښمن د تللو د مخنیوي لپاره او یا د مقابل لوري د ډارولو او ویرولو لپاره کارول کېږي، خو د ناچاودو توکو پېژندنه بیا هغومره ډېره ستونزمنه نه ده، ځکه زیاتره د ځمکې پر سر پراته دي. دا هغه مهمات دي چې د جګړو په مهال چاودلي نه دي. په دې کې توغندي، د بمونو پارچې، لاسي بمونه، د ټانګ، توپکو او ماشیندارو ګولۍ او نور شامل دي.

ماینونه او ناچاودي توکي زیاتره په دې لاندې ځایونو کې پیدا کېږي:

ــ په هغو لارو او سرکونو کې چې تګ پرې ډېر نه کېږي.

ــ د عمومي لارو او سرکونو پر څنډو.

ــ د موټر د ګرځېدو، راګرځېدو په سیمو کې.

ــ د پلونو او پلچکونو دننه او شاوخوا ځایونو کې.

ــ رنګو او ویجاړو شویو ودانیو دننه او شاوخوا ځایونو کې.

ــ رنګو شوو ودانیو ته د ورتللو او د ننوتو په لارو او د خونو په درشلونو او کونجونو کې.

ــ د ګاګانو او د اوبو د نورو سرچینو دننه او شاوخوا برخو کې.

ــ د پوځي پوستو او ویجاړو شویو وسایطو په شاوخوا کې.

ــ په هغو سمڅو او کندو کې چې د جګړې پر مهال د پټېدو د ځای په توګه کارول شوي دي.

نو موږ ته لازمه ده چې هیڅکله ناپېژندل شوو شیانو ته لاس ور نه وړو، ناپېژندل شوي سیمونه او مزې کش نه کړو او د ناپېژندل شویو شیانو په خوا کې ډېرې او نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیان وانه چوو. که چیرې مو په یادو شوو سیمو کې د ماینونو نښې نښانې ولیدې او یا په کومه سیمه کې په انسان یا څاروي وچاودېد، په نږدې سیمه کې د ماین پاکولو د موسسې چارواکو ته خبر ورکړئ، د هغوی ګمارلي کسان د ماینونو سیمې ته راځي او په هغه ساحه کې تیږې په سور رنګ رنګوي او که تیږې نه وي نوري داسې نښه نښانې ږدي چې په سره رنګ رنګ شوې وي.

د ماین پېژندونکو او ایستونکو له خوا په سور رنګ د تیږو او نښو رنګول دا معنا لري چې په دې سیمه کې د مرګ او وینو د توییدو خطر موجود دی او تګ راتګ په کې بند شوی دی، نو باید داسې سیمو ته ورنشو.

کله چې د ماین ایستونکو له خوا سیمه پاکه شي هماغه په سور رنګ رنګ شوې تیږې او نښانې په سپین رنګ رنګوي، سپین رنګ دا معنا لري چې په دې سیمه کې د ماین د شته والي خطر له منځه تللی دی او هر څوک په کې ګرځېدای شي او کار کولی شي.

ماین د ژوندانه دښمن دی، له دغه دښمن څخه نه یوازې دا چې ځان وساتو، بلکې د هغه د له منځه وړلو لپاره باید فني کسانو ته خبر ورکړو.

د متن لنډیز:

زموږ د هېواد په ګوټ ګوټ کې د درې لسیزو جګړو په بهیر کې د جګړې ښکیلو خواوو له مقابل لوري څخه د ځان ژغورنې او یا هغو ته د ځاني او مالي زیان رسونې په موخه ماینونه د یوې اغېزناکې وسیلې په توګه کارولي او ښخ کړي دي. بېلا بېل ډولونه لري. ځینې د پرسونل ضد ماینونه او ځینې د وسایطو ضد ماینونه نومیږي. همدارنګه ناچاودي توکی هم شته، نو موږ باید دا پټ دښمن وپېژنو او له هغو ساحو څخه چې پورته په متن کې ښودل شوي، له ورتګ څخه په کلکه ډډه وکړو او هم ناچاودو توکو ته له لاس وروړلو څخه ځان وژغورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن لومړی په چوپتيا سره ولولي. بيا دې ځينې زده کوونکي د دې متن يو يو پراګراف په لوړ غږ ولولي.

۲ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي: يوه ډله دې په متن کې د ماينونو او ناچاودو توکو د بېلا بېلو ډولونو نومونه لست کړي او بله ډله دې د ماينونو او ناچاودو توکو ساحې لست کړي. د يوې ډلې استازی دې د ماين يا ناچاودو توکو نومونه پر تخته وليکي او د بلې ډلې څو تنه دې د هغو په هکله څرګندونې وکړي. بيا دې د بلې ډلې يو استازی د ماينونو ساحې يوه يوه پر تخته وليکي، د بلې ډلې څو زده کوونکي دې د هغو په باب معلومات وړاندې کړي.

۳ـ لاندې پوښتنې ځواب کړئ:

- د ماينونو او ناچاودو توکو له لوست څخه مو څه مفهوم واخيست؟
- له ماينونو او ناچاودو توکو څخه څرنګه ځان ژغورلی شو؟
- ماينونه کوم کوم ډولونه لري؟
- ماينونه په کومو ځايونو کې پيدا کېږي؟

۴ـ زده کوونکي دې پخپلو کتابچو کې لاندې جملې ته پراختيا ورکړي او بيا دې هغه په خپل وار سره د ټولګي په وړاندې ولولي:

- ماينونه ډېر خطرناک دي، ځکه چې په چاودلو سره يې . . . .

۵ـ زده کوونکي دې متن ولولي، په هغه کې راغلي صفتونه دې په نښه او په مناسبو جملو کې دې وکاروي. بيا دې هغه په خپل وار د ټولګيوالو په وړاندې ووايي.

- زده کوونکي دې متن ولولي، په هغه کې دې صفتونه پيدا او په خپلو کتابچو کې دې وليکي او بيا دې څو تنه هغه د خپلو ټولګيوالو په وړاندې ووايي.

۶ـ په کومو سيمو کې چې د ماين ايستونکو له خوا په سره او سپين رنګ تيږې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګ شوې وي، دا نښې د څه معنا لري؟

- که چېرې په کومه سيمه کې د ماينونو د شته والي نښې تر سترګو شي، څه بايد وکړو؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپل کور کلي، کوڅې او يا سيمې له مشرانو څخه د ماين چاودنې د کومې پېښې په اړه معلومات ترلاسه کړي او هغه دې د بلې ورځې په پښتو ساعت کې د نورو ټولګيوالو په وړاندې ولولي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه ویشتم لوست

باميان يوه لرغونې تاريخي سيمه





- تاسې د هېواد کومو ولايتونو ته تللي ياست؟
- په کوم ولايت کې موزيات لرغوني تاريخي اثار او ځايونه ليدلي دي؟

زموږ هېوادګران افغانستان اوس ۳۴ ولايتونه لري چې هر يو يې د هېواد د يوې مهمې برخې په توګه له ځانګړي اقتصادي، ټولنيز، لرغوني تاريخي او فرهنګي ارزښت څخه برخمن دی. يو له دغو ولايتونو څخه د باميان ولايت دی چې په دې لوست کې يې درپېژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

باميان د هېواد په مرکزي برخه کې پروت مشهور ولايت دی. د دې ولايت تاريخي لرغونتيا ډېرې وړاندې زمانې ته رسيږي. تاريخي اثار يې د لرغوني اريايي مدنيت استازيتوب کوي. مشهور چينايي گرځندوی هيوان تسنگ په پنځمه ميلادي پيړۍ کې دغې سيمې ته ورغلی او په ((چينايي يونليکونه)) نومي کتاب کې يې د هغه د لرغونو اثارو او جغرافيوي ځرنگوالي په باب په زړه پورې ځرگندونې کړې دي. باميان د غوربند له لارې له کابل او د حاجي گگ او بند امير په وسيله د شمالي ولايتونو او همدارنگه د لعل د سيند په واسطه له هرات او ارزگان سره گډه لاره لري.

په دغه ولايت کې اوس علمي او فرهنگي بهير د چټکې ودې او پرمختيا په حال کې دی. د ولايت په مرکز، بېلا بېلو ولسواليو او ليرې کليوالو سيمو کې د نجونو او هلکانو له لومړنيو او ثانوي ښوونځيو سربېره په مرکز کې يو پوهنتون هم لري چې پکې په زرگونو زده کوونکي او محصلين په زده کړو بوخت دي. چاپي خپرونې (مجلې او اخبارونه) او نورې ډله ييزې رسنۍ راډيويي او تلويزيوني خپرونې هم لري.

په دې ولايت کې ډېر تاريخي اثار او د ليدلو وړ ځايونه شته. تر ټولو مهمې يې د بودا مجسمې دي چې اوس ړنگې شوې دي، د ضحاک او غلغلې ښار نښې نښانې، بند امير او د بوديزم د دورې ډول ډول سيمې او داسې نور لرغونې اثار دي چې د ډېر لرغوني بډای فرهنگي او تاريخي اهميت ځرگندويي کوي.

باميان يوه غرنۍ سيمه ده چې د کرنې وړ ځمکې يې لږې، خو ډېرې ښکلې درې او طبيعي منظرې لري او د سيلانيانو او گرځندويانو پاملرنه يې ځانته راگرځولې ده.

غرنی اقليم لري چې واورين او ډېر سوړ دی. اوړی يې لنډ او ژمی يې ډېر اوږد دی. د غنمو کښت پکې لږ او کچالو يې تر ټولو مهم کرنيز پيداوار گڼل کيږي. دچنار د ونو ځنگلونه هم پکې ډېر دي. د باميانو سيند او د غرنيو سيمو چينې يې د ځمکو د خړوبولو لپاره د اوبو مهمې زېرمې جوړوي. ډېر وگړي يې په مالدارۍ او د لاسي صنايعو په جوړولو بوخت دي. د بابا غره لمنو او د اژدر په دره کې دکاني او بو زېرمې لري چې د روغتيا لپاره ډېرې گټورې دي. واړه او لوی کانونه هم لري. د حاجي گگ د اوسپنې کان

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې ډېر مشهور دی.

دغه ولايت د خپل غرني موقعيت لرلو له امله پخوا د تګ راتګ په برخه کې ډېرې مواصلاتي ستونزې درلودې، خو اوس دا ستونزې تر ډېره حل شوې او يا د له منځه تللو په حال کې دي.

مرکز يې د باميان ښار دی او ښو مشهورې ولسوالۍ يې دا دي:

شيبر، کهمرد، يکاولنګ، پنجاب، ورس او نورې.

باميان ډېرې ښې اوبه، هوا، ښکلې او په زړه پورې طبيعي منظرې، د ليدلو وړ ځايونه او ډېر زيات لرغوني تاريخي اثار لري. دا ټول زموږ د هېواد وياړلي فرهنګي ميراثونه ګڼل کېږي، بايد ساتنې ته يې هر اړخيزه پاملرنه وشي.

د متن لنډيز:

باميان زموږ د هېواد په مرکزي برخه کې پروت ولايت دی. ډېره تاريخي لرغونتيا، او بډای فرهنګي تاريخي اثار لري. دا يو غرنی ولايت دی. د کر وړ ځمکې يې کمې، خو ډېرې ښکلې او سمسورې درې او په زړه پورې طبيعي منظرې لري. د دې ولايت زياتره وګړي په مالدارۍ او د لاسي صنايعو په جوړولو بوخت دي. په فرهنګي لحاظ اوس د چټک پرمختګ په حال کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ ځینې زده کوونکي دې متن د ټولګي په وړاندې ولولي.

۲ـ هغه لغتونه چې ښوونکي د متن د مفهوم او محتوا د توضیح او تشریح په مهال پرتخته لیکلي، په خپلو کتابچو کې ولیکي.

◆ زده کوونکي دې د هغو نورو ولایتونو نومونه چې دوی یې پېژني، په خپلو کتابچو کې ولیکي او په وارسره دې هغه د ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

۳ـ ځینې زده کوونکي دې د ټولګي په وړاندې د متن د هغې برخې د مفهوم په هکله چې د دوی خوښېږي، خبرې وکړي.

۴ـ دا لاندې پوښتنې ځواب کړئ:

◆ لرغوني تاریخي اثار کوم دي او څه ارزښت لري؟

◆ په بامیانو کې کوم تاریخي اثار او ځایونه شته؟

◆ داسې کوم بل ولایت پېژنئ چې لرغوني تاریخي اثار او ځایونه پکې شته؟

۵ـ د جملو دا لاندې تش ځایونه په پنسل سره په مناسبو کلمو ډک کړئ.

◆ بامیان د هېواد په .... برخه کې پروت دی.

◆ په بامیانوکې د هوارې ځمکې په پرتله .... زیات دي.

◆ بامیان ښکلې درې او په زړه پورې .... لري.

کورنۍ دنده

د خپلې کورنۍ یا نورو مشرانو څخه وپوښتئ چې د هېواد په کومو ولایتونو کې ډېر زیات لرغوني تاریخي اثار شته. راټول کړي معلومات د بلې ورځې په پښتو درسي ساعت کې د ټولګیوالو په وړاندې ولولئ.

سره میاشت

■ تاسو داسې خیریه ټولنې یا اداري پېژنئ چې د ناوړو طبیعي پېښو یا جګړو له امله له زیانمن شوو وګړو سره مرستې کوي؟

په ملي او نړیواله کچه ځینې داسې اداري شته چې له مصیبت ځپلو سره په ځانګړې توګه له هغو کسانو سره چې د طبیعي افتونو (زلزلو، سیلابونو او نورو) او جګړو له امله زیانمن شوي، مرستې کوي. په دې ډول خیریه ادارو کې یوه هم ((سره میاشت)) ده چې دلته یې په دې لوست کې درپېژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېوزلو او محتاجو وګړو ته د خوراک، څښاک، استوګنې، روغتیا، ښوونې، روزنې، کارکسب او داسې نورو شیانو برابرول د مرستندویه او خېریه ټولنو دندې دي.

دا خیریه او مرستندویه ټولنې هم په نړیواله او هم په ملي کچه د نړۍ په هېوادونو کې موجودې دي. له دغو مرستندویه ټولنو څخه یوه هم ((سره میاشت)) ده چې د نړۍ په ټولو هېوادونو کې شته او په بېلا بېلو نومونو یادېږي.

د مثال په ډول په عربي هېوادونو کې یې د ((هلال احمر)) او په لویدیځه نړۍ کې یې Red Cross ((سور صلیب)) بولي.

د دې مرستندویې ټولنې لومړنی بنسټ په ۱۸۶۴ م. کال د نولسمې پېړۍ د جګړو په بهیر کې کېښودل شو چې په بشري ټولنه کې ډېره مرګ ژوبله شوې وه. موخه یې د جګړو پر مهال د ټپیانو، د جګړې له بندیانو سره مرسته کول وو. لومړی سړی چې ددغسې یوې ټولنې د جوړولو فکر ورسره پیدا شو، د سویس د هېواد استوګن هانري دونانت نومیده چې له همدې امله د دغې مرستندویې ټولنې د بنسټګر ویاړ ورپه برخه شوی دی.

زموږ په هېواد کې هم دغه مرستندویه ټولنه له ډېرو کلونو را هیسې شته او په بېلابېلو نومونو یاده شوې ده.

لومړی ځل چې په ۱۳۰۸ هـ . ش. کال تاسیس شوه، د ((مجلس امداد یه)) په نوم ونومول شوه. په ۱۳۱۱ هـ . ش. کال یې ورته د ((محراب احمر)) نوم ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۳۱۳ هـ . ش. کال یې نوم ((هلال احمر)) شو او په ۱۳۳۰ هـ . ش. کال د ((افغاني سرې میاشتې ټولنه)) ونومول شوه.

د افغانستان د ((سرې میاشتې ټولنه)) په ۱۳۳۴ هـ . ش. کال د سره صلیب د نړیوالې کمیټې له خوا په رسمیت وپېژندل شوه او د دغې نړیوالې ټولنې غړیتوب یې تر لاسه کړ.

په نړیواله کچه په اسلامي هېوادونو کې د دغې مرستندویې ټولنې د پېژندنې لوېه نښه هلال یا میاشت ده چې سور رنګ لري او په غیر اسلامي هېوادونو کې د دې ټولنې نښه په سپینه ځمکه باندې د صلیب علامه ده چې هغه هم سور رنګ لري او ((سورصلیب)) یې بولي.

سور صلیب یوه نړیواله مرستندویه ټولنه او اداره ده. هر چېرې د جګړې له قربانیانو، غم ځپلو او بېوزلو سره ډول ډول مرستې کوي. دا ټولنه د چا عقیدې، رنګ، ژبې او توکم ته نه ګوري. هر څوک چې هر چیرې مرستې ته اړوي، د هغوی د مرستې لپاره ځان رسوي او خپلې مرستې د هغوی په واک کې ورکوي. همدارنګه د بېلا بېلو افتونو، زلزلو، او سیلابونو په وخت کې هم له زیانمنو کسانو سره مرستې کوي.

د جګړې پر مهال د دې ټولنې روغتیایي ډله د ټپیانو درملنه کوي. او د علاج لپاره یې روغتونونو ته لیږدوي. د جګړې د بندیانو او ورکو شوو کسانو احوال معلوموي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی لیکونه او پیغامونه یې کورنیو او خپلو خپلوانو ته رسوي، یا د هغوی د تبادلې په برخه کې هم مرسته کوي.

د سره صلیب یا هلال احمر له نړیوالې ټولنې یا کمیټې سره د ټولې نړۍ هېوادونه له خپل وس او توان سره سم مرسته کوي. هغوی بیا مرستې د نړۍ بېلا بېلو هېوادونو او ولسونو ته د اړتیا په وخت کې رسوي او په دې ډول خپله بشري ټولنیزه دنده ترسره کوي. په ټوله نړۍ کې د بېلا بېلو هېوادونو دولتونه، عام خلک او په تېره پانگه وال له خپلو داسې ټولنو سره مالي مرستې کوي.

زموږ د هېواد د سرې میاشتې ټولنې د خپل جوړېدو له پیل څخه د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د طبیعي افتونو او جگړو د رامنځته کیدو له امله له مصیبت ځپلو او کډوالو سره تر خپله توانه لازمې مرستې کړې دي او دا لړۍ روانه ده. زموږ دغې ټولنې د هېواد په دننه کې له مرستو سربېره له هېواد څخه بهر هم مرستې کړې دي او خپله نړیواله دنده یې سرته رسولې ده، خو تر ټولو مهمه دا ده چې د سرې میاشتې ټولنه له مالي پلوه په پښو ودرېږي.

زموږ پانگه وال هېوادوال هم باید له دغې مرستندویې خیریه ادارې سره مالي مرسته وکړي او له دې لارې د سرې میاشت مالي بنسټ پیاوړی کړي چې مصیبت ځپلو او زیانمن شوو هېوادوالو او ان دا چې د نړۍ نورو خلکو ته پخپل وخت د مرستې رسولو جوگه شي.

په هېواد کې له مصیبت ځپلو او اړو خلکو سره مرسته کول یوازې د سرې میاشتې د ټولنې دنده نه، بلکې دا د هر بااحساسه انسان دنده ده چې له اړو خلکو سره په خپل توان له مرستې کولو څخه ډډه ونه کړي، ځینې به مالي مرستې ته اړه لري، ځینې به د یو بنه او هوسا ژوند لپاره لازمي لارښوونې ته اړه لري. په هر حالت کې هغوی مرستې ته اړ دي او باید له هغوی سره په انفرادي توگه او هم د سرې میاشتې او نورو خیریه ټولنیزو ټولنو له خوا مرستې وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

سره میاشت یو خیریه مرستندویه ټولنه ده چې له مصیبت ځپلو سره مرستې کوي. دا ټولنه زموږ په هېواد کې څولسیزې د مخه تاسیس شوې. لومړی د ((مجلس امدادیه)) بیا د ((محراب احمر)) وروسته د ((هلال احمر)) او په پای کې په ۱۳۳۰ هـ . ش. کال د سرې میاشتې په نوم ونومول شوه. دا ټولنه د سره صلیب د نړیوالې ټولنې غړیتوب لري. د نړیوالو مرستو او کورنیو مرستو او د خپلو ملکیتونو د عایداتو له مخې له اړمنو خلکو سره مرسته کوي.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې په وارسره د متن یو یو پراګراف ولولي.

۲ـ زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د متن د عمومي محتوا په رڼا کې دغه لاندې جمله اوږده کړي او د څو جملو یو عبارت دې ولیکي:

سره میاشت یوه خیریه مؤسسه ده چې له مصیبت ځپلو وګړو سره مرسته کوي. دا مرستې . . .

- خپل لیکلي عبارتونه دې د ټولګیوالو په وړاندې په لوړ غږ ولولي.

۳ـ دې لاندې پوښتنو ته ځواب ووایئ:

- د سرې میاشتې مرستندویې ټولنې بنسټ کله او ولې کېښودل شو؟
- سره میاشت زموږ په هېواد کې کله رامنځته شوې او په کومو کومو نومونو یاده شوې ده؟
- سره میاشت په کومو حالاتو کې له خلکو سره مرسته کوي؟
- که ستاسې په کلي یا سیمه کې کومه طبیعي پېښه رامنځته شي، له خپل توان سره سم به څه مرسته وکړئ؟

۴ـ ځینې زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راوبلل شي چې د درس د عمومي

محتوا او مفهوم په اړه خبرې وکړي.

۵ـ زده کوونکي دې په درېو ډلو وويشل شي: يوه ډله دې له متن څخه داسې کلمې را واخلي چې په ((س)) توري پيل شوې وي، بله دې په ((ت)) توري او بله دې په ((هـ)) توري پيل شوې کلمې له متن څخه پخپلو کتابچو کې وليکي او هغه دې په مناسبو جملو کې وکاروي.

۶ـ يو زده کوونکی دې د ګل پاچا الفت د شعر دا لاندې څو بيتونه په تخته وليکي او ځينې زده کوونکي دې پورته شي چې د هغو مفهوم په خپلو الفاظو ووايي:

ژاړي په غمونو کې خوا خوږي له هر چا سره
سل پتنګان سوزي د يوې شمعې ژړا سره
ډک زړګی له اوښکو ګرځي وريځې په اسمان کې بيا
څه ژړا ملګرې ده د ژوند يوې برېښنا سره
ټول باغ ژړېدلی څکه اوښکې دي د ګل په مخ
ډېر لکه لاله داغلي زړونه شته صحرا سره
نه ښايي انسان ته چې د بل په غم غمجن نه شي
لويه بدبختي ده چې څوک نه ژاړي له چا سره

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کور، کوڅې او يا کلي له مشرانو څخه وپوښتي چې که د دوی په يادداښت د طبيعي پېښو له مصيبت څېلو سره سرې مياشتې او يا کوم شتمن شخص کله مرسته کړې وي، هغه دې د يوې خاطرې په توګه وليکي او په بل پښتو درسي ساعت کې دې يې د ټولګيوالو په وړاندې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صدر خان خټک

تاسې پښتوژبې ته د خوشحال خان خټک د کورنۍ د ادبي خدمتونو په اړه څه اورېدلي دي؟

په يوولسمې او دولسمې هجري پېړيو کې پخپله خوشحال خان خټک او د هغه کورنۍ پښتو ژبې او ادب ته د ستاينې وړ خدمتونه کړي دي. دوی د منظومو او منثورو اثارو په ليکلو سره پښتو ادب ته ډېره بډاينه وربښلې ده. د خوشحال خان په زامنو کې څو تنه ډېر نوميالي شاعران تېر شوي دي. له هغو څخه يو يې صدرخان خټک دی چې په دې لوست کې يې در پېژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صدرخان خټک د پښتو د نومیالي شاعر او فرهنګپال شخصیت خوشحال خان خټک زوی و. د زوکړې کال یې په ځینو ادبي څېړنو کې ۱۰۶۵ هـ. ق. اټکل شوی دی.

د صدرخان زده کړه او د ښوونې او روزنې بهیر د خپلې علمي فرهنګي کورنۍ په چاپېریال کې، په ځانګړې توګه پخپله د خوشحال خان خټک په لاس تر سره شوی دی.

صدرخان پخپله هم دې ټکي ته اشاره کوي:

زما پلار ځای یې جنت شه — په اولاد یې برکت شه
تربیت یې ډېر زما کړ — هر تعلیم یې وما را کړ
په تعلیم یې سخندان کړم — په ویل یې سخن ران کړم
چې یې درست په دافنون کړم — په ویل یې نور ما ذون کړم

صدرخان خټک د خټکو د کورنۍ یو عالم او فرهنګیالی شخصیت و. پیاوړې علمي او ادبي څېره یې موږ ته د هغه له خپلو راپاتې منظومو اثارو څخه ډېره ښه راجوتېدلی شي.

نوموړي پخپلو شعرونو کې له خپل نامه سره «خوشحال» د تخلص په توګه راوړی او له همدې امله د «صدرخوشحال» په نوم له ادبي شهرت څخه برخمن شوی دی.

له صدرخوشحال څخه ځینې منظوم لیکلي کتابونه راپاتې دي. په هغو کې یو «دلی او شهی» نومیږي. دا یوه ملي ولسي کیسه ده چې په ۱۱۱۰ هـ. ق. کال په نظم شوې ده. بل کتاب یې د «ادم خان درخانی» مشهوره ولسي کیسه ده. دایې په ۱۱۲۴ هـ.ق. کال په نظم لیکلې ده. دا دواړه اثار یې د پېښور پښتو اکاډمي له خوا چاپ شوي دي. نوموړي د «معجزات رسولﷺ» او «د حضرت علي جنګنامه» په نومونو دوه نور منظوم کتابونه هم لري چې قلمي نسخې یې شته، خو تر اوسه چاپ شوي نه دي.

صدرخان د اشعارو دیوان هم درلود، خو تر اوسه تر لاسه شوی نه دی، ځینې خواره واره شعرونه (غزلې، قصیدې او مخمسونه)(*) یې شته دي چې موږ ته د نوموړي د شعر

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ادب د قوت ښه څرګندویي کولای شي.

صدرخان خټک په ځوانۍ کې له خپل پلار سره د ملي مبارزې د ډګر او سنګر ملګری و. وروسته یې بیا د افضل خان خټک د سردارۍ پر مهال په ۱۱۲۰ هـ . ق . کې د تیري د فوجدار دنده ترسره کوله.

د صدرخان خټک ژوند تر ۱۱۲۴ هـ . ق. کال پورې باوري دی. تر دغه کاله پورې افضل خان خټک د خپل اثر ((تاریخ مرصع)) د پیښو په بهیر کې د ده نوم راوړی دی. تر دې وروسته بیا نه ده جوته چې تر کومه پورې به ژوندی و. دلته د بېلګې په توګه هغه شعر راوړو چې د خپل پلار (خوشحال خان خټک)په مړینه یې د ویرنې په ډول ویلی دی:

نور دې وارو فرزندانو درته شا کړه
مګر ستا په خدمت ما ترلې ملا ده
که دې نور اولاد دولت وګاڼه مور ته
لویه ګټه د دولت د تا رضا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ته ولاړې زه دې وسپارلم غم ته
دا دې لويه غمخواري کړې زما ده
چې ستا غم په سر لرم زما څه غم دی
ستا د غم سايه زما په سر هما ده
ستا لر غم به زه هرگز پرې بدل نه کړم
په دنيا چې څه هوس خوبنې هوا ده
ته مړ حوت کې سنه زر سل دويمه خور وه
ورځ جمعه د څابنت په وخت دې بيله سا ده
لا به کله شي سبا ((صدر خوشحاله))
د آشنا د ديدن ژمنه په سبا ده

څرگندوني

غزل: د نظم يو ډول دی چې د بيتونو شمېر يې له پنځو څخه تر پنځلسو پورې وي. ټول بيتونه يې په يو وزن وي او د قصيدې په څېر په قافيه کې له مطلع څخه پېروي کوي. لومړي بيت ته يې ((مطلع)) او وروستي بيت ته يې ((مقطع)) وايي.

قصيده: لغوي معنا يې قصد او اراده ده او په ادبي اصطلاح د نظم هغه ډول دی چې تر يوې مطلع لاندې ويل کېږي. د بيتونو شمېر يې معمولاً تر غزل زيات له شپاړسو بيتونو تر ۲۰۰ پورې او يا له هغو نه زيات هم رسيدلی شي. هره قصيده يوه مطلع، مقطع، نسيب او تشبيب (تغزل) هم لري.

مخمس: د شعر يو ډول دی چې مطلع او بندونه يې پنځه پنځه مسرۍ لري. پنځه واړه مسرۍ يې يو ډول قافيه لري. بندونه يې پنځه په يوه قافيه او شپږم له مطلع سره هم قافيه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

د خوشحال خان خټک د فرهنګياليو زامنو په ډله کې صدرخان خټک هم د لوړعلمي او فرهنګي شخصيت خاوند دی. نوموړی په علمي شخصيت سربيره، پياوړی شاعر هم و. په شعرونو کې يې خپل نوم صدر خوشحال راوړی دی. له ده څخه د ((دلی شهی))، ((ادم خان درخانی))، ((معجزات رسول)) او ((د حضرت علي جنګنامه)) په نومونو منظوم ليکلي اثار راپاتې دي. د اشعارو د يوان يې تراوسه لاس ته نه دی راغلی. خواره واره شعرونه يې شته دي. تر ۱۱۲۴ هـ . ق. کال پورې يې ژوند باوري دی.

فعاليتونه

۱_ زده کوونکي دې متن په خپل خپل وار په لوړ غږ ولولي.

۲_ زده کوونکي دې په دوو ډلو ببل کړای شي: يوه ډله دې له متن څخه ((خاص نومونه)) او بله ډله دې ((صفتونه)) لست کړي. د دواړو ډلو استازي دې هغه ټولګي په وړاندې ولولي.

◆ بيا دې د يوې ډلې استازی يو يو خاص نوم پرتخته وليکي، د بلې ډلې زده کوونکي دې هغه په مناسبه جمله کې وکاروي.

◆ د بلې ډلې استازی دې لست کړي صفتونه پرتخته وليکي او د هغې بلې ډلې يو يو تن دې هغه په مناسبه جمله کې وکاروي.

۳_ ځينې زده کوونکي دې د متن د مفهوم او محتوا په اړه زده کړې معلومات نورو ټولګيوالو ته ووايي.

۴_ دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه وواييږ:

◆ صدرخان خټک کوم کتابونه ليکلي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- تاسي د صدرخان د ادبي شهرت لامل څه ګڼئ؟
- په متن کې د صدرخان خټک له لومړي شعر څخه مو څه مفهوم واخیست؟

۵_ د دې لاندې پوښتنې سم ځواب په پنسل په نښه کړئ:

الف: دلۍ او شهۍ منظومه کیسه خوشحال خان خټک لیکلې ده.

ب: عبدالقادر خان خټک لیکلې ده.

ج: صدرخان خټک لیکلې ده.

د: له دې پورته شاعرانو څخه یوه هم نه ده لیکلې .

- د لاندې جملو په تشو ځایونو کې مناسبې کلمې وکاروئ:
- صدرخان خټک د .... زوی و.
- ادم خان درخانی .... په نظم لیکلی دی.
- صدرخان تر .... کال پورې ژوندی و.

کورنۍ دنده

د خپلې سیمې د کوم پیژندلي شاعر د ژوند او شعر په هکله په کور کې لنډ معلومات ولیکئ او د بلې ورځې په پښتو درسي ساعت کې یې د ټولګیوالو په مخکې ولولئ.

> ادبیات یوازې شعر او نثر نه دی، هر څه چې په لوستونکو او اورېدونکو مثبته اغېزه وکړي، پخپله د ادب یو ډول دی.
>
> (اناتول فرانس)

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته ویشتم لوست

د ولسي ادب ډولونه او ځانګړتیاوې

■ تاسې په خپله سیمه کې داسې څوک پېژنئ چې نالوستي وي، خو شعرونه وایي؟

■ داسې څوک درمعلوم دی چې کله کیسې وایي نارې او غږونه هم پکې په خواږه غږ وایي.

هر ولس دوه ډوله ادبیات لري: یو یې هغه لیکلي ادبیات دي چې په ټولنه کې د باسواده لوستو وګړو له خوا رامنځته یا ویل شوي، لیکل شوي او خوندي شوي دي. او بل هغه ادبیات دي چې د ټولنې د نالوستو یا بې سواده او عامو ولسي وګړو له خوا رامنځته یا ویل شوي او په شفاهي بڼه له یو نسل څخه بل ته لېږدېدلي وي. دې ادبیاتو ته ((ولسي ادبیات)) وایي چې په دې لوست کې پرې په لنډ ډول بحث کوو او د هغو د بېلا بېلو ډولونو نومونه درپېژنو.

ولسي ادبياتو ته شفاهي او فولکلوري ادبيات هم وايي. دا ادبيات د هر ولس او ټولنې د ادبياتو د تاريخ ستره او مهمه برخه جوړوي.

پښتون ولس د افغاني ټولنې د يوې سترې برخې په توګه د ولسي ادبياتو ډېره بډايه او ارزښتمنه پانګه لري. زموږ خلکو د پېړيو په اوږدو کې خپلې ډېرې هيلې، ارمانونه، غوښتنې، خوښۍ، غمونه، مينې او د ټولنيز ژوند نور ډېرکره وره په خپلو ولسي ادبياتو کې منعکس کړي دي او هغه بيا په شفاهي ډول له يو نسل څخه بل ته ليږديدلي او تر موږ رارسيدلي دي.

عام ولسي وګړي که څه هم ډېر يې ليک لوست نشي کولی، خو پياوړی هنري او ادبي ذوق لري. دوی خپل دغه ادبي ذوق د ولسي ادبياتو په بېلو بېلو کالبونو کې ځايوي، پيښې او موضوعات په ډېره ساده، خوږه ژبه او په زړه پورې بڼه بيانوي.

د پښتو ولسي ادبيات لومړی په دوو سترو برخو وېشل کېږي:

منظوم ولسي ادبيات، نثري ولسي ادبيات

لومړي ـ منظوم ولسي ادبيات:

د ولسي ادبياتو منظومه برخه زموږ د ولس د هنري او ادبي استعداد ډېره په زړه پورې ارزښتناکه معنوي شتمني او پانګه ده. د ادبياتو دا برخه موږ د خپل ولس د ټولنيز ژوند يوه رښتينې هنداره بللی شو.

د پښتو منظوم ولسي ادبيات په دوو څانګو وېشل کېږي: يوې ته يې عام ولسي شعرونه يا سندرې وايي او بلې څانګې ته يې خاصې ولسي سندرې يا شعرونه وايي.

عام ولسي شعرونه يا سندرې: هغه شعرونه دي چې شاعر يا ويناوال يې معلوم نه دي او د ټول ولس ګډ مال بلل کېږي. په دې شعرونو کې دا لاندې ډولونه شامل دي:

(۱) د ميندو سندرې (۲) د ماشومانو سندرې (۳) منظوم اړونه (چيستانونه) (۴لنډۍ (۵) سروکي (۶) د اتڼ نارې (۷) د نکلونو نارې (۸) کاکړۍ غاړې (۹) تاريخي نارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۰) منظوم فالونه (۱۱) منظوم متلونه (۱۲) د ښځو سندرې او نور.

خاصې ولسي سندرې: دا هغه سندرې یا شعرونه دي چې ویناوال او شاعران یې په ولس کې معلوم او پیژندل شوي وګړي دي.

دا شعرونه دا لاندې ډولونه لري:

(۱) رباعي (مقام) (۲) غزل (بدله) (۳) چاربیته (۴) لوبه(۵) بګتۍ (۶) داستان

دویم ـ نثري ولسي ادبیات:

ولسي نثرونه هغه اوږدې او لنډې خوږې ادبي ویناوې دي چې په ولس کې رامنځته کیږي. دغه ویناوې د ټول ولس له خوا کره او پخې شوې او بیا خوله په خوله، سینه په سینه د پیړیو په اوږدو کې له یو پښت یا نسل څخه بل ته لېږدېدلي دي.

د پښتو منثور ولسي ادبیات ډېر ډولونه لري، څو مشهور یې دا دي:

(۱) ولسي نکلونه (۲) وړې ولسي کیسې (۳) منثور متلونه (۴) اصطلاحات او محاورې (۵) ټوکې ټکالې (۶) ولسي ننداره (۷) رمزونه او کنایې (۸) تکیه کلامونه (۹) کرکې او انګیرنې (۱۰) سترې مه شې او په مخه ښه (۱۱) دعاوې او ښېراوې (۱۲) کیسۍ (۱۳) روایات او نور.

موږ د ولسي ادبیاتو د منظومو او منثورو برخو لنډه پیژندنه وکړه او د هغو د بېلا بېلو ډولونو مو یوازې نومونه واخیستل، د بېلا بېلو ډولونو پوره پیژندنه او بېلګې به یې په وروسته لوړو ټولګیو کې ولولئ. دلته د دې ادبیاتو ځینې ډېرې عامې ځانګړنې هم درپیژنو:

۱ـ ولسي ادبیات د موضوع په لحاظ د ولسي او کلیوالي ژوند او ټولنیزو اړیکو ښه څرګندويي کوي. ولسي کلیوال ژوند او چاپیریال پکې منعکس کیږي.

۲ـ د ولسي ادبیاتو (نظم او نثر) ژبه ډېره ساده، سوچه او د خلکو له ورځنۍ محاورې سره برابره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳_ په دې ادبياتو کې ډېرې لوړې مبالغې او له حقيقته لېرې خبرې نه ليدل کېږي.

۴_ د پرديو ژبو اغېزې په دې ادبياتو کې ډېرې کمې دي.

۵_ دا چې د دې ادبياتو زياته برخه د نالوستو او بېسواده وګړو د ذهن او فکر محصول ده او رامنځته کوونکي يې په ولس کې اوسېږي د خپل ژوند د چاپېريال زيات مسايل پکې کټ مټ انعکاس مومي.

۶_ په ولسي ادبياتو کې ښکلی والی، رښتينوالی او اسانوالی په ډېره ښه بڼه ځان ښکاره کوي.

دا چې زموږ ولسي ادبيات زياتره په ولس کې په ناليکلې بڼه خواره واره شته، د دې لپاره چې له هېرېدنې او ورکېدنې وژغورل شي، بايد چې د هغو راټولولو او په کتابي بڼه چاپ او خپرولو ته ځانګړې پاملرنه وشي.

دلته د ولسي منظوم ادب له ډولونو څخه د چاربيتې، نيمکۍ او بګتۍ څه برخې د بېلګې په توګه راوړو:

۱_ چاربيته: د پښتو د ولسي شعرونو يو مشهور او په زړه پورې ډول دی چې اوږده اوږده حماسي او عشقي ډول ډول مضامين په کې راوړل کېږي. يو سر لري او ورپسې بندونه راځي. د هر بند په پای کې قافيه تکرارېږي:

سر: په چپ کې ډال په ښي خنجر نيسمه — غليم ته مخه برابر نيسمه

يا به له صدقه خپل وطن شي زما — يا به په سرو وينو کفن شي زما

×××

بند: په دروغو نه دي دغه لاپې زما — په غوږو واوره واره پاکې زما

که چېرې بريد مې يو ځل راغی په تا — پوه شه اجل دی دا چې راغی په تا

ماته وصيت د مور او پلار شوی دی — په يو ځل نه په څو څو وار شوی دی

د ننګ پر ځای ورکوئ سر زامنو — مختورن مه شئ په محشر زامنو

وصيت د پلار به ګاهې هېر نه کړمه — څو ځان د هغه پلار په څېر نه کړمه

کله به هېر د پلار سخن شي زما — يا به په سرو وينو کفن شي زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲_ نیمکۍ: دا یو ډول ولسي شعر دی چې له لنډیو سره یو ځای ویل کېږي. دوه مسرۍ وي چې کله دواړه برابرې او کله یوه لنډه او بله اوږده وي.

بېلگه: پاس په باړه کې اوبه گډې وډې ځینه شینواري لونگینه

۳_ بگتۍ: د پښتو یو غوره او خوږ ولسي شعر دی. د چاربیتو په څېر یو سر لري چې په عمومي ډول یو بیت وي. دا شعر له ساز سره په ډېره تېزه او خوندوره بڼه ویل کېږي.

لاړه د گودر په لورې ما ویل ارمان دی
دې ویل خفه نه شې یاره خدای مهربان دی
لاړه د گودر په لورې قدم په ناز کا
مسته خیالي گره جلۍ دورې د باز کا
نن یې رقیبان بللي ورسره راز کا
مړ به شم طاعون به مې شي مرض گران دی

د متن لنډیز:

ولسي ادبیات د هر ولس د ادبیاتو د تاریخ یوه ځانگړې او ډېره مهمه برخه جوړوي. دا ادبیات هم په لومړي سر کې په نظم او نثر بېلېږي او بیا هره برخه یې ځانته بېل بېل ډولونه او شکلونه لري. ولسي ادبیات یو لړ داسې ځانگړنې لري چې د هغو له مخې له نورو لیکلو ادبیاتو څخه بېلېږي. د دې لپاره چې د دغو ادبیاتو زیاته برخه نالیکلې ده، باید چې راټوله او له ورکېدو او هېرېدو څخه وژغورل شي.

فعالیتونه

۱_ ځینې زده کوونکي دې متن د نورو ټولگیوالو په وړاندې په لوړ غږ ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲_ ټولګی دې په دوو ډلو وویشل شي. یوه ډله دې د منظومو ولسي ادبیاتو ډولونه لست کړي او بله دې د منثورو ادبیاتو د بېلا بېلو ډولونو نومونه ولیکي. بیا دې د هرې ډلې استازی هغه د ټولګي په وړاندې ولولي.

۳_ زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راوبلل شي چې د ولسي ادبیاتو په اړه خپل معلومات وړاندې کړي.

۴_ دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایئ:

- ولسي ادبیات په نورو کومو نومونو یادېږي؟
- ولسي ادبیات کومې ځانګړتیاوې لري؟
- ولسي شاعران معمولاً کوم وګړي وي؟
- عام ولسي شعرونه او خاص ولسي شعرونه څه توپیر لري؟
- د نثري ولسي ادبیاتو مشهور ډولونه کوم دي؟

۵_ په لاندې جملو کې تش ځایونه په مناسبو کلمو په پنسل سره ډک کړئ:

- ولسي شاعران زیاتره .... وګړي وي.
- ولسي ادبیاتو ته .... یا .... ادبیات هم وایي.
- هغه ولسي شعرونه چې شاعر یې معلوم وي .... ورته وایي.
- هغه ولسي شعرونه چې .... یې معلوم نه وي .... یې بولي.

۶_ متن په غور ولولئ، صفتونه پکې په نښه او پخپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې پخپله خوښه یوه فولکلوري کیسه، یا څو لنډۍ او یا هم څو متلونه ولیکي، په راتلونکي پښتو ساعت کې دې یې د ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

وییپانگه (لغتونه)

((الف))

اجتماع: ټولنه

احسن تقویم: په ښکلي بڼه او صورت

اخوت: وروري

ارکسترا: ډله ییزه موسیقي

ازل: هغه وخت چې پیل یې نه وي معلوم

استازی: نماینده

استازیتوب: نماینده گي

اسعار: پیسې

اغیزناک: تاثیرلرونکی

افت: مصیبت، غم

افراط: زیاتوب، له اندازې زیات

اقلیم: اب وهوا

امان: امن

اندړ: یوه پښتني قبیله ده

انس و جن: انسان او پیری

انځورگري: رسامي

اوس مهال: حال، اوس زمانه

ایین: لار، مسلک، عقیده، دین

اڅکزی: یوه پښتني قبیله ده

اړه: ارتباط

اړوندتیا: مربوطوالی

اړینه: ضروري

((ب))

بارکزی: یوه پښتني قبیله ده

برخلیک: سر نوشت

برخمن: برخه وال، ونډه لرونکی

برهم: ګډوډ

بنسټ: بنیاد، تهداب

بهیر: جریان

بوختیاوې: مشغولیتونه

بوستان: بڼ، باغ

بډای: شتمن، غني

بډاینه: شتمني

بډایي: شتمني

بڼه: شکل

بېلګه: مثال

((پ))

پانګه وال: سرمایه لرونکی

پانګه: سرمایه، شتمني

پراګراف: د لیکنې یوه برخه

پردیس: مساپر

پرمختیا: پرمختګ، وده

پرېکړه: فیصله

پلازمینه: پایتخت

پوښلی: پوښل شوی

پیاوړی: قوي، ځواکمن

پیرودل: اخیستل، رانیول

پړاو: مرحله

پښ: اهنګر

پېژندګلوي: پېژندنه

((ت))

تجمل: ښکلي کیدل، سینګار شوی

ترکیب: ګډون، یو ځای شوی

تصمیم: هوډ، اراده، عزم

تصویب: پریکړه، فیصله، حکم کول

تعادل: برابري

تمنا: هیله، ارزو

توربخن: تور ته ورته

توغندی: راکټ

توکم: نسل، نژاد

تېر مهال: تېره زمانه

((ټ))

ټاکلی: تعیین شوی

ټاټوبی: هېواد، د اوسیدنې ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولګیوال: هم صنفیان

ټولنیز: اجتماعي

ټولګه: مجموعه

((ج))

جاویدان: همیشنی، تلپاتې

جلا وطني: له هېواد څخه لیرې کېدل

جنون: لیونتوب

جوتیږي: معلومیږي، څرګندیږي

جوګه: سیال، وړ

((ځ))

ځانګړنه: ځانګړتیا، خصوصیت، خاص والی

ځپلی: ټکول شوی، وهل شوی، خوار، غمجن

ځواک: قوت، زور

ځواکمن: د زرو او قوت خاوند

((څ))

څانبت: کچه غرمه

څرګندتیا: معلوموالی

څیړنې: تحقیقات

څښتن: خاوند

((چ))

چاپېریال: محیط، شاو خوا، ماحول

چاروواکي: د واک او صلاحیت خاوند

چمتو: برابر، اماده

چور: غلا، تالا

((ح))

حمد: د خدای ﷻ ستاینه

حمدیه: ستاینیز شعر او وینا

((خ))

خواخوږي: همدردي

خواره واره: تیت پرک

خواشیني: خپګان

خوندي: محفوظ، ساتل شوی

خیریه: خیر رسوونکی

((د))

درناوی: درنښت، احترام

دریځ: موقف

دستور: حکم

دهشت: ویره، ډار

(c) ketabton.com: The Digital Library

دود: رواج

((ډ))

ډالى: سوغات، تحفه

ډبرين: له ډبرې جوړ شوى

ډله ييز: گروپي، په گډه

ډگر: ميدان

((ذ))

ذات: اصل، ماهيت، وجود

((ر))

راتلونکى مهال: راتلونکى وخت/زمانه

رانغښتى: رانغاړلى، راچاپير کړى

ربړول: ځورول

رعايت: مراعت کول، په پام کې نيول

رفاه: سوکالي، هوساينه

رنځ: ناروغي

روحاني: مذهبي لارښود

روزنيز: تربيتي

روږدى: عادت، معتاد

((ز))

زغمل: تحمل کول

زنار: د غاړې پړى او رسى

زوال: له برمه لويدل يا غورځېدل

زوکړه: زيږيدنه

زيار: زحمت، کوښښ، هڅه

زيان: تاوان

زيرمې: ذخيرې

زيور: گاڼه

زړه بوږنونکى: زړه ربړدونکى

((ژ))

ژباړه: ترجمه

ژغورل: ساتل

ژوبله: ټپي کول، زخمي کول

((س))

سايه: سيورى

سپارښتنه: سفارش، تاکيد او ټينگار

ستايل: صفت کول

ستاينه: صفت

ستونزمن: له مشکلاتو ډک

ستونزه: مشکل

سرليک: عنوان

(c) ketabton.com: The Digital Library

سعادت: نېکمرغي

سلب: په زور اخيستل

سمبالبنت: سمبال شوی، مجهز شوی

سمسور: ښيرازه، تازه

سملاسي: فوري، سمدواره

سوکاله: ارام، هوسا

سويل: جنوب

سوړ: يخ

سياستوال: سياست مدار

سيمه: منطقه

((ش))

شاکر: شکر کوونکی، خوښ

شتمن: بډای، د مال او شتو خاوند

شخړې: جګړې، جنجال، لانجې

شفاهي: په خوله ويل

شفيع: شفاعت کوونکی

شهرت: مشهورتيا

شهکار: ډېر ښه، لوړ او عالي کار

((ښ))

ښکېل: ننبتي

ښيګڼې: ګټې، نېکی

((ص))

صدمه: زيان، ضرر

((ط))

طراوت: ښيرازي، تازه ګي

((ع))

عاطفه: مهرباني، زړه سوی

عجب: حيرانوونکی

عدم: نشتوالی

عرف: رسم و رواج، عنعنه

عظيم: لوی

عنعنات: دودونه، رواجونه

((غ))

غچ: انتقام، کسات

غور: تاکيد، دقت

((ف))

فرشتې: ملايکې

فرهنګپال: فرهنګپالونکی، د فرهنګ خدمتګار

(c) ketabton.com: The Digital Library

فضل: نیکي، احسان

((ق))

قدیم: پخوانی

قیامت: محشر،وروستی، له مړیني وروسته د راپورته کیدو ورځ

((ک))

کارنامې: لوړکارونه، مهم کارونه

کارو بار: کارکسب

کالبونه: چوکاټونه

کتابتون: کتابخانه

کچه: اندازه، سطحه

کرباس: خامتا

کرکه: نفرت

کرم: احسان

کره‌کتونکی: نقدکوونکی

کره: پوره

کلتور: دود، دستور، ثقافت، فرهنگ

کنډواله: شاړ او ویجاړکور

کرم: غوځ

کړه وړه: سلوک، رویه

((گ))

گاونډ: څنگ ته، څیرمه

گوهر: مرغلره

گواښ: تهدید، خطر

((ل))

لارې چارې: دکارونو د سرته رسولو طریقه او وسیله

لرغونی: پخوانی

لنډیز: لنډون، اختصار

لودي: یوه پښتنې قبیله ده.

لورینه: پیرزو

لیوالتیا: ډیره مینه، او علاقه

لیږدېدنه: انتقال

لړی: سلسله، پرله پسې والی

((م))

مانې: ودانی

مبالغې: له اندازې او حد نه زیاتې یا پورته خبرې

مبتلا: اخته

مترادفې: ورته، یو شان

محصول: حاصل، لاس ته راغلی څیز

محور: مرکز

مدنیت: تمدن

مدهش: ویره اچوونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرستندوی: مرسته‌کوونکی

مرستیال: معاون

مصنوعي: په لاس جوړ شوی

معاصر: اوسنی، هم عصر

معاصرین: هم مهالي، په یوه زمانه‌کې اوسیدونکي

مفرد: یو، ځانله

مفکوره: فکر، نظریه

مقدمې: لومړی، لومړیتوب

مقصر: ګناهګار

مقید: تړلی، محدود

ملتیا: ملګرتیا

منظوم: نظم شوی، په شعر ویل شوی

منعکس: راغبرګیدل، راستنیدل، انعکاس

مهال: وخت

موازنه: برابری، انډول

موخه: هدف

مېشت: استوګن، اوسیدونکی

مینه وال: علاقمندان

((ن))

نامتو: مشهور، نومیالی

ناهیلی: مایوس

نشه ییز: نشه راوړونکی، نشه‌کوونکی

نغښتی: پیچلی، راتاوشوی

نقصان: زیان

نوماند: نومیالی، د نوم او شهرت خاوند

نومیالی: د نوم او شهرت خاوند، مشهور

نیازی: د پښتنو یوه قبیله ده.

((هـ))

هستي: وجود

هلې ځلې: هاند او هڅې، کوښښ

همنوا: همغږی

هوسا: سوکاله

هڅه: کوښښ

((و))

واصفان: ستایوونکي، صفت‌کوونکي

واورین: واوره لرونکی

واویلا: شور او غوغا

واټنونه: فاصلې

وربن: پراخ، پرانیستی

ونډه: برخه

ویاند: نطاق

ویاړ: افتخار

ویجاړ: وران، ړنګ

ویرنه: مرثیه، د غم څرګندول

وینا وال: ویناکوونکی، ویونکی، شاعر

وړ: لایق، مناسب

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخځلیکونه:

۱_ د یونس دیوان، د عبدالله بختاني خدمتګار په زیار، کابل چاپ.
۲_ خواږه نعتونه، فقیر محمد عباس قادریه، پیښور چاپ.
۳_ د پښتني قبیلو جزایي، حقوقي اصلاحي قاموس، محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان علومو اکاډمي د پښتو څیړنو نړیوال مرکز.
۴_ پښتني لاربنود، پوهاند صدیق الله رښتین، یونیورستي بک ایجنسي پیښور.
۵_ د پښتو ژبې لنډ ګرامر، محقق سید محی الدین هاشمي، د اریک ګرځند کتابتونو اداره.
۶_ خیالي دنیا، قیام الدین خادم، پښتو ټولنه، کابل.
۷_ اریانا دایرة المعارف، دویم چاپ، د افغانستان د علومو اکاډمي.
۸_ ګنج پښتو، مولوي احمد، پېښور.
۹_ ګیتانجلي، عبدالرؤف بینوا، پوهاند عبدالشکور رشاد په سریزه، درېم چاپ.
۱۰_ له تنباکو تر هیروینو پورې، سرمحقق نعمت الله اندړ، د اریک د ګرځنده خپرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اداره.
۱۱_ په افغانستان کې د ژوند د چاپېريال ساتنه، پوهاند داکتر حسن يار، د اريک د ګرځنده کتابونو اداره.
۱۲_ فرهنګ ادبيات جهان، زهرا خانلري، شرکت انتشارات خوارزمي، ايران.
۱۳_ د بشر د حقوقو د نړيوالې اعلاميې د اصلاحاتو تشريح، ملک ستيز، د هاشمي ژباړه، د بشر د حقوقو او مدني ټولنې شبکه، کابل.
۱۴_ د افغانستان مشاهير، محقق سيد محی الدين هاشمي، د اريک د ګرځنده کتابتونو اداره، پېښور.
۱۵_ په افغانستان کې لرغونې کلاګانې، پوهاند رازقي نړيوال، کابل.
۱۶_د الفت مرغلرې (شعري کليات) ګل پاچا الفت، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور.
۱۷_ پټه خزانه، محمد هوتک، د پوهنې وزارت، کابل.
۱۸_ د افغانستان د ولايتونو جغرافيه، پوهاند غلام جيلاني عارض، د اريک د ګرځنده کتابونو اداره، پېښور.
۱۹_ اريانا دايرة المعارف، څلورم ټوک، اريانا دايرة المعارف ټولنه، کابل.
۲۰_ د صدر خوشحال ژوند او اثار، زرين انځور، پښتو اکاډمي، پېښور.
۲۱_ د پښتو ادبياتو تاريخ (لرغونې او منځنۍ دوره) سرمحقق زلمی هېواد مل، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور.
۲۲_ زاهد پښتو- پښتو سيند، عبدالقيوم زاهد مشوانی، دانش خپرندويه ټولنه.
۲۳_ فرهنګ تشريحي، داکتر حسن انوري، کتابخانه ملي ايران.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library